"بِسـمِ أآألَلَّهِـ أآألَـرِحـمَنْ أآألَـرِحـيَم"



(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي په ژمي کې چې کله لېوان ښکار پیدا نکړي او سخت وږي شي، نو بیا ټول یو ځای کې سره راټول شي! یوه گردي دائِره جوړه کړي او یو بل ته په ننداره شي. څنګه چې یوه لېوه د کمزورتیا له امله وغورځېږي، نو پاتې ټول لېوان پرې حمله وکړي او پاک یې سره وخوري، دې کار ته په فارسي کې گُرگِ آشتي وايي.

د هغه دوه غټ لرګیو څخه یوڅه لږ لمر زما په سترګو لګیدی، او سترګی راته یوڅه پریشانه کول. آسمان پاک او صاف وو یوازې دوه دری شنی وریځی اخوا دیخوا گرځیدی.د ادی غږ د حویلی څخه راتلي چی ناری وهل.

ادی- ژر راشه هوسۍ یو دوه ساعتو کی جلیل دوي راځی او موږ هیس شی ندی تیار کړی.

په راحته خیال می خپل د پوهنتون چپتِرونه سره واړول، او د رحمان بابا د شعر پرلیدو مي په مسکا باندی شعر ځان سره زمزمه کړو او په زړه کی مي وویل "زما خاوند خو ندی راروان چی وغواړم ورته تیاری ونیسم! د آسما میره دی هغه دی ورته کار وکړی پر ما یي څه؟ "خپل د سر ټیکری مي یو څه د سر څخه لری کړو، چی همغه وخت قرار شمال شو او ویښتیان یی راته پر مخ ښواره کړه. چی بیا د ادی غږ پورته شو.

ادی- هوسۍ! تاته وایم سپین سترګی چیرته لاړی؟
په اندې وګرځیدم او په خندا می د رحمان بابا شعر ځان سره زمزمه کوو.
-زه رحمان په سل حلقو د زلفو بند یم، لا د پاسه سور پیزوان شه بله نتَ...

چی دا ځل ادی په لوړ غږ ناری کړل: هوسۍ ځواني مرګه شي ته جنۍ، مګر زما لاس به تاته ونه رسیږی بیا دی سر په کوم کتاب کي دی چي زما غږ نه آوری؟

د شعر ویلو څخه مي لاس واخیستي خپل ټیکری مي په سر سم کړو او مسکا په خوله خپل لځایه پاسیدم. ادی پوهیدل چی زما د یواځیتوب او کتاب ویلو ځای د بام سر د د دوه لرګیو لاندی سایه ده! خو هیڅکله راپسی نه راتله چی زما یواځیتوب خراب کړی، د هغه لځایه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



يي دومره ناری او چغی وهل چی زما زړه به يي د کتاب ويلو څخه تور کوه. د خښتو څخه جوړ په کنډ کپر زينو راښکته شوم، د لانده خاوری بوی ټول حويلی نيولی وه .سترگی مي پټی کړی سر مي پورته آسمان ته ونيو او يو غټه ساه مي واخيسته د خاورو پدی لانده بوی مئينه وم. په هغه ښايسته حال او حالتو کي وم چی د آسما چيغ چوغک غږ د هغه ښايسته احساساتو څخه وويستم.

آسما- څه لکه ليونيانو پشان دلته ولاړه يي؟ دا جامي دی ولی داسی په خاورو لړلی؟ چيرته تللی ويي؟
زما لځايه ادی په قهرجنه لهجه جواب ورکړو.
ادی- چيرته به وه ستا په خيال؟ دا د بام په سر دوه لرگی و دی بيکاری ته د موږک غار جوړ شوی. همدا چی خپل مخ وگرځه وم يو دوه کتابه اخلي او په منډه پر ځينو پورته کيږی خپل کتابخانی ته، ای زه نه پوهيږم جنی په کتابو څه؟ په پوهنتون په درس ويلو په شعر او شاعری څه؟ سبا ورځ ستا ميره ستا د تعليم او کتابو پوښتنه نه کوی، بلکه ستا د کار او ديگ پوښتنه کوی.

ادی ته ولی زما هر کار په ميره باندی لگوی؟ زما د خوب، خوراک، څکاک، سره د هغه څه کار دی؟
ادی- دا نو څنگه خبره ده سپين سترگی؟ ميره دی ستا په هر کار باندی کار لری.
-هغه زما خاوند راځی او زه يي هم ميرمنه! څه کنيزه او نوکره نه وړی چی د هغه په هر ساز باندی ورقصيږم!
ادی- توبه.. توبه.. ته يي و دی ژبی ته وگوره؟ دا ټول د هغه پوهنتون له لاسه کيږی !که سبا ورځ مو ته ميره ته ورکړی، په دويمه ورځ دی بيرته د پلار کورته را استوی!

په خفه نظر مي ادی ته وکتل چی هغي هم په همغه قهرجنه لهجه وويل:
ادی- سترگي دی ماته داسی مه راباسه، ژر کوه هغه مهمانخانه پاکه کړه اوس دی اوښی دوی رارسيږی.

داخبره يی ماته وکړل او بيا د آشپزخاني په طرف روانشوه، خو غږ يي ماته راتلو چی لگيا وه لځان سره يي ويل: ای دومره ډير مي ووبل چی مه کوه سړيه دا جنی درس ته مه پريږده، سبا ورځ دا جنی پدی دوه خط سواد او درس باندی ژبه کوی، خوله مي گونگي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین سترګی کیږی، نه ما پیژنی سبا ورځ نه تا! خو پخدای قسم ددی سړی په کارو کی انسان حیران پاتی کیږی؟ ادی لګیا وه او په قهر او غوسی دا خبری لځان سره کول او ما په نامیده نظر ورکتل چی آسما په خندا وویل:

آسما- ددی ټول خبرو څخه که خلاصیده غواړی زما سره یو چاره شته!

د آسما پدی خبره په غوسه می خپل چپلکه ورپسی وغورځه ول، چی هغي هم پخندا ځان بچ کړو، خو زموږ په شور ماشور باندی د ادی چیغه پورته شوه، چی دا ځل يي دواړو ته ښیراوی کول.دا ټول خبری او ښیروای ددی آسما د لاسه زما په سر راغله، منم چی ادی د هغه خبرو څخه مخکي هم زما د پوهنتون ویلو سره مشکل درلود، خو دا سپین سترګی، ژبه وره یي راته نه ویل! له کوم ورځی څخه چي د آسما د معتاد، چرسي، بنګی، بي سواده لیور د مرکي څخه مي انکار وکړو! او بابا هم زما

- خوا ونیول دا القاب زما په ښه القابو کي زیات شول. اوس هم زه حاضره یم چي د ورځی زر ځله د ادی ښیراوی او خبری واورم،خو د هغه لوفر ښځه نشم. چرسی یو هفته افغانستان کیدی دوه کاله ایران کی! ښځه نغواړی یو نوکره غواړی چی دده د مور او پلار خدمت وکړی، او دی لوفر دی په خارج کی چرس وڅکي! بابا د آسما په

واده لا راځی نه وو، خو ادی ویل چی د خور ځوی مي دی خلک به څه وایی؟فلان دی، او بستان دی، او دا هم باید ووایم چی خپله آسما په جلیل مئینه وه، نو ځکه خوارکی بابا څه ونه ویل، خو زه نه د آسما پشان مئینه یم! او نه هم د خلکو د خبرو په قیصه کی یم،او د ټولو څخه ښه خبر دا چی بابا هم زما پر خوا دی، نو امکان نلری هغه معتاد ښځه شم که د دنیا په سر اخیری سړی هم ویی. خپل د پوهنتون چپټرونه می په الماری کي کیخودل، او بیا پدی فکر کي شوم چی ولی ادی دا رکم ده؟ ولی یي دومره زما د تعلیم او پوهنتون څخه کرکه لری؟ ولی هره خبره کي د میړه بحث مخکی کوی؟ اخیر ولی؟ زما فکرونو هیس فایده او جواب ته نه رسه ولم په همدی خاطر ددی څخه مخکی چی ادی بیا چیغي ووهی د کوټی څخه ووتلم او په کار اخته شوم، د ماښام د آذانو وخت وو چی د کور دروازه وټکیده.

ادی- آسما... هوسۍ! ژر کوی بابا دوي مو راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ادی په غږ زه خپل د کوټی خوا ته چی د آسما د واده کولو مخکی زموږ دواړو مشترکه کوټه وه لاړم، چی گورم زما څخه مخکی آسما هلته تللی او د پردی له شا څخه د بابا او د جلیل راتلو ته گوری! ادی د کور دروازه خلاصه کړه او هغه دواړه کورته را دننه شول.

-زما په نظر ددی لځایه چی د پردی له شا څخه خپل شهزاده ته وگوری بهتره به ویی چی د باندی لاړشی او ورسره ستړی مشی وکړی؟

آسما پداسی حال کی چی مخ یی د شرم څخه تک سور وو په آرامه غږ یی وویل: ته اوس زما حالت نشی درک کولی، کله چی ستا خاوند داسی د دوه کالو وروسته ستا پسی ستا د پلار کورته راشی هغه وخت پوهیږی چی زه څه احساس لرم.

خپل سر می ورته وخوځه ویی او ومی ویل: خدای دی ونکړی چی زه دی دداسی کس سره واده وکړم.
آسما پرده پریخوده او مخ یی زما طرف ته کړو - ولی؟
-ځکه زما په نظر سړی باید خپل د ښځی په سر خپل په کور کي د هغه ستونزی او مشکلات حل کړی، نه دا چی ناوی سره لاسونه خپل د پلار پر کور پریږدی او خپله دی لاړشی ایران ته؟
آسما په شرمیدونکی غږ وویل: مجبور وو.
-یعنی ستا په نظر د یو گوله ډوډی توان یی هم نه درلود؟ چی خپل په وطن کی پیدا کړی؟ چی ته یی سره لاسونه پریخودی او لاړی خارج ته؟ بابا خو دومره ولور هم ورڅخه نه و غوښتلی! بیا ولی؟!
آسما- ضرور کوم مشکل یي درلود.
په پوسخند می وویل: ضرور یی مشکل درلود پوهیږی ستونزه یی څه وه؟
آسما د" نه "پشان خپل سر وخوځه ویی او ما په همغه طعنه لرونکی لهجی ورته وویل:

-ستونزه یي دا وه چي کوم هلکان یوځل په ماشومتوب کی د ایران او خارج آزادی وگوری بیا په سلو کی شاید ٪۳۰ فیصده یی وطن ته رک روغ راشی،کنه او یا سلنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یی معتادان او ... راځی! زه ستا په میره شک لرم چی معتاد دی! خپل د ورور پشان!؟

زما په خبری آسما د حیرت څخه یو" وی څه وای؟ "وویل او بیا یي په غوسه ناکه لهجه وویل: ګونګی شی هوسی! دا نو څنګه خبری دی چی ته یی کوی؟ جلیل ایران ته د مجبوری او کار لپاره تللی وو، نه د چرس او تریاکو لپاره، او که ستا اجمل جان نه خوښیږی او نغواړی ښځه یی شی؟ مشکل نشته، خو حق نلری د دروغو تهمتونه ورباندی ولګوی .

آسما دا خبری وکړل او په همغه غوسی باندی د کوټی څخه ووتل، د آسما خبرو ته زما هیس غوسه رانغله بلکي د هغي په خبرو باندی د حضرت محمد(ص) یو حدیث می یاد ته راغی چی فرمایلی وه: مینه انسان ړوند او کوڼ کوی، مطلب دا چی کله چی ته پر یو چا د زړه څخه مئین شي نو که هغه کس د دنیا بترینه کس هم ویی ته د هغه بدی نه وینی! او نه هم د هغه کس بدی د بل چا له خولی آوریدی،او منلي شی! لکه د آسما او ادی پشان دوی دواړو دومره د خاله د کورنی سره مینه او محبت درلود چی هیڅکله حاضر نه وه د هغوی بدی وګوری، یا وآوری. له ځان سره می وویل: زه خو پوهیدم چی آسما زما یوه بده خبره هم خپل د خسر ګنی په اړه باور نه کوی! بیا د څه لپاره می دا خبری ورته وکړل؟ اوس ځی ادی ته دا خبری کوی او ادی

بیا زما دا ټول خبری او رفتار زما په پوهنتون ویلو باندی تړی، او بابا ته زما شکایت کوی! ای لعنت دی وي په هغه ژبه چی بی وخته خلاصیږی. ځانته می ښه سم کنځلي وکړی چی ولی مي هسی آسما ته دا خبری وکړل، او ځانته می شر وکری! او بیا ددی څخه مخکی چی ادی په لاس بله بهانه ورنشی زما د رټلو لپاره ژر می خپل کالی مالی سم کړل او د کوټی څخه ووتلم همدا یو اوښی می درلود چی د خاله ځوی می هم وو، او د بلخوا څخه موږ یوڅه آزاده کورنی وو او دا دومره سختګیری مو نه کول البته یواځی بابا آزاد وو هغه هم په اندازه، ادی دومره سختګیره او پدی خبرو کی دومره کلکه وه چی ما کله ناکله فکر کوو زما مور شاید د کوم لوی مذهبی کورنی سره اړیکی لری؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مهمانخانی ته ننوتلم د جلیل سره می ستړی مشی وکړل او د ادی

ښنګ ته کینستم دومره حد مي ځان د ادی شاته پټ کړو چی د جلیل د سترګو د نظر ښخه لری و اوسیږم تراوسه می کوم بد کار یا خبره د جلیل ښخه نه ولیدلی خو نه می خوښیدل ډیر یی د نظر لاندی و اوسیږم بد احساس یی راکوو.
جلیل- ښه نو د خاله لوری نور ښنګه یی؟
-د خدای شکر ښه یمه، تاسو ښنګه یاست؟ خاله،جمیله، میروس ټول ښه یاست؟
جلیل- شکر خیرو خیریت دی. خو ادی درښخه مروره وه!
-ولی خیر خو دی؟ ما کوم کار کړی چی خاله راښخه مروره شوی؟
جلیل- کار خو نه.. یواځی ګیله منده وه چی ولی زموږ کورته نه راځی؟
ددی ښخه مخکی چی زه جواب ورکړم زما لځایه ادی په غوسه ناکه لهجه وویل: ستا مور دی ګیله نه کوی بچیه زه خپله دا په کور دومره نه وینم ښه ورسیږی چی لاړشی د خاله یا ماما کورته...( پوهیدم چی ادی خبره کش کوی او اخیره ټول ګناه زما په پوهنتون تلو باندی اچوی! په همدی خاطر په خبره کی ور وولیدم او ومی ویل(

-زما له طرفه د خاله ښخه بخښنه وغواړی او زه وعده کوم چی، انشالله دا ښو وختو کی ضرور دیدن ته یی ورشم.
جلیل په خندا وویل: پخیر راشی موږ خو د خاله د لور آرمان لرو چی ورسره کینو مجلس وکو، خو تاسو یوښه موږ خپل د مجلس لایق نه حسابه وی!

د جلیل پدی خبره بیحده عصبی شومه خو د دروغو مسکا می وکړل او ومی ویل: نه خدای دی نکوی داسی کومه خبره نده انشالله یو مناسب وخت کی به خاله ته مزاحمت وکړو، او رابه شو.
بابا هم لکه چی د جلیل دا بیځایه خبری خوښی نشوی چی د بحث موضوع یی بدل کړه.
بابا- ښه نو ودی نه ویل چی دا دوه کالو کیدی ښه کارونه کول په ایران کی؟
جلیل- ښه ووایم کاکا پردی وطن دی موږ ته خو سوک د ریاست چوکی نه راکوی! مزدوری مو کول....

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور حوصله مي نه درلود په هغه کوټه کی کینم او د جلیل داسی خبرو ته غوږ ونسیم، په کراره د کوټې څخه ووتم او د آشپزخانی طرف ته ولاړم، او تر ماښامه د جلیل تر تلو پوری داسی شانس می هغه ته ورنکو چی زما سره هم کلام شی یا کومه خبره راسره وکړی، د ډوډی خوړلو وروسته جلیل خدای پامانی وکړه او آسما یی لځان سره ویوړل. زه حتا د خدای پامانی لپاره لا د آشپزخانی څخه بهر نشوم او ځان می د لوښو په مینځلو بوخت کړو د هغوی د رخصت کولو وروسته بابا او ادی کورته را دننه شول او زما پر لیدو ادی په غوسه وویل:

ادی- دا نو څنګه کار و چی تا وکوو؟
-څه کار می کړی؟
ادی- خپل د خور او اوښی د خدای پامانی لپاره بهر رانغلی؟
-کوم سفر ته خو نه تلل چی وغواړم خدای پامانی وکړم! دوه قدمه لاره ده خپل کورته لاړه.
ادی زما په خبری غوسه لا زیاته شوه او ویی ویل: د میلمه په ادب او رسم باندی نه پوهیږی؟ دا دی د خدای پامانی څخه چی رانغلی، هغه هم د مجلس څخه دی چی ځان دی پټ کړو.
-دا د خدای پامانی خبره شاید یوڅه زه ملامته و اوسیږم، خو د مجلس نه کولو په اړه زما کار یو دم صحیح وو.
ادی- صحیح وو؟ ستا اوښی دی د خاله ځوی دی که دوه خبره ورسره سم وکړی قیامت نه راځی !
-ادی زړه دی غوښتل زه خپل د خور د خاوند سره کینم ټوکی ټکالی وکړم؟
ادی- ما درته وویل ټوکی وکړه؟ زه وایم یوڅه په انسانیت او په ادب به دی ورسره رفتار کړی وای.
-ادب؟! اوس ما ورسر کومه بی ادبی یا بی احترامی کړی؟! چی تاسو ماته داسی وایست؟
ادی- دا څنګه خبره وه چی تا آسما ته کړی وه؟ چی میړه دی معتاد دی! او چرس وهی؟ ..ستا په نظر دا بی ادبی نده؟

چوپه شوم ځکه پوهیدم چی ادی دا ټول خبری د څه لپاره کوی؟ او اخیره کی غواړی دا خبری تر کوم ځایه کش کړی؟ په همدی خاطر خبره می ورسره یو پر دوه نکړل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په بخښنې غوښتلو باندې خپل د کوټې خوا ته روانه شوم، پوهیدم ادی د درې ساعته خبرو کولو وروسته خپل هغه مشهوره ډیالوګ" کوم جنۍ چي واده ونکړی خپل د کورنی لپاره بغیر له پیغور او بدنامي څخه هیس نلری ".استعماله وی او اخیره کی ماته وایی چی دا دی د خاله ځوی دی کبر وربانذی مه کوه، خدای کبرجن خلک نه خوښیږی. زه نه پوهیږم دوی څه انتظار زما څخه لری؟ دا چی د خاله د ځوی اجمل ښځه شم؟ چی کار یی تریاک او چرس وهل دی؟ په هغه تور مخ او خیرن کالو، د هیچا زړه نه کیدو چی ورته وګوری!خو د ادی زړه وو چی زه دی د هغه د خور د خوشحال کیدلو لپاره د هغه د معتاد خوری ښځه شم! د اجمل د یاد راتلو مي حال خراب کړو په هغه تور مخ، خراب ژیړ غاښونو! دا فکر چی د هغه سره په یو د سترخوان کینم ډوډی وخورم زما حال یی خراب کوو، څه ورسیږی چی وغواړم د داسی سړی ښځه شم! ضرور په دویمه ورځ مړه کیدم. د خدای شکر چی بابا هم د هغه څخه بد راتلل او کله چی ما" نه "وویل مجبوره یی نکړم او زما خبره یی ومنل، که خبره د ادی په لاس کی وایی زه یی د همدی معتاد ښځه کولم او اوه اته قد او نیم قد ماشومان یی هم راباندی راوړل!؟

د سهار لمانځه وروسته ویده شوی وم، چی د ادی په غږ له خوبه پاسیدم. وای ناوخته شوو امتحان مي، ژر می خپل چپټرونه شیان بکس کی واچول او حجاب کړی د کوټی څخه را ووتلم ادی زما پر لیدو په غوسه وویل :

ادی- جنی او دومره خوب! سبا ورځ که د میره په کور کی دومره ویده شی سل لعنته به پر مور و وایی ستا په دی تربیت !

-ادی! یو نن راسره په هر خبره جنګ مه کوه امتحان لرم، حوصله نلرم.

ادی - وی.. ما نو کله ستا سره جنګ کړی! چی ته ماته وایی نن راسره جنګ مه کوه؟ زه ستا مور یم که یو خبره کوم د ښه زړه څخه یي درته کوم، ستا د خیر لپاره یي کوم، چی سبا ورځ خلک درته پیغور درنکړی! او ته ماته وایی جنګ مه کوه؟

هیس جواب مي ورنکړو او له کوره ووتم، د ادی پدی خبرو باندی نور غوړونه می ډک شوی وه. بابا د همیشه پشان دواړه لاسونه تر ملا شاته نیولی وه او خپل شنه تبیسح اړول، د کور مخکي په کراره، کراره ګرځیدی او په تمه وو ترڅو ما د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنتون تر بس پوری ورسه ویی او بیا خپل کار ته لاړشی .

بابا- ناوخته دی کړه دری ساعته کیږی درته په تمه یم.
-وبخښه بابا په خوب پاتی شوی وم.
بابا- مور خو دی کومه خبره درته ونکړل؟
په خفه لهجه می وویل: ستا په نظر امکان لری چی داسی کومه خبره وشی او ادی څه ونه وایی؟
بابا په خندا وویل: هیس امکان نلری.
-بابا یو پوښتنه وکړم؟
بابا- وایه؟
-ولی ادی زما د تعلیم، او پوهنتون ویلو سره دومر ضد ده؟

د تګ په حال کي بابا لږ تم شو زما طرف ته يي را وکتل او بیا په تروش تندی بیرته لاری ته يي ادامه ورکړل او ویی ویل: مور بی تعلیمه خلک یو نه مو سواد کړی او نه هم د سواد په ارزش پوهیږو! زه هم بی تعلیمه یم پدی مه ختا وځه چی خلک راته معلیم صیب وای! زه یوځه دی شهر کی وګرځیدم او سترګی مي خلاصی شوی او پوی شوم چی د ښځی لپاره تعلیم مهمه دی، خو ستا مور( یو څه چوپ شو او بیا یی په یو افسوس ناک لهجه وویل) ستا مور تراوسه همغه کلیوالی خوی لری، هغه یو ذهنیت لری او هغه دا چی جنی یوائی یو مسئولیت او دنده لری؟ واده وکړی او خپل ماشومان غټ کړی! یو خو په همدی خاطر ستا د درس څخه يي بد رائی او بل دا چی ښه خاطره هم ددی پوهنتونی جنکیانو څخه نلری.

په حیرانتیا می وویل: پوهنتونی جنکیانی؟
بابا- هو.. زموږ کلي کی یو دوه جنکیانو پوهنتون ویلی وو، بیا د واده په ورځ یی د واده کولو څخه انکار وکړو! ځکه هغه سړی يي په خوښه نه وو، د هغه دواړه جنکیانو د دی کار پسی ټول د کلي خلکو بیځایه خبری کول او ویل يي چی دا جنکیانی د چا سره په پوهنتون کی جوړی ویی! او یاراني درلود. دومره ډیر ادا خبری پورته ښکته شول چی اخیره د هغه جنکیانو کورنی مجبور شول د هغه کلي څخه کډه وکړی. په همدی خاطر مور دی یوځه ستا د پوهنتون ویلو سره ستونزه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خلاصه خوله مې بابا ته کتل چې هغه په خندا راوکتل او ویې ویل: څه راګوری؟ بس ته پورته شه کنه لاړ به شی، اوس هم ناوخته دی کړه خدای دی وکړی چې امتحان دی نه ویې تیر شوی؟

د بابا په خبره تازه مي د خلکو شور ماشور ته پام شو او د بس کلینډر ته چې چغې وهل ترڅو خلک خپل په موټر کی ځای کړی، د بس خوا ته روانه شوم خو بس ته د سپریدو مخکی شاته را وګرځیدم او بابا مي منتظر ولیدو چې ولاړ وو ترڅو زه ملی بس ته پورته شم او بیا هغه په راحته زړه خپل کار پسی لاړشی.

-بابا؟
بابا- جان؟ څه دی په کار دی؟
-تاسو هم د کلي سړی یاست بیا ولی د ادی پشان فکر نه کوی؟
زما په خبره بابا وخندل او ویې ویل: ځکه ته زما لور یې! او زه پر تا باور لرم،او پوهیږم ته داسی کوم کار نه کوی چې زما عزت او آبرو له مینځه لاړشی.

بس روان شو او زما سترګی په هغه سړی ولګیدی چې تر ننه یواځی ما ورته د یو پلار، امن غیره، او د سر سایه په صفت لیدو، خو نن پدی خړ جامو تور واسکټ،تور پکول، کي ما یو د لوړ همت سړی ولیدی! ما هغه کس ولیدی چې غوښتل یي د ناپوه او جاهلو خلکو فکر او سوچ بدل کړی، ما ته نن بابا یو بی سواده کس نه بلکه،نن ماته بابا د یو رئیس او پوهان پشان ښکاره شو. د هغه هر لفظ زما غوږنو کی تاویده"ځکه ته زما لور یې"!زه پر تا باور لرم"پوهیږم ته داسی کوم کار نه کوی چې زما عزت او آبرو له مینځه لاړشی ".هیڅکله مې بابا پدی نظر نه وو لیدلی هیڅکله.اوس د ادی د

خبرو په مطلب هم پوه شوم، اوس پوه شوم ولی زما د مرکی د انکار څخه ادی داسی لیونی شوه! ادی ویریدل چې زه د هغه نور جنکیانو پشان نشم! پوهنتون ته تر رسیدلو همدا فکرونه می کول، کله چې د پوهنتون حویلی ته داخله شوم نو د نورو ورځو په پرتله چې کله ناکله به شیطان وسوسه راواچول او یو نظر به مي د پوهنتون هلکانو ته وکوو، نن مې سر د هغه حد پوری ښکته کړو چې یواځی خپل د پښو قدمو ځای مي لیدلی شو، زه د همدا نن څخه د ځان سره وعده کوم چې مړه هم که شم داسی کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار به ونکړم چی د بابا باور او اعتماد خراب شی، زه وعده کوم دومره په حیا او عزت باندی خپل درس ووایم چی ادی هم باور وکړی علم او تعلیم انجونی نه بیحیا، او بی شرمه کوی.

- په همدی فکرونو صنف ته داخله شوم او بغیر لدی چی چا ته وګورم یا سلام وکړم د صنف په اخیری او د ټولو د نظر څخه په پناه چوکي کینستمه. استاذ زما د کینستلو سره سم صنف ته داخل شو او په همغه

اول کی وویل چی نن امتحان نشی اخیستی او درس وایو، د استاذ پدی خبره ټول صنف یو راحته نفس واخیستو استاذ په درس ویلو پیل وکړو او ما د نورو ورځو په پرتله نن می خپل ټول پام په درس ولګوی، ځان سره می ویل زما شتون دلته یو لویه معجزه ده !زه راغلي یم چی یو لوی بدلون وکړم نو نه باید خپل وخت بیځایه ضایع کړم، د استاذ هر خبره چی راته مهمه معلومیده نوټ می اخیستی او هر پوښتنه چی ذهن ته می راتله ورڅخه می کول، د یو ساعت درس ویلو وروسته چی نن پرما بیحده ژر تیر شو استاذ د صنف څخه ووتو. د هغه د تلو سره سم نیلوفر چی زما یواځنی ملګری پدی صنف کی وه زما طرف ته راغله.

نیلوفر- ای ماشاالله. ماشالله راشه چی اسفندد درته دود کړم، چی نظره نشی! نن دا لمر له کومه خوا راختلی چی ته داسی درسخوانه شوی یی؟

نیلوفر په اصل کی مورنی ژبه فارسی وه، خو انتخاب کړی و د پښتو ادبیات؟ ځکه پلار یی پښتون وو او دی هم خپل د پلار په خاطر دا رشته انتخاب کړی وه، نو ځکه زیاتر اوقات په جمله بندی کي پښتو او فارسی ګډ وډ کول! خو بیحده مهربانه جنۍ وه.

نیلوفر- ها؟ وه دی نه ویل دا لمر له کوم طرفه راختلی؟
د صنف څخه د وتلو په حال می ورته وویل: راځه یوځای کینو چی زه درته ووایم، ددی څخه مخکی چی دا بل صنف شروع شی.
نیلوفر- راځه لارشو کانتین ته!
-راځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخامخ يو بل ته د کانتين په چوکی کينستو او هغی ماته په يو مشتاق او هيجان نظر راکتل.

-ولی داسی راګوری؟
نيلوفر يوڅه ځان زما طرف ته راکش کړو او په خوشحاله لهجه يی وويل: ځکه چی فکر کوم زموږ ګريز پايه هوسۍ مئينه شوی!
-څه وايی؟
نيلوفر په خوشحالی وويل: څه چی ګورم هغه وايم.
-تا خيرنی څه ليدلی؟
نيلوفر- عه بی ادب نشو.
-بی ادب خو ته يی سپين سترګی دا څه وايی؟
نيلوفر- خوب.. رښتيا وايم نن دی د نورو ورځو په خلاف هی ځان دی ټول صنف کی ټول هلکانو ته مخکی، مخکی کوو.
په خلاص سترګو د حيرت څخه می وويل: ستا په نظر ما ځان هلکانو ته مخکی، مخکی کوو؟
نيلوفر خپل ويښتيان يي په ناز او نخرو خپل د ټيکری لاندی کړل، او خپل د موبايل د راخيستلو په حال يی وويل: بله خوب.. ټول صنف انجونی فکر وکو چی تا ځان د صنف هلکانو ته بالا، بالا کوی.
په غوسه می د نيلوفر لاس چونګاری کړو او ومی ويل: ای مړه شی پدی خبره دی جوګی..

نيلوفر خپل لاس ژر لری کړو او په غوسه يی وويل: ای.. ای وحشی.. دستم کندی... ما څه کړی کبرا ټول صنف ته دا خبری کول.
-او تا ورته هيس ونه ويل؟
نيلوفر- څه می ورته ويلی وای؟ ما هم فکر وکړو چی شای...

خبره می ورپری کړه او په غوسه می يو دوه بوکسه په اوږه ووهل، چی هغی هم متقابل کی کنځلی راته وکړل.

-زه مثلا ستا صميمی ملګری يم! تا بايد د ټول هغه کسانو خوله وربنده کړی وايی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی داسی بیځایه خبری زما په اړه کول؟
نیلوفر- چرا امروز وحشی شودی هوسۍ؟ هغوی یواځی ځان سره پڅ، پڅ کول ما څه کړی وایی؟
د هغي پشان می په نیمه پښتو وویل: تا باید وهل کړی وای.
نیلوفر- زما په پښتو ریشخند مه وهی، اوس دا راته ووایه چی ولی نن داسی درسخوان شوی یی؟

د هغي پدی خبره سهار د بابا خبری می یاد ته راغله او ټول قیصه می ورته وکړل، هغي هم په پوره توجه ماته غوږ نیولی وو. کله چی خبری می خلاصي شوی نیلوفر پاسیده او دوه برګره یی راواخیست،یو يي ماته راکړو او بل يي ځانته را واخیست د برګر خوړلو په حال یی وویل:

نیلوفر- یو خبره کوم خو قول چی بد فکر به نکوی!
-وایه؟
نیلوفر- ګوره زما پدرم پښتون دی! او دا خبری ددی لپاره نکوم چی پښتون قوم بد معرفی کړم، یا کوم بله داسی قوم پرستانه خبره وکړم! خو باور وکړه پښتو قوم هغه هم مخصوصً کلیوال پښتانه بیحده متعصب، غیرتی، البته په بیځایه خبرو غیرتی! او زنها ته هیس رکم ارزش نه ورکوی! د هغوی په نظر زن باید نان پوخته کنه، ظرف بشوره و بچه بزرګ کنه؟
-ستا خبره شاید سمه وی خو ټول یی داسی ندی، لنډ مثال یی زما بابا!
نیلوفر- ما هم ونه ویل ټول پښتون قوم؟! یواځی می وویل بعضی هاش؟ البته ډیر داسی بی سواد مردم ما خپل په قوم کی لیدلی چی به قوم پښتون میګم صد افرین بر شما...

سټری ستومانه د کور طرف ته را روانه وم، دومره سټری وم چی حد یی نه درلود، فکر می کوو د درس ویلو له ځایه مي غر کیندلی! داسی سټړی وم. بابا زه هر سهار تر بس سټاپه رسه ولم خو راتللو وخت کی یواځی وم، د کوڅی سرته ورسیدم زما په نظر د ټول کابل شهر خرابترینه، او بیډیزاین ترینه کوڅه زموږ کوڅه ده! دومره تنګه وه چی هر همسایه د انډی همسایه د کور بام ته په راحته خیال ختلی شو! ټول کورونه ښنګ په ښنګ وه! یو خبره چی نه پوهیږم بنه ورته ووایم که بد؟ زه قوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرسته نه یم خو باید ووایم په ټول کوڅه کی یواځی موږ پښتانه وو! او نور ټول فارسیبانان وه! او موږ ته افغان ویل! نه پوهیږم

- دوی د کوم مملکت څخه راغلی

وه چی موږ ته یی افغان ویل؟ په همدی فکرونو کی وم چی د کور د دروازی مخ کی مي یو لوکس ښایسته موټر ولیدی! چی زموږ د کور مخکی پارک وو! دا نو د چا موټر دی؟ زموږ په ټول کوڅه کی زه خو دومره پیسه داره شخص نه پیژنم چی وغواړی داسی موټر ولری؟ نو دا موټر د چا دی؟ او زموږ د کور مخکی څه کوی؟ یو دوه دقی شاوخوا می وکتل خو کوم نتیجی ته ونه رسیدم، د ماشومانو شورماشور وو ټول لکه زما پشان حیران وه چی دا دومره لوکس موټر دلته څه کوی؟ ټول په هغه لوکس موټر چی ما یی حتا نوم لا زده نه وو! راټول شوی وه. د یو ماشوم څخه می غوښتل

پوښتنه وکړم چی دا موټر د چا دی؟ چی یو ډبل پنډ نارینه غږ می خپل د شالخوا وآوریدی، د هغه شخص پر آواز باندی د ویری څخه می اوړی وپریدی او ناخواسته په تلوار مي مخ هغه طرف ته واړه وو.

-پر پدره مو لعنت څه د شیطان چوچیانو، غټ او کوچنی ندی معلوم ټول د یو سره مش...(زما پر لیدو یی خبره نیمه پاتی شوه او په حیرت یی راوکتل، او ما هم په څو ثانیو کی د هغه مخ د نظر څخه تیر کړو. توری پنډی وریځی، تک تور سترګی، جګه پوزه، برابر شونډی او هغه تور ببره ګیره یی د مخ هیبت او وحشت لا زیات کړی وو .
نظر می د هغه د مخ څخه ښکته شو، یو غټ پټو یی پدی ګرمی کی پرڅان پیچلی

وو، توره خولی، تور واسکټ، او سپین کرمیچ بوټان! او هغه دری منه خوږ عطر یی چی پر ځان خالی کړی وو یواځی یو خبره زما ذهن کی راګرځه ول " دا خو اطرافی دی؟ "یوځل بیا می دده قد او قواری ته وکتل او بیا می هغه لوکس موټر ته وکتل منم چی ښایست لری خو دا موټر ددی اطرافی سره خوند نه کوی! په افسوس می سر وخوځه ویی چی د هغه قهرجن غږ می تر غوږ شو(.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نه شرمیږی غټه انجلۍ یی په موټر خط باسی؟

په حیرت باندی می سر پورته کوو او یوځل بیا می ورووکتل ددی ټول صفاتو سره باید دا هم ولیکم ددی اطرافی غږ بیحده ښایسته دی! د هغه د غږ په فکر کي وم چی تازه می فکر کار وکو او پوه شوم چی څه یی راته وویل!

په غوسه ناکه لهجه می ورته وویل: اوه جناب په کراره... زه ستا دا ډیزلی موټر ته ګورم لا نه خط باسل خو لری خبره.
زما په خبری پوسخند ووهی او یو څو ګامه رانږدی شو بیا یی په طعنه لرونکی لهجي وویل: که خط دی نه باسی نو ضرور دی د موټر په هینداری کی ځانته کتل! هوممم حق درکوم دا رکم موټر به تا کله خپل په عمر کی لیدلی ویی!؟

د ډیر قهر او غوسی څخه تکه سره شوم. یو اطرافی چی زه یی په انسانانو کی نشمارم راغلی ماته طعنه راکوی؟

-زه د ورځی سل داسی موټرونه د لاس لاندی تیره وم، او پاتی شول خبره په هینداره کی خپل د کتلو؟ نو باید درته ووایم ستا اطرافی موټر زه ددی لایق نه بولم چی وغواړم ځان په هینداره کی وګورم.

زما په خبرو د هغه د وریځو ګونځی دومره ډیر شوی چی یو خط ورڅخه جوړ سو، او مخ یی له ورایه تک سور واوښتی داسی ماته راکتل لکه یو قاتل! ما هم بد بد ورووکتل او د کور په طرف روانشوم. ودی خوړی؟ اطرافی بدبخته ماته طعنه راکوی! زه دده پشان سل دانی هلکان په جیب کی ساتم دی راغلی ماته داسی خبری کوی؟ د کور دروازی ته رسیدلی وم چی بیا می د هغه بی ادبه اطرافی ښایسته غږ واوریدی چی په حیرانتیا وویل:

-ته د معلم صیب د کور یی؟

مخ می ورواړه ویی د څو ثانیو مخکی غوسه یی په مخ نه ښکاره کیدل، بلکی اوس د غوسی له ځایه حیران وو! په تروش تندی می یواځی یو خبره وکړل"لور یی یم ".او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ژر کورته ننوتم بی عقل انسان افسوس په هغه ځوانی او غږ باندی چی ستا اطرافی نصیب شوی. بیعقل اطرافی.. میلمه خانه مخامخ د کور دروازی خواته وه خو دوه دراوزی درلود، یوه دروازه یی د کور په مینځ کی په دهلیز کی خلاصیده چی آشپزخانه او زما کوټه ورڅخه معلومیده، هغه دروازه مو زیاتره اوقات د شناخته میلمانو لپاره خلاصه ول او دبیګانه خلکو لپاره مو یوائې د حویلی څنګ دروازه خلاصه پریخوده ترڅو مور ته ستونزه ونشی بغیر لدی چی د میمله خانی خواته وګورم په تلوار کورته ننوتلم.

-سلام !..

ادی پداسی حال کی چی په آشپزخانه کی لګیا وه او ژر ژر یی شیان جوړه ول زما پر لیدو په تلوار یی وویل: سلام ملام پریږده شابه حجاب دی وباسه راشه زما کمک ته.

-میلمانه څوک دی؟

ادی- ژر کوه راشه کمک ته دا پوښتنی دی وروسته وکړه هله شابه.

ادی بیحده ورختا معلومیده او په آشپزخانه کی لکه لیونیانو پشان خپل پرځان تاو راتاو کیده په حیرت می ادی ته کتل چی په غوسه یی وویل :

ادی- څه برګی برګی ماته ګوری؟ شابه میلمانه لرو ډیر کار پاتی ژر کوه راشه کمک ته.

-بابا چیرته دی؟ او دا میلمانه سوک دی؟

زما په خبره ادی دا ځل داسی بد بد راوکتل چی خپله پوهه شوم نن د هغه ورځو څخه دی چی د ادی زړه غواړی زما سر د تني څخه جلا کړی! په همدی خاطر اضافه خبره می ونکړل او خپل کوټی ته لاړم د پوهنتون چپترونه می الماری کی کیخودل او د حجاب بدلول په حال کی می بیا فکر هغه اطرافی ته شو، یعنی هغه اطرافی زموږ میمله دی؟ هو حتما هغه دی ځکه ویی ویل ته د

- معلم صیب لور یی؟ بابا یی پیژندی او پښتو یی ویل ضرور زموږ میلمه دی پدی کوڅه کی خو بل کوم پښتون کور نشته چی داسی اطرافی خپلوان ولری! نو سل فیصده زموږ میلمه دی. خو دا به څوک وی؟ یعنی موږ دومره پیسه داره خپلوان لرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی داسی موټر دی ولری؟ اصلا که دا زمونږ خپل دی ولی ما تراوسه نه ولیدلی؟ زه لاتراوسه په همدی فکرونو کی وم چی د ادی غږ می واوریدی چی په غوسه یی ناری وهل..

ادی- نن پدی میلمنو باندی زما غږ مه آوره هوسی...

او بیایی د قهر څخه په آرامه غږ چی له ځان سره خپل پر گمان لګیا وه خو ما آوریدل ویی ویل: ټول خلک لورګاني لری زه یی هم لرم! د خلکو کورته لاړشي مورګاني کرار کینستلي لورګاني هر کار ورته کوی، د خلکو د لورګانو د هر ګوتي څخه یی سل هنره بادیږی او زما ده! پریږده لکه حمارانو پشان پر کتابونو پریوځی.. د ادی پدی لفظ چی په غوسه کی وویل خندا می راغله په عربی کی خره ته حمار وایی! بابا همیشه دا قیصه کوی وایی: یو بوډی ښځه وه چی د ځان څخه یي درونډ بار په سر ایخودلی وو او کورته روانه وه چی یو طالب علم چی ډیر شوخ هلک وو ددی

ښځی پر لیدو یی وویل: حماری خاله راکړه دا بوجی ماته چی زه یی درته یوسم. هغه بوډی فکر وکړو چی دا" حمار "په معنا د ښه خلکو ده! نو په همدی خاطر یی هغه طالب علم ته په ساده لهجه وویل: خیر یوسي بچیه حماران خو تاسو یاست چی درسته ورځ پر کتابو پرته یاست! بس د هغه ورځ څخه چی بابا دا قیصه وکړه زما په القابو کی یو همدا اضافه شو.. ژر می خپل حجاب بدل کړو او د ادی سره په کار کی وموښتم. د ادی په خبرو راوړلو یوه لار ده! او هغه دا چی د هغي ویل شوی هر کار په بهترینه طریقي.وکړی هله ادی خوله خلاصه ویی او د پوښتنو جواب ورکوی.

د قورمي قابونو د راخیستلو په حال می ادی ته چی په یو خاص وسواس باندی د وریژو سر بنده ویی ومي ویل: ادی وه دې نه ویل چی دا میلمانه څوک دی؟

ادی پداسی حال کی چی دواړه سترګی خپل په کار کی وه چی خدای نکرده یو کوچنی غوندی اشتباه هم خپل په کار کی ونکړی په کراره آواز وویل: پیژنو یی...

په احتیاط می وویل: خپلوان دی؟ څه مو کیږی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادی- نه خپلوان ندی! او نه مو هم څه کیږی! یواځی پیژنو یي.
په حیرانتیا می وویل: دا نو څه مطلب؟ خپل مو ندی خو پیژنو یي؟ څنګه یی پیژنی؟

ادی په غوسه په داسی حال کی چی د دیګ شپیلکی سمه ول وویل: مره شی ته جنۍ چی نه پریږدی زه خپل کار وکړم. دا زموږ خپلوان او قومي نده په اصل کی د فیروز خان ارباب زوی دی..! ( کله چی ویی کتل زه پوی نشوم چی دا فیروز خان ارباب یی لا څوک دی؟! په همغه غوسه یی وویل:) د ده پلرونه او نیکونه زموږ د کلي اربابان وه پر موږ یي ډیر احسانونه کړی، نن توکلی ستا پلار ورسره مخ شوی وو په همدی خاطر یی میلمانه کړی.

غوښتل می د ادی څخه بله پوښتنه وکړم چی د کور دروازه وټکیده..
ادی- ورځه ژر دراوزه خلاصه کړه بابا به دی ویی.
-بابا مګه د میلمنو سره ندی؟
ادی- نه تللی وو د نانوایی څخه یو څو ډوډی راوړی ژر کوه ورسه دروازه ورته خلاصه کړه.

خپل ټکری می په سر سم کړو یو چپلی می په پښو کړه دویمي مي په پښو کوله چي د حویلي د دروازی د خلاصیدو غږ می واوریدی...! دا نو چا خلاصه کړه؟ په تلوار می چپلي په پښو کړل او د د هلیز د پردی د شا څخه می حویلی خواته وکتل چی وګورم دا دروازه چا خلاصه کړه؟ چی هغه اطرافی او بابا می د خبرو په حال کی ولیدل؟! بابا هغه اطرافی ته یوڅه وویل او هغه اطرافی په غوسه د کور څخه ووتی او بابا د کور خواته راروان شو او د همیشني عادت په شان یی د حویلی څخه غږ کړو.

بابا- هوسۍ لوری راشه دا ډوډی واخله..

د بابا د آواز په آوریدو ژر د دهلیز څخه ووتلم اطرافی کوڅه کی وو او هغه دویم نفر لا تراوسه میلمه خانی څخه نه وو راوتلی ژر می د بابا د لاس څخه ډوډی واخیسته چی هغه هم خپل په ذاتی مهربانتیا و پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا- پخیر راغلې امتحان دی پخیر تیر شو؟

بابا همیشه زما د پوهنتون راتلو وروسته دا پوښتنه راڅخه کول او ما هم همیشه په یو خاص شیطنت چی خپل ځان می بابا ته معصومه او اجازه کوو جواب ورکوی.

-ستاسو دعاګاني راسره وه پخیر ولاړم پخیر راغلم. او نن مو هم درس وویل استاذ امتحان وانخیستي.
زما پدی چاپلوسانه لهجی بابا په خندا شو او ویی ویل: زه شکر چی پخیر راغلی یی ورځه ډوډی ویسه چی یخه نشی، زه هم ولاړسم د دغه هلک سره کمک وکم چی خپل موټر حویلی ته رانناسي بیچاره موټر یی ورته خراب کي دا مضر ماشومانو.

بابا دا خبره وکړه او د حویلی د دروازی په طرف روانشو زه هم ژر آشپزخانی ته ولاړم او ډوډی می ادی ته ورکړه او د هغي د غوسه ناکه خبرو توجه می ونکړه چی ویل یی: دا ډوډی تا پخه ول چی دومره وخت دی تیر کړو؟ او یو څه نور خبری یي چی زما د کوټی د دروازی بنده ولو سره نور می وا نه وریدل. ژر د پردی خواته ولاړم، د پردی یو سنده می لږ پورته کړه او د حویلی دروازی خواته می وکتل بابا د

- سهار د ادی په غږ چی ویل یی جیګه شه مونځ دی قضا شو! له خوبه پاسیدم ماښام می تر ناوخته درس ویل البته که ریښتیا ووایم شعرونه می ویل! او اوس می سترګی د خوب له غمه نه خلاصیده همغسی په پټو سترګو خپل ټکری مي په سر کش کړو او د تشناب خواته روانه شوم پښه می چی د دهلیز څخه دباندی په حویلی کی کیخودله د سهارنی یخ می ټول وجود ولړزه ویی، د خوب له غمه می یو چپلکه

راسته بله چپه په پښو کړی وه! ټکری می هم د ویښتیانو له پاسه خلاص پروت وو او تور اوږده ویښتیان می د شمال په هر شړک په مخ ښوریده د لری لری ځایونو څخه د آذانو غږونه راتلل تراوسه هوا پوره نه وه رڼا شوی، ادی لکه چی زه د ملا په اول آذان راویخه کړی وم؟ سر می آسمان خواته پورته کړو ستوری لږ لږ د آسمان څخه د کډه کولو په حال وه، یو څو غټ نفسونه می واخیستل او د سهار پاکه هوا

می خپل سیني ته کش کړه سر می چی ښکته کړو سترګی می په هغه لوکس موټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولګیده او تازه می هغه اطرافی په یاد شو، ژر می شاخوا وکتل شکر سوک نه وه، په تلوار می اودس وکو او ولاړم کوټې ته تر څو مونځ وکم. د لمانځه وروسته هر څو نه چی کوښښ می وکړو خو خوب می سترګو ته رانغی! لکه چی اودس او مونځ می خوب تخته ولی وو؟ پاسیدم چای می دم کو خپل د پوهنتون نوټونه او چپټرونه می برابره ول چی ادی غږ کړو.

ادی- ماشالله نظره دی نکړم دا لمر نن د کومي خوا راختلي چی ته دومره وختي پاسيدلی یی؟

په خندا مي خپل بکس او چپټرونه راوخیستل او آشپزخانی ته ننوتم.

-ګوره ادی ستا خبره چی منم هم خبری کوی او که يي و نه منم خو بیخی نو..
ادی- خبری نکوم خدای دی همیشه دغسی هوښیاره لره، جنی باید تل وخته پاسیږی د کور کارونه وکړی تر څو یو شي يي سبا ورځ زده ویي کله چی خپل د میره کور ته ځی..

ادی د همیشه پشان لګیا شوه خپل پر نصیحتو عادت می کړی وو د ادی د خبرو سره، پوهیږی کله ناکله انسان د ډیر مینی څخه چی د یو چا سره يي لری په هغه کس سختی کوی خبری کوی جنګ کوی یواځی او یواځی پدی خاطر چی د مینی حد يي له اندازه وتلی، لکه ادی! زه پر ادی بیحده ډیره ګرانه یم حتا د آسما څخه لا ډیره! خو ادی خپل د مینې الفاظ په خوله ویلی نشو او د هغه له ځایه همیشه يي فکر زما کاورته، زما خوراک ته، زما ژوند ته زما آینده ته دی ټولو څیزونو ته يي فکر کوی ځکه چی مور ده او د مور پشان پاکه او سپیڅلی مینه هیڅکله په دنیا کی بیا نه پیدا کیږی. د ادی خبرو ته مي غوږ نیولی وو چی د کلا د دروازی د خلاصیدو آواز می تر غوږ شو؟ او د هغه سره سم د موټر غږ؟ لکه چی اطرافی روان دی ځی؟

-لکه چی اطر..( ژر می خپل خبره بدل کړه ځکه ادی زما د داسی الفاظو څخه کرکه درلود چی ما پر یو نفر لقب کیخودلی وای! البته خپله چی پر ما القاب ایږدی هغه مشکل نلری!) لکه چی اربابان مو روان دی ځی؟
ادی به داسی حال کی چی ماته په پیاله کی بوره اچول په کرار آواز يي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادی- پرون ماښام لا نه پاتي کیدو خو ستا پلار ورته ډیر وویل مجبوره شو.
په پوسخند می وویل: ضرور خان صیب زموږ فقیرانه جونګړه نده خوښه شوی؟
ادی په غوسه وویل: د یو پیغلې جني سره دا خبری خوند نه کوی، ضرور یي کوم کار درلود خو ستا د پلار د منت څخه ونه وتو او شپه یي وکړه.

یو څو ثاني می ادی ته وکتل غوښتل می ورته جواب ورکړم خو ځان سره مي وویل یو اطرافی پدی نه ارزی چی وغواړم د هغه په خاطر دی خپل د مور سره خبره یو پر دوه کړم. په همدی خاطر چوپه شوم بابا هم د هغوی د رخصت کولو وروسته راغی چای څکلو ته، ژر مي خپل د چای د پیالی اخیری غړپ وکړو او لځایه پاسیدم.

ادی- دومره په ناز دی ځانته چای دم کړو او اوس همدا دوه ګولي ډوډی؟
-همدغه مي هم د زوره وخوړل د سهار لخوا د چا ډوډی ته زړه کیږی؟

بابا د همیشه پشان زه تر بس تاپه ورسه ولم او تر هغه وخته چی بس د هغه د سترګو څخه پناه کیدی ولاړ وو، خوشحاله وم شه احساس می درلود دا چی داسی پلار لرم چی کولی شم ټول دنیا ته یي په افتخار معرفی کړم او ووایم دا زما افتخار او زما د کامیابی سبب بابا می دی. په بیحده ډیر مثبته انرژی باندی د پوهنتون حویلی ته داخله شوم چی زما پر لیدو نیلوفر په زغاستو زما طرف ته راغله، کله چی ماته راورسیده د ستړیا له لاسه یي نفس نفس وهو په کراره می ورته وویل:

-څه جبر وو پر تا چی داسی منډی دی وهلي؟
نیلوفر همغه حالت کی زما لاس ونیو او ویی ویل: راځه زه باید تاته یو څوک دربنکاره کړم.
-څوک؟
نیلوفر همغه حالت کی خوله تر اخیره خلاصه کړه او په خندا یی وویل: ویګوری بیا خپله پوهیری چی سوک یاده وم درته راځه شابه.

نیلوفر زه خپل د پوهنځی څخه د اقتصاد پوهنځی خواته کش کړم! ما چی د اقتصاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنځی ولیدو خپل لاس می د نیلوفر د لاس څخه کش کړو او په تُنده لهجه می وویل: چا ته دی زما د راوستو قول ورکړی؟

- زما په کار نیلوفر هم د تلو څخه ودریده او هک حیران يي ماته راوکتل؟ د څو ثانیو وروسته په غوسه باندی زما لاس بیا کش کړو او ویې ویل: ای هوسۍ میګم خدا چکارت کنه دختر !ته زما په اړه داسی فکر کوی؟

-زه ستا په اړه بد فکر نکوم، خو ستا کار..
نیلوفر- سیس.. ساکت باش..

د نیلوفر په خبره زه هم چوپه شوم هیس بنه احساس می د اقتصاد پوهنځی ته نه درلود، نیلوفر د یو صنف مخ ته کشه کړم او بیا یی د سترګو په اشاره په خندا راته د صنف خواته اشاره وکړل! تلوسه می شوه چی وګورم دا نو سوک دی چی د هغه د خودلو لپاره نیلوفر دومره هیجان زده ده؟ ځکه چی هوا ګرمه وه د صنف دروازه يي خلاصه پریخودلی وه په کرار می سر معلوم کړو او د ډیر حیرت له لاسه ناساپه می د خولی څخه د" ااای "لفظ ووتو زما په غږ هغه مخ راوګرځه ویی.. او ما د نیلوفر لاس کش کړو او دا ځل زه وم چی هغه مي په تلوار ځان پسی کشه کړه کله چی د اقتصاد پوهنځی د تعمیر څخه ووتو نیلوفر خپل لاس راڅخه کش کړو او همغسی په ستړی نفس، نفس یي وویل :چکار... میکنی.. دیوانه؟ نفسم برید..

زما حالت دهغی څخه لاخراب وو، ټول فکر او ذهن می د اقتصاد د پوهنځی په صنف کي د هغه دوه شنو سترګو په نظر کی بند پاتی وو، زما په غږ راوګرځیدی او اخیره کی د منډی مخکی می د هغه پوسخند لیدلی وو، یعنی پیژندلی یم؟ هو ضرور يي پیژندلی وم چی داسی پوسخند یی وهی! پدی فکر مي د غوسی څخه مخ تک سور شو او په نیلوفر مي خوله خلاصه کړه.

-زړه دی یخ شو زه دی هغه سوئ تغذي ته په دوه روپی کړم؟
نیلوفر په حیرانتیا وویل: چی میګی؟
-دغه چی آوری دغه میګم.
نیلوفر- مرض درست حرف بزن، څه شوی؟
په غوسه می وویل: څه شوی؟ هغه وچ لرګی زه خپل د تماشا په حالت کی ولیدم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته يي پوسخند ووهی!..
نيلوفر- عه ما فکر وکړی څه شوی..
-يعنی ستا په نظر دا چي زه دغه چينچي ته وشرميدم هيس نه وو؟
نيلوفر په خندا وويل: اول خو دومره نومونه د خلکو په هلکانو نمان، دويم خيالت راحت هغه ته نه يي پيژندلي!..
-ته د کوم ځايه پوهيږی چی هغه زه نه يم پيژندلی؟
نيلوفر- بس پوهيږم نو، بيا بريم صنف استاد آمد.

د نيلوفر سره جوړه صنف ته ننوتلم خو فکر می بيحده خراب وو او هيس می په درس ويلو تمرکز نشو کولی، او حسيب مي سترګو ته مخکي، مخکي کيدو د اقتصاد پوهنځی يو وچ کلک محصل چی ټول د پوهنتون جنيکانو ورته وچ لرګی،سوئ تغذی،ناری وهل او حتا ځينی اوقات ملګرو يی ورته د قليون لرګی ويل.. دومره ډنګر وو چی يو شمال او باد ځان سره وړی دری مياشتی مخکي په همدغه شنو سترګو چی نن يي د هغه ورځ پشان معصوميت او عاجزی پکی نه وه په همدی پوهنتون په همدی صنف کی ماته خپل د ميني اظهار کړی وو؟ او ما ...او... ما.... انکار!...

استاذ- لکه چي د هوسۍ لورکۍ هغه يو ورځ د درس ويلو شوه؟

خپل د فکرونو په نړی کي غرقه وم چی د استاذ په خبره د فکرونو څخه راووتم او تازه مي صنف ته فکر شو، ټولو خندل لکه چی استاذ زما څخه يو پوښتنه کړی وه او زما فکر نه وو شوی! کبرا او دهغي په ډله کی چی څومره جنکيانی هلکان راتلل هغوی په طعنه خندل، او بعضی هلکانو هسی د ټوکو خندل، بس بيکاره مخلوق دی منتظر دی يو نفر يو کار وکړی يا استاذ يو شاګرد ته يو خبره وکړی چی د دوی ورځ ورباندی تير شی، په افسوس مي سر وخوځه ويی.او فکر مي درس ته کړی تر څو د دغه بيکاره جماعت د خندا سبب نشم بلخصوص د کبرا او د هغه د ګروپ...

د نيلوفر سره د پوهنتون د محوطي څخه وتلم چی د شالخوا يو نفر زما په تخلص راته غږ کړو.
-اغلۍ محمدی!..

(c) ketabton.com: The Digital Library



شا ته را وګرځیدم او سترګي مي په دوه شنو سترګو کی بند شول، په کراره زموږ خواته رانږدی شو او څو ګامه پاتي موږ ته په فاصله و دریدو.

-وبخښي اغلي محمدی چي ستاسو مزاحم شوم.
زما د څه ویلو څخه مخکي نیلوفر جواب ورکوو او ویی ویل: مشکل نسته ښاغلي شاپوری که امکان یی شته ژر خپل د وخت نیولو موضوع ووایست چی موږ نور رخصت شو!

نیلوفر په لهجی چی د حسیب طعنه یي په طعنه جواب کړه، خندا راغله اصل کی حسیب ما ته طعنه راکول په هغه لفظ د اغلی محمدی! باندی ځکه موږ د ادبیاتو پوهنځی څخه یو او زیاتر اوقات په خبرو کی د مقابل کس تخلصی استعماله وو نه نوم.

حسیب لږ خپل غاړه تازه کړل او ویی ویل: هغه ما غوښتل پوښتنه وکړم که بی ادبی حساب نکړی، نن تاسو محترم میرمنو کوم کار درلود چی زما صنف ته راغلی واست؟

یعنی دا کس پدی طعنه لرونکی لهجه پدی شنه سترګو چی شیطنت ورڅخه وریږی همغه د دری میاشتو مخکی حسیب دی؟ یعنی یو انسان په دری میاشتو کی دومره بدل کیدی شي؟ د ډیر حیرت څخه زما ژبه بنده راغلی وه او یواځی د هغه سترګو ته می کتل چی ما ته نور د هغه دری میاشتو مخکی پشان هیس معصومیت پکی نه ښکاره کیدل...

نیلوفر- اول به شما هیچ ربطي نداره جناب شاپور که پرسان کنین ما واسه چی اونجا امده بودیم؟ دوم اینکی برادر محترم ما به دیدن یک شخصی امده بودیم و کار داشتیم کی متاسفانه نشود ملاقات کنیم.

- حسیب په همغه پوسخند بغیر لدی چی زما څخه نظر واخلی د نیلوفر جواب یی ورکړو.

حسیب- وبخښی که زما په خبرو خفه شوی یاست، زما مطلب داسی نه وو. ما یواځی غوښتل مرسته وکړم ستاسو سره نه بل کوم قصد او غرض!..

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لفظ د قصد او غرض يي بل شانتي ادا کړو او اخيره کی پوسخند نور هم زيات شو، نيلوفر به همغه تُنده لهجه جواب ورکړو.

نيلوفر- تشکر برادر محترم ولی ما به شما احتياجی نداريم روز خوش.

او بيايي زه ځان پسی کش کړم تر څو د حسيب د هغه طعنه لرونکی نظر څخه می خلاصه کړی، اخيره کی راوګرځيدم او يوځل بيا مي ورته وکتل همغه ځای کی ولاړ وو او زموږ تلو ته يی په همغه شيطانی نظر کتل.

نيلوفر- بچه احمق راه ما را ګرفته کی بګه مه ميفهمم شما امده بودين مه را ديد بزنين**!** جلغوزه نه کی زيات مقبول هستی چاق پوکانه**!**؟

د نيلوفر پدی قهرجنه لهجه او داسی الفاظو می خندا راغله.

نيلوفر- ولی خاندی؟
-هسی ماته دی نصيحت کوی( د هغی د خولی پيښنی می وکړل) سر بچه مردم نام نمان اوس خپله لګيا يی.
نيلوفر- تا بيا پر ما ولی خوله نه وه خلاصه کړی چی دا سوئ تغذی زه وليدم**!** اوس هغه درته رو در رو طغنه زد داری ميخندی؟

نيلوفر رښتيا ويل اول چی حسيب می هغه حال کی وليدو دومره تغير کی حيرانه او په غوسه وم چی داسی ورته کمه راغلی وم خو اوس.

-نيلو پوهيږی اول يوځه به غوسه وم خو اوس ستا په خبره د هغه د دومره طعنه راکولو وروسته هم خوشحاله يم نه خفه..
نيلوفر په حيرنتيا وويل: خوشحاله يی کی اون بهت طعنه زده؟؟
-پوهيږی دری مياشتی مخکی چی کله ما ورته نه وويل او هغه په اوښکو راته زاری شروع کړل ډير می زړه وربانډی وسوځيدو، خو ماته هم حق راکړه ما نه غوښتل د داسی هلک سره دی و اوسيږم چی ټول خلک وربانډی ريشخند وهی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیلوفر- ما هم حق تاته درکړو اوس خبره ستا د انکار نده خبره دا ده چی ته ولی د
هغه په طعنه خفه نشوی او خوشحال شوی؟
-ځکه ما تر نن فکر کوو چی نن یا سبا به د هغه د خودکشی زان وژنی خبر
راوړی، ماته هغه دومره بی جرعته ښکاره کیدو خو نن( بی اختیاره می مسکا په
خوله راغله د هغه طعنه وهل، دهغه باډی، شټیل، کالی، ویښتیانو اړولو طریقه حتا
چپ لاس ساعت یی لا ماته زړه راښکونکی معلوم شو د هغه شنی سترګو کی نن
بیحده رڼا وه(

نیلوفر- اووو کجا رفتی؟
د نیلوفر په خبره د حسیب د فکر څخه را اوتلم.
-ها؟
نیلوفر- ها و مرض! چی میخاستی بګی؟
-هیس.. یعنی ما پدی ورته کومه خبره ونکړل ځکه زما شجاع او دلیر هلکان ډیر
خوښ دی !او نن ماته د حسیب دا نوی شخصیت ډیر خوند راکړو.
نیلوفر- اووو از دست رفتی هوسۍ.
و می خندل او ومی ویل: شاید...

د نیلوفر سره می خدای پاماني وکړل او د کور په طرف را روانه شوم، د کور
کوڅي ته رسیدلی وم چی د کور مخکی مي خاله او ادی ولیدل چی د یو څو ښځو
سره یي خدای پامانی کول! نږدی چي شوم نو ومي پیژندل زموږ مخامخ همسایه ګان
وه! زما پر لیدو باندی د همسایه ښځی ښه په خریدانه نظر راوکتل او په بیحده زیات
صمیمت یي زما سره سترې مشي وکړل حتا د حجاب له پاسه يي زما مخ ښکل کړو!
هغه دوه لورګانی هم خپل د مور پشان زما سره ډیر صمیمانه انداز باندی سترې
مشی وکړل چی خاله په تنده لهجه وویل: کوچه است مردا میرن میان دیګه بد است
بیاین داخل!

د خاله په تنده لهجه د خبری تر اخیره پوهه شوم خندا می راغله او په یو ببخشید
کورته ننوتلم ادی او خاله لا لګیا وه د هغوی سره یي خدای پامانی کول. خپل کوټی
ته ولاړم او د کړکی د شا څخه می د هغوی تلو ته وکتل، د هغوی د تلو وروسته خاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تروش تندی او ادی په خوشحالی کورته راغله. خاله می راباندی ګرانه وه ښه ښځه وه خو یو څه اخلاق یي بل شانتي وه او یو څه زامن او لورګانی کبرجن او خود پسنده وه یواځی خپل ځانونه ورته په انسانو کی ښکاره کیدل، زه نه پوهیږم آسما د داسی خلکو مینځ کی سنګه اوسیږی؟

د کوټی څخه راوتلم چی د خاله او ادی غږ می واوریدی چی خاله په کراره غږ ادی ته ویل:

خاله- سنګه شو خوری موږ تراوسه ستاسو د جواب په تمه یو؟
ادی- څه ووایم خوری هوسی زړه ندی.
خاله- وی، وی توبه، توبه دا نو سنګه بی شرمه ورڅخه جوړه شوی چی وایی دا میړه نکوم دا کوم؟
ادی- خدای دی نکوی خوری دسی ندی ویلی، یواځی وایی نغوارم خاوند می په کلو، کلو مسافر ویی او زه دی ناوی د هغه به کور کی ګرځم.
خاله په تنده لهجه وویل: نر دی! او نران خدای پیدا کړی سفر ته څه وکم خپل زمری غوندی زوی راوړم خپله په پلاوه یی وتړم بنګړی ورته په لاس کړم؟
ادی- وا دا څه وایی خور!؟ هوسی لورکی می دا خبری نکوی خو حق لری زه لا تراوسه د آسما هغه سره لاسونه د نکریزو نشم هیره ولی چی سنګه جلیل اول میاشت د ناوی توب ستاسو په درګاه پریخوده او دوه کاله ایران ته ولاړی هوسی هم حق لری.

- خاله -همدا تا او اوښي دا په سر پورته کړی چی داسی خبری او کارونه کوی، زه هم د یو میاشت ناوی وم چی د جلیل جان پلار خپل د مور او پلار په کور پریخودم او مسافر شو تر دری کالو می په سترګو ونه لیدی مړه شوم؟ اوس هغه دی ماشاﷲ زامن لرم لورګانی لرم کور لرم ځای لرم، دا د دی وخت انجونی هغه هم بیا دا پوهنتون ویلی...

نور می صبر ونکړو چی خاله دی زما په کور کي ماته او ادی بابا ته توهین او بی احترامی وکړی بغیر د سلام آشپزخانی ته ننوتلم.

-خبره د میړه پسی د سترګو وتلو نده، خبره د انسانیت ده زه چی ستاسو کورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشم ستا او ستا د میره او لورګانو لپاره نه راځم زه یواځی هغه کس چی د خاوند نوم می ورباندی دی د هغه لپاره خپل کور، مور او پلار پریږدم نو هغه دی هم دومره انسانیت ولری.. او کومه خبره چی خوښه مو نشول هغه د جنکیانو په تعلیم مه تړی، که تاسو هم تعلیم کړی وایی نو نن ورځ ددی له ځایه چی خپل د زامنو د لوفری طرف ونیسي هغوی ته مو نصیحت کوی چی یو ګوله حلال رزق دی خپل په وطن کی پیدا کړی نه خارج کی..

دا ټول خبری می په یو نفس او بغیر له کوم وقفی څخه وکړل داسی چی دواړو خورګانو په حیرت راکتل، کله چی خبری می خلاصی شوی په تلوار خپل کوټی طرف ته روانه شوم، پوهیږم یو جنګ جهانی مخ ته لرم ادی می ولا که ژوندی پریږدی خو پښیمانه نه یم ښه کار می وکوو هغه خبری که مي نه وایی کړی ټول عمر می ذهن په عذاب وو، نیم ساعت لا نه وو تیر شوی چی د خاله قهرجن غږ می په حويلي کي وآوریدی پرده مي لږ پورته کړه چی خاله می د تګ په حال کی ولیده، د کور حویلی ته رسیدلی وه چی د ادی خواته راوګرځیده او په پورته غږ یي په غوسه وویل:

خاله- زما زړه پر تا چی خور مي يي و سوځیدو چی ځوی نلری چی بیکسه بیکاره یی ما پر تا احسان وکو چی یو لور می درنه خپل زوی ته وکړه، ما ویل دویمی هم خپل زوی ته وکړم چی ستا میره ته زما زامن اوړه شی،کمک یي شی، زامن شی ورته، خو....

پرده مي دومره په لاس کی کلکه نیولی وه چي د ګوتو رنګ می سپین اوختي وو، هر دقه انتظار کی وم چی ادی خوله خلاصه کړی او د خاله طرف ونیسي او ماته خبری وکړی خو د ادی خبرو دومره حیرانه کړم چی پرده می د لاس څخه ختا شوه.

ادی- خوری خبرو ته دی فکر کوه! تا پر ما احسان ندی کړی بلکه ما پرتا احسان کړی چي خپل ګل غوندی لور می ستا زوی ته درکړی ده، زما پر لورګانو مرکي کم ندی او نه هم وه، دا چي خپل لور ستا زوی ته مي در کړه زړه مي پرتا باندی وسوځیدو د شین خالو د لور( د خاله د مشر زوی جمال خواښی نوم شین خالو وو) ظلم مي دربانډی نه وو پیرزو چي هره ورځ دی ماته خپل د اینګور د لاسه سری اوښکي تویه ولی...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ادی په خبرو بیحده خوشحاله شوم اول ځل وو ادی مي لیدل چی خپل د ماشومانو خوا یي نیول، نور می د خاله خبری وا نه وریدل یواځی د دروازی د بندیدو کلک ټک وو چی راغی .پوهیدم ادی اوس راځی او خپل زړه پر ما بنه صحیح یخه ویی خو ورته خفه نه وم بلکه خوشحاله وم چی نن ادی په اول ځل، داسی سم کار کړی چی د پردیو او بیګانه خلکو په مخ کی زما خوا نیولی.

-بیا د کوم پلان په فکر کي یي چي دا ځل ښنګه خپل خواستګاران وتخته وی؟
د ادی طرف ته چی د کوټی په دروازه کی ولاړه وه وګرځیدم او په عاجزه او معصومانه لهجه می وویل: نه پخدای هیس داسی فکر مي نکوی.

ادی کوټی ته رادننه شوه دروازه یی ځان پسی بند کړه د کینستلو په حال کی ماته چی د کړکی سره ولاړه وم وویل: راشه کینه درسره کار لرم.

پوهیدم چی اوس د ادی نصیحتونه شروع کیږی د هر مرکي تلو وروسته ادی دری ساعته د واده په ښه والی فایدو او د واده زرها نور ښیګڼرو باندی خبری کول او نن د خاله موضوع هم وه نو بیخی نصیحتونه زیات دی، خو بیا هم د دی لپاره چی بی ادبی ورته ونکړم او زړه یي مات نشي د ادی ښنګ ته کینستلم.

ادی- که خدای غوښتلی وایی او قسمت مي وایی اوس باید اوه اته زامن مي شاوخوا ګرځیدل( دا خبره یي چی وکړل یو اه یي وباسي او په غمناکه لهجه یي خپل خبرو ته ادمه ورکړه) قسمت نه وو چي یو زوی مي راته پاتی شی. د خدای کارونه دی او د خدای په کارو کی موږ بندګان څه کولی شوو؟ خپله یي راکړه خپله یي واخیستل.

په خفه نظر می ادی ته وکتل.چی ادی زما د ټکری څخه راوتلي ویښتیان په کرار زما د غوږ شاته کړل او ویی ویل: ماته وګوره زه باید ستا لپاره د عبرت درس و اوسیږم.
په غوسه می ناری کړل ورته چی ادی په همغه غمګینه لهجه وویل:

ادی- زه هم ستا پشان په کبر غرور کی وم، کلي کي مو ژوند کوی خو دومره مرکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



می درلود چی په هوا وم د کلي انجونو لپاره د مرکی درلودل غټ افتخار دی زه هم د هغوی پشان وم، بیا د پلار کوچنی نازولی لور وم زما د زړه خبره یی هم منل هر یو چی مرکي ته مي راتلي یو عیب یو بهانه به می کول او نامراده به مي استوی، اخیره کی چی عمر مي د ۲۳ کالو ښځه تیر شو او مرکي په کمیدو شول، ډار واخیستم او د

- یواځی توب له ویری د واده کولو په فکر کي شوم خو هغه وخت چیرته وو سم مرکه؟ چیرته وو داسی سړی چی سر يي په بدن وارزی؟ ټول هغه ځوانان چی یو وخت کي زما غوښتونکی وه هغه وخت خپله د څلور پنځه پچیانو پلرونه وه، اخیره کي چي اولی مرکی د دومره کلو وروسته راغله ومی ومنل او په ۲۴ کلنی کی د کلي

د معلم صیب ستا د پلار ښځه شوم چی زما څخه يي مخکی یوه ښځه مړه شوی او

یو ماشوم درلود چی د هغه ماشوم د مرګ وروسته يي د نوی واده اراده کړی وه،( ادی غټ نفس واخیستو او په مسکا یی وویل) راضی وو خپل دبخت څخه احمد( زما پلار) ښه سړی وو او دی. دوه زامن مي پیدا شول تر یوه دوه میاشتو به رک روغ وه خو ناساپه به مړه شول، اوه زامن می همداسی پیدا به شول د یوه دوه میاشتو به شول او بیا به مړه شول، تر دی چی آسما جانه پیدا شول او خدای راته

وساتل، بیا دوه کاله وروسته ته پیدا شوی خپل د جملی ورور سره چی ته پاتی شوی او هلک مړ شو، او د هغه هلک د مرګ سره په ټول کلی کي آوازه خپره شول چی د معلم صیب ښځه ناعلاجه مرض لری او زامن یی مړه کیږی لورګانی پاتی کیږی! زما د زامنو مرګ درد یوخوا او د کلی د ښځو پیغورنه او خبری بلخوا، زما په مخ کی به یی ما ته ویل چی تخو د عمرونو ښځه یی ژر دی میره ونکو ټول دهغه د لاسه اوس

دی زامن مړه کیږی ورشه خپل میره ته بله ښځه وکړه چی ورته زامن راوړی ته یی خو ورته نشی راوړی( ادی د سترګو څخه اوښکی توی شول) دومره طعنی می واوریدل چی اخیره روانی مریضي راته پیدا شوه ستا پلار چی کله زما خراب حالت ولیدو د مجبوری څخه يي کلي پریخود او رایوستو دلته شهر ته. ادی خپل اوښکی پاک کړه او ماته چی په خفه انداز می ورته کتل وویل:

ادی- زما خبره اوس تاته ده شاید زما زامن زما د عمر د پورته والی له سببه مړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی نه یی! خو مرکی مي د عمر د پورته کیدو سره بندی شوی، یو میوه تر هغه وخته خوندوره او مزی داره ده چی د پوخ والی په حال کی ویی کله چی د حد څخه ډیره پخه شي خرابیږی بیا هیڅوک نغواړی هغه میوی ته وه لا ګوری خوړل خو لری. تاته هم مرکي تر یو وخته راځی بیا دهغه څخه وروسته ته به انتظار کوی خو هیڅوک به نه ویی چی ددی کور دروازه ستا د غوښتلو لپاره وټکه ویی.

په خفه لهجه می وویل: ادی! زه کوم میوه نه یم چی د وخت تیریدو سره خوسا شم! او هو زه ضرورت نلرم چی سوک دی زما د غوښتلو پسی د کور دروازه وټکه ویی..

ادی په غوسه راوکتل او په تنده لهجه یی وویل: د یو جنۍ عزت د هغه د پلار په کور کي د هغه مرکی غوښتونکی دی دا خبره لیاده مه باسه، او هر جنۍ یو هم دم او یو سړی ته ضرورت لری چی دهغه د سايي لاندی ژوند تیر کړی.( یو نظر یی بیا ماته چی خفه نظر می ورته کتل وکو او دا ځل يي په کلکه لهجه وویل) هر خبره او نصیحت چي زما په نظر د یو مور په حیثت باندی تاته می کړی وایی ومی کړه، یو ځل نه، دوه ځله نه، بلکه زر ځله می درته کړی نور خپله پوهیږی چی ویی مني کنه؟!

ادی دا خبره وکړل او له ځایه پاسیده د کوټی څخه د وتلو مخکی وویل: راشه ډوډی دی وخوره سهار چی یو ګوله ډوډی دی خوړلی..

ځای کی پرته وم هوا ګرمه وه یو نری کمپل می په ځان اچولي وو. او سترګی می د کړکی خواته نیولی وه چی د هر شمال په سړیکه باندی پرده خوځیده او ملایمه هوا کوټی ته رادخلیده،فکر می د نن غرمه د ادی خبرو ته وو ادی د یو ځوی آرمان درلود او په همدی خاطر یی غوښتل چی د خاله له کورنی سره اړیکه وپالي ترڅو د خاله زامن بابا ته د خاله په خبره زامن او اوړه شی، خفه وم د ادی څخه نه وم خفه.د دی

بخت څخه خفه وم چی ولی باید زما اته ورونو کی یو دی لا ژوندی پاتی نشی؟ که یو دانه ورور می ژوندی وایی نو نه به د خاله منت وایی او نه هم د ادی پریشانی او نه هم زه دومره بی پناه! بابا ډیر کوښښ کوی چی زما هر ضرورت او نیاز ته توجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړی خو د وروړ ځای نشي پوره کولی، که وروړ می درلود هره ورځ د هغه سره تلم پوهنتون ته، پارک ته چکر ته، کولی می شو د شپی په ناوخته وربانډی ناز وکړم او

وایستوم دوکان ته خو اوس.. ددی ټولو نیمګړتیاو ځای بابا په یواځی ځان ماته پوره کوی او په همدی خاطر زه همیشه کوښښ کوم چی زیات یي په زحمت نکړم او خپل د زړه آرمانونه ځان سره وساتم ځکه زه وروړ نلرم..تر سهاره یو انډی بل انډی باندی وګرځیدم خو خوب رانغی سهار مونځ می د مولا په اول آذان د ټولو څخه مخکی وکو او خپل په بستره بیا پریوتم نه پوهیږم څومره به په فکرو کی غرقه وم چی خوب ځان سره د بی خبری نړی ته وړی وم..

نن سهار وختي د دی له ځایه چی د جمعي د ورځی د رخصتی خوند واخلم د سهاری راهیس ادی په سلو کارونو مصروفه کړی وم، او اوس هم په لمر کی کینولی وم چی زما سر وګوری! هر سومره چی ورته وایم ادی زما سر سپږه نلری! زما خبره نه منی! او تار په تار ویښته می اړوی را اړوی؟! همغه حالت کی وویل:

ادی- فکر دی وکوو؟
-د څه په اړه؟
ادی- ځان ماته ناګاره مه اچوه پوهیږی څه درته یاده وم؟

- پوهیدم چی ادی د همسایه د ښځی مرکه چی زه یی خپل هغه عینکی زوی ته چی دا ورته د ناز انجیرآغا جان وایی غوښتی یم. خو نه می غوښتل د دی څخه مخکی چی د ادی او بابا په جواب پوهه شوی نه یم ادی ته خپل پریکړه ووایم په همدی خاطر خپل سر می د ادی د زنګون څخه پورته کو، خپل ویښتیان می د غوږ شاته کړل او کراره لهجه می و ویل:

-تاسو بابا ته وویل؟
ادی- هو..

-ښه نو بابا څه ویل؟ د هغوی څه نظر وو؟
ادی په غوسه راوکتل او په تنده لهجه یی وویل: څه به وایی؟ ستا پلار دی په ضد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی ستا څخه وړی ده، ویل یی زما خبره زما د لور خبره ده هغه چی هر څه
وایی، د هغی" نا "زما نا ده او دهغی" هو "زما هو ده!.

د ادی پدی خبره بیحده خوشحاله شوم او خوله می د خندا څخه خلاصه شوه چی ادی
په غوسه ویښتیان یی راته کش کړل او ویی ویل: سپین سترګی..
-اخ.. ادی خوږه دی کړم...

د ادی د څنګه پاسیدم او په خوشحالی خپل د کوټی طرف ته روانه شوم چی ادی غږ
کړه.
ادی- و دی نه ویل ستا جواب څه دی؟
په خندا می مخ ادی خواته را وګرځه وو او ومی ویل: خدای دی نکوی چی زه دی د
هغه عینکی ښځه شم سبا بله ورځ به می د ماشومانو سترګی په مخ کی نه معلومیږی
ماته به ښیراوی کوی چی ولی د دی عینکی ښځه شوی وی؟

دا خبره می وکړل او په خندا د کوټی خواته می پښی تیزی کړی چی د ادی غږ می
واوریدی چی سپین سترګه بی حیای يي راته ویل خو زه بیحده خوشحاله وم دا چي
بابا راته دومره عزت او احترام راکو او زما نظر يي خپل نظر ومنو. زه نه پوهیږم د
دوی ولي دومره ماته تلوار دی؟ دا هم شکر مرکي لرم که نه می درلود بیخی ویل
چی هوسي د بلار په کور پاتی شوه زړه شوه؟! دوه دری ساعته په کوټه کی مي
موښتی وم خو زړه می تنګ شو، یو مات موبایل می درلود چی کله ناکله تلم د
پوهنتون واټساپ ګروپ ته یا هم د نیلو سره می خبری کول خو اوس بدبختانه
انټرنیټ می نه درلود! یو دم می یو فکر ذهن کی وګرځیدو به خوشحالی له ځایه
پاسیدم خپل حجاب مي واغوندی او د کور حویلی طرف ته روانشوم چی ادی راباندی
غږ کړو:

ادی- چیرته روانه یی ګشتکی؟ د جمعي په ورځ لا ته کور کی نه تینګیږی او حجاب
کړی روانه یی؟

په نهایت مظلومیت می ادی خواته وکتل او په زاریو می و ویل: دغه د کوڅی سر
دوکان ته ځم ځانته کاکو اخلم او شل روپی موبایل ته ایزیلوډ کوم دا یو هفته کیږی
انټرنیټ می ندی فعاله کړی..

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادی تندی تروش څو او په تنده لهجه یی وویل: بیځایه. خبره یی لا مه کوه. ستا خاله ربښتیا ویل ملامته ټوله زه یم چی ستا سپین سترګی په کارو باندی کار نلرم. څه معنا لری پیغله جنۍ ټوله هفته په بیرون ورکه یی؟ د پوهنتون په نوم؟ او یو نن چي رخصت شوی يي دوکانو درته بهانه شو د کور څخه د وتلو لپاره اجازه نشته کورته راننوځه، نن په آشپزخانی کی زما سره مرسته وکړه تر څو لږ آشپزی زده کړی سبا ورځ خپل میړه او خوابنی ته ما ونه شرمه ویی.

په خوار لهجه می وویل- ادی پخدای نفس می بند شو، پخدای ژر ځم ژر راځم..
ادی بد بد راوکتل خو هیس یی ونه ویل
چی دا ځل می ستراتیژی بدل کړل او په نرمه لهجه می وویل: زه درنه قربان شم مور می،ادی می،شیرنه می...
خبره می لا خلاصه شوی نه وه چی ادی په خندا شوه و ویل: بس دی، بس دی، بوټ پاکي ..ورځه خو ژر به راځی د دی څخه مخکی چی بابا دی راشی.

په خوشحالی باندی می د لاس په اشاره ادی ته یو مچ واستو او ژر د کور څخه ووتم، د حویلی څخه چی ووتلم خپل حجاب می یوخل بیا سم کو. هوا ګرمه وه او د ورځي پدی وقت کی بغیر د دوه دری ماشومانو څخه چی چشلي کول سوک په کوڅه که نه وه. د ویالی( نلي) له څنګه تیره شوم او سړک ته راووتلم. هوا کرار،کرار په سړیدو وه د پسرلی یو بل میاشت پاتي وه بیا نو خزان شروع کیدو او بیا ژمی،

یخ، واوره، خزان می خوښیدو د هغه کله ناکله باران سره یی چی آسمان به یو دقه کي لمر وی او بل دقه باران! د موټر په آوازونو مجبوره شوم خپل قدمونه تیز کړم او د سړک هغه بلخوا واوړم، د کاکا مرتضی د دوکان دروازه می خلاصه کړه او ورننوتلم زما د سلام په جواب کی یو د ۶۵ کالو په عمر بوډا سړی چی کاکا مرتضی چی د بابا قدیمی ملګری وو په خلاص تندی جواب راکو، ژر می دوه دری دانی کاکو او بیسکیټ راوخیست او پنځوس روپی می خپل نمبر ته ایزلوډ وغوښت. کاکا مرتضی په همغه ذاتی مهربانی زما غوښتل شوی څیزونه را برابر کړل او همغه حال کی پوښتنه وکړل:

کاکا مرتضی- څنګه دی معلم صیب؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-شکر ښه دی الحمدالله.
کاکا مرتضی- زه شکر چې ښه دی. پوښتنه می وکړل ځکه دا څو وخته می بیخی لیدلی ندی معلم صیب.!؟

د کاکا مرتضی جواب می غوښتو ورکړم چی د دوکان دروازه خلاصه شوه او یو ځوان هلک دوکان ته راداخل شو، د هغه په راتلو ما خپل سر تر اخیری حده ښکته کو او کاکا مرتضی چی هم هغه ځوان هلک ولیدو زما کار یي ژر خلاص کړو او د معلم صیب ته سلام کوه په ویلو یي ماته اجازه راکړه، ژر د دوکان څخه ووتلم. په خوند
خوند د کور طرف ته راونه وم او خپل اخیستل شوی سودا ته می کتل، چی سترګی

- مي لری د سړک سر کي په یو جواری فروش ولګیده! زړه می غوښت هغه کلک نیني کړی جواری یو دانه واخلم ځانته خو، نه نور پیسی راسره پاتی وه او نه هم دومره تلی شوم هغه ډیر لری وو! په خوار نظر می هغه طرف ته کتل چی یو چا د شا لخوا زما پر اوږه لاس کیخود !لاس یو نارینه لاس وو؟ په وحشت او ویری ژر شاته راوګرځیدم..

بابا- ته بیا د یو پاېر او کاکو پسی له کوره راوتلي يي؟
د بابا په لیدو می راحته نفس واخیستو، او په خندا می وویل: زه دی خبری ته حیرانه یم چی سنګه تاسو ما د حجاب سره پیژنی بابا؟

بابا بغیر لدی چي جواب راکړی زما لاس یي خپل په لاس کي ونیو او د سړک څخه يي تیره کړم، د بابا پدی کار مي مسکا په خوله راغله او په خندا می وویل:

-بابا زه دری کلنه ماشومه نه یم چی تاسو مي د سړک څخه تیره ویی؟
بابا- اولادونه چي هرسومره غټان هم شي بیا هم د مور او پلار لپاره همغه کوچني ماشومان دی.

څه می ونه ویل او په مسکا می ورته کتل چی بابا لدی لځایه چی د کور خوا ته حرکت وکړی زه یی د ځان پسی د هغه نیني کړو جوارو مخ ته چي یو کوچني هلک په کراچی کي خرسه ول ودره ولم..

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا- یو دوه دانی گرم تازه جواری راکړه بچي.

هغه کوچنی ماشوم د بابا په خبری په خوشحالی باندی دوه جواری په مالگو کی واچول او د گرم کولو په حال کی وویل: امیالی زود برایتان جواری گرم گرم میتم کاکاجان.زه بغیر لدی چی هغه هلک خبرو ته پام وکړم د بابا خواته می کتل چی تراوسه یی زما لاس نیولی وو او د جواری گرم کیدلو ته یی سترکی نیولی وه، له ځان سره می وویل بابا د ټولو عالم د سړیانو ښخه بهترینه دی.

د ماښام لوښو مینځلو وروسته می تازه چای دم کړو او پتنوس په لاس برنډی ته ولاړم چی بابا می د مانځه په حال د برنډی کونچ کی ولیدو، او ادی پداسی حال کی چی یو بالښت ته یی تکیه ورکړی وه تسبیح اړول. چای می د ادی مخ ته کیښود چی ادی په مهربانه لهجه وویل: خدای دی بختوره که لورکی!
د ادی پدی مهربانه لهجه او انداز پوی شوم چی څه پلان لری؟ غوښتل می هغه ځای پریږدم او خپل کوټی ته پناه یوسم چی ادی وویل:

ادی- سبا ته د همسایه ښځه د جواب پسی راځی ښه فکرونه دی وکړه او ماته وواېه چی سبا زه ورته څه ووایم؟

ادی زه بد وقت راگیره کړی وم د بابا مخکی د داسی خبرو جواب ورکول بیحده سخته وه د شرم له لاسه تکه سره شوی وم، په تروش تندی می ادی ته وکتا او غوښتل می له ځایه پاسم خو لکه چي ادی کلکه اراده کړی وه د بابا په مخ کي ما گز گز د شرم ښخه د ځمکی اوباسی..

ادی- خاله دی هم د جواب په تمه ده تراوسه خوارکی هره ورځ پوښتنه کوی هوسی څه وویل؟ هوسی ځواب څه دی؟

غوښتل می جواب ورکړم چی بابا پداسی حال کی چی خپل دمانځه سلام گرځه وو وویل: لور د کور برکت دی میرمني. هغه هم داسی لور چی د مشر او کشر په احترام پوه شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا دا خبره وکړل او د جاى نماز څخه پورته شو د الماری خواته ولاړ او خپل جاى نماز يي د االماری په سر کيخود، او په الماری اوږه تکيه کړه او کرار لهجه باندی وويل: هغه هم پدی وخت او زمانه کي چي د ښه او بد پيژندل سخته شوی. اوس که هغه ستا خوری ويي که د ډګروال نازدانه زوی انجينرآغا وی! تر څو چي زما د سترګو مخ کيده نه يي د ډوډی غم لرم او نه هم د شين تور وهل شوی بدن يي، چي يو بی خبره د خدای دی په نوم د خاوند راته ووهی..

ادی په غوسه شول او په تنده لهجه يي وويل: دا جنۍ همداسی هم سپين سترګی ده. او دا تعريفونه چی تا د ميره د کور څخه ورته وکړل سل کاله نور هم واده نکوی..

بابا دا ځل په مهربانی ادی ته وويل: غوسه مه کوه زما د زړه سکون. موږ يو او يو دا د سر تاج لور مو ترڅو چي زوم مي د فرهاد پشان غر نه ويی کينلي لور مي ورته نه ورکوم...

ادی د بابا په ناز د شرم او حيا څخه تکه سره شوه خو ما د بابا په ناز په خوشحالی وخندل چی ادی لاس راته چونګاری کړو او بابا په لوړ غږ په خندا شو.. او ما په زړه کی دعا وکړه چی هيڅکله دی خدای زموږ دا د محبت او مئينی څخه ډک کور راته وران نکړی...

***

د نيلوفر سره د عادت مطابق خپل په هميشنی چوکي کينستلم چی د ميز لاندی يو سور ګل او په ګل تړلی يو کوچني کاغذ ته مي فکر شو؟ دا نو چا دلته کيخودلی؟ نيلوفر ته می ښکاره کړو چی هغي په خوشحالی وويل:

نيلوفر- ضرور يو چا تاته کيخودلی ځکه ټول پوهيږی دا چوکی ستا ده، زود باش ببيين د کاغذ چی نوشته؟

کوچنی کاغذ می په بيحده ويری او پريشانی خلاص کړو په زړه کي مي دعا،دعا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول چی دغه گل او نامه دی یو چا نیلوفر ته ایخودلی ویی نه ماته! خو د خط په اولی کرښی چی غټ لیکلی شوی وه " زما د خوبونو شهزادگی اغلی محمدی ته دی ډالی وی "د دی لفظ پر لیدو باندی مي ټول امیدونه له مینځه لاړه. نیلوفر په شوق باندی سترگی کاغذ ته نیولی وه چی ما کاغذ قات کړو چي پدی کار مي د هغي د اعتراض غږ پورته شو.

- نیلوفر -څه کار کوی؟ ولی دی قات کړو؟

نیلوفر لږ زما خواته راوکتل او بیایی په شیطنت وویل: اوووو غواری په تنهای خپل د عاشق خط ووایی؟

دا خبره یی وکړل او په خندا شوه چی ما یی لاس چونکاری کړو او په غوسه مي د هغی مخکی هغه کاغذ وشکوو او ومی ویل: زه د دی عشق او عاشقی قیصو لپاره پوهنتون ته نه یم راغلی او نه هم ستاسو پشان دومره و دی پوچ الفاظو او کارو باندی خوشحالیږم، دا ټول کارونه هغه کسان کوی چی نه عزت پیژنی او نه هم ناموس، د همدی کارو له سببه د درس او تعلیم نوم بدنام شوی او هر جني چي درس ویلو لپاره د کور څخه بهر را اوځی خلک ورته د بی حیا او ناپاکی گمان کوی.

زما په خبرو نیلوفر چوپ شوه او په کراره لهجه یی وویل: زما مطلب دا نه وو! -پوهیږم ستا مطلب څه وو، او اوس هم زه ستا له خبری څخه نه یم غوسه زه غوسه د هغه کس څخه چی دا گل او لیک يي لیکلی دی.

همدا چی صنف خلاص شو اولی نفر زه وم چی د صنف څخه ووتلم او نیلوفر هم په زغاستو راپسی وه گل او شکیدلی لیک می په لاس کی نیولی او په تلوار روانه وم.

نیلوفر- چیرته داسی زغلی؟ چیرته ځی؟

بغیر لدی چی د نیلوفر پوښتنی ته جواب ورکړم د ادبیاتو د پوهنځی څخه ووتلم او د اقتصاد پوهنځی ته ننوتلم، ټول گناه زما خپل ده باید هغه اول ځل د دی له ځایه چي په محترمانه لهجه می انکار کړی وایی یو دوه سپکي سپوری می ورته کړی وایی ترڅو خپله خپل په اوقات او ځای پوی شوی وایی، خو ما د انسانیت څخه کار واخیست. په غوسه می د اقتصاد صنف دروازه خلاصه کړه او بغیر له دی چي د شاگردانو او استاذ د حیرت څخه خلاص خولو ته وگورم د صنف اخیری قطار د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسیب د چوکي سره پښه نیولی و دریدم چی حسیب په حیرت یو ځل ماته بیا زما په لاس کی نیول شوی شکیدلی کاغذ او ګل ته نظر شو...

-ښاغلی حسیب الله شاپوری.. زه یو پښتنه جنۍ د یو با عزته کورني څخه یم او دلته د درس ویلو او آینده کي د دی وطن د خویندو لپاره د یو ښه کار کولو په امید راځم، نه د عشق او عاشقی قیصو پسی او ( حسیب غوښتل خبره وکړی چی د لاس په اشاره می منع کړو او ومی ویل) او نه هم د خاوند د پیدا کیدو پسی راځم! ما تاسو ته یوځل مخکی هم جواب درکړی وو او دا ځل بیا د ټولو په مخکی وایم زما جواب ستاسو د طرف هر شانتی رابطی او د عشق قیصی لپاره منفی او انکار دی. یو ځل بیا که دا کار مو تکرار کړو په دومره محترمانه توګه درسره خبری نکوم ښاغلی شاپوری.

دا خبری می وکړل او په تلوار بغیر لدی چی د کوم چا خواته وګورم نیغه د اقتصاد پوهنځی څخه ووتلم، او بیچاره نیلوفر هم همغسی په زغاستو او نفس، نفس زما پسی وه .چی حسیب د شالخوا په لوړ غږ وویل: اغلی محمدی لږ صبرا!

په غوسه می مخ ورواړه وی چی هغه په خلاص تندی او خوشحاله ګامو زما طرف ته راغو او په مسکا یی وویل: مننه.

د حسیب د مننی په لفظ د حیرت څخه مي سترګی خلاصي پاتی شوی چی هغه په لوړ آواز وخندل او په طعنه لرونکی انداز یی وویل: کوم وقت څخه چی تاسو ماته "نه "وویل ما کلک اراده کړی وه چی زه به دومره یو با ارزښت نفر کیږم چی تاسو خپله زما پسی راشی او زما رد کړی انکار څخه بخښنه وغواړی، زه د دی څخه منکر نه یم چی زه اوس هم ستاسو سره د زړه د خلاصه مینه کوم! خو دا لیک لیکل ګل استول نه اول کی زما اخلاقو کی وه او نه هم اوس دی. او مننه د دی لپاره چی ما ته مو خبر راکړو چی یو بل بیعقل هلک ستاسو پسی دی زه د هغه چاره کوم تاسو په راحت خیال خپل درس ووایست، نور مو وخت نه نیسم خدای پامان.

د حسیب تلو ته ما او نیلوفر دواړه په حیرت کتل چی نیلوفر په ګنګسه لهجه وویل: ای امیالی چی ګفت؟ ویل مینه لرم؟ نلرم؟ لیک می استولی؟ ندی استولی؟ مه کی بیخی نه فهمیدم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-زه هم په نورو خبرو يي پوه نشوم خو دومره پوه شوم چی لیک ده ندی لیکلی.

ټول لار په همدی فکرو کی وم، که لیک حسیب ندی لیکلی نو چا لیکلی وو؟ او حسیب ولی مننه وکړل؟ او ولی یی وویل یو بل بیعقل ستاسو پسی دی او زه یی چاره کوم؟ څه مطلب؟ ویی ویل زما سره مینه لری خو انتظار کوی چی زه ورته ووایم؟ په همدی ګډ وډ فکرو کی کورته ورسیدم ادی ته می سلام وکړو چی هغی هم په نیولی غږ علیک راته وویل خپل حجاب می بدل کړو او په ډوډی کینستلم، ناسته په دسترخوان وم او ډوډی می خوړل خو ټول فکر می د حسیب په خبرو کی وو. چی د ادی په خبره د فکر د نړی څخه راووتم.

ادی په غوسه وویل: نن د همسایه ښځه ستا د جواب آوریدو پسی راغلی وه؟
-ښه نو تاسو څه وویل؟
ادی- څه می ویلی وایی ستا او ستا د پلار خبره می ورته وکړل او رخصت می کړل.
-نو ولی تاسو غوسه یاست؟
ادی دا ځل په تنده لهجه وویل: همدا چی ورته می وویل زموږ جواب" نه "دی داسی خبری راته وکړل چی..( ادی چوپه شول او په غوسه یی د دسترخان په سر پیالی ته سترګی ونیول.. چی ما وویل)

- -څه یی درته وویل ادی؟

ادی په همغه غوسه ناکه لهجه وویل: بدی خبری وکړل پر تا یی تهمتونه وتړل ویل یی داسی پاکه لور دی هم ن( ادی خبره پوره نکړل او په غوسه د دسترخوان څخه پاسیده د ادی پسی می کتل چی خپل کوټی ته ننوتل او دروازه یی هم له ځان پسی وتړل، نور می ډوډی ته زړه نه کیدو پاسیدم او دسترخوان می ټول کړو،فکر می دومره خراب وو چی لوښی مینځو وقت کی مي دست کشی په لاس نکړل خپل د لاسونو په خاربښت می فکر ورته وشو، لوښی می ژر،ژر خلاص کړل او خپل کوټی ته

مي پناه و یوړل، د لاسونو سوځیدل او د دی یو هفتي خبرو بوج بی واره اوښکی د سترګو څخه راته توی کړل، خپل ځای ته مي پناه یوړل او ژړا ته می شروع ورکړل. خدایه ما ډیر لویه غوښتنه درڅخه کړی؟ ما ستا د نعمتو ناشکری کړی؟ زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دومره بده هم نه یم، دومره ګنهکاره هم نه یم، دوی چې وایي هغه شانتی بیحیا هم نه یم، خدایه تخو شاهد یی چی تراوسه می پښه غلطه نده ایخودلې، داسی کار می ندی کړی چی د بابا په نوم دی لړ شانتي د بدنامی سایه پرویځي بیا ولی؟ بیا ولی

خپل ټول بندګان دی زما پر خلاف کړی؟ آیا زه د لړ شانتی نیکمرغی حق پدی دنیا کې نلرم؟ حق نلرم خپل په زړه دی خپل د ژوند همسفر انتخاب کړم؟ حق نلرم تعلیم وکړم؟ اخیر ولی دی موږ ښځی دومره ناتوانه پیدا کړی یو؟ په همدغه ژړا او ګیلو کی خوب وړی وم.یو وقت پدی احساس چی زما لاس د یو چا په لاس کیدی په ویرې باندی مي سترګی خلاصې کړل! چی خپل لاس مي د بابا په لاس کي ولیدو؟ بابا پداسی حال کي چې تندې تروش نیولی وو زما پر لاسو یي ملحم وهل! خوب راته ټول هغه ګیلي او ژړا له مینځه وړی وه،

د بابا پدی مهربانی ټول هغه کړی ګیلي او خبری می لیاده ووتل، او یوځل بیا و دي نامرده او ناځوانه دنیا ته مي امید پیدا شو.همدا اوس همدا لحظه مي ښه احساس درلود، بیا تیاره وم چې یو ځل بیا د اول څخه پیل وکړم، او د دی نامرده دنیا مقابلي ته ورشم زه نیکمرغه یم چی د داسی یو مهربان سړی لور یم. نور هیس ارزښت نلری نه د خاله خبری، نه د همسایه د ښځی بی ادبي او تهمتونه، او نه هم د حسیب هغه طعنه لرونکی خبری، هیس او هیس همدا اوس همدا شیبه ماته یواځی او یواځی د بابا همدا مهرباني د یو دنیا په اندازه ارزښت درلود. دومره د بابا پدی کار باندی ښه احساس مي پیدا کړی وه چی هیس مي دبابا نظر ته پام نشو د هغه پر غږ می وروکتل.

بابا- دا دست کشي ما د څه لپاره تاته راوړی؟
د بابا په پوښتني مي په معصومانه لهجه وویل: لیاده می ووتل.

بابا په ځیر،ځیر زما سترګو ته کتل چی پوه شوم او ژر می خپل سر ښکته واچوی،بابا زما سرو سترګو ته پام شوی وو! زه چی هرکله وژاړم نو پزه او سترګی می تکه سره کیږی او اوس په ژړا ویده شوی وم نو سترګی می د سور والو سره پرسیدلی هم وه. نه می غوښتل بابا خفه کړم.

بابا- باید زده کړی چی خپل د ستونزو مقابله وکړی نه دا چی تک په ټوک شوی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویی، ته ژړا ته ملا وتړی!
-نه هغه م..( بابا خبرو ته پرېنځودم او زما سر يي پورته کړو ترڅو د هغه سترګو ته وګورم او بیایي په کلکه لهجه وويل(:

بابا- ته زما د کور څراغ او رڼا یی، دا خبره هیڅکله لیاده مه باسه. هیڅوک دا حق نلری چی تاته دی بی احترامی یا غلطه خبره وکړی. پوه شوی؟ هیڅکله د دری بی منطقه جاهلو کسانو په خبره( زما لاسو ته يي اشاره وکړل او ویی ویل) ځانته تکلیف او نقصان مه رسه وه، ځکه دا بدن ستا ندی! دا تاته امانت دی او هیڅکله امانت مه خیانت کوه.

بابا دا خبری وکړل او د کوټی څخه ووتي، د هغه خالی ځای ته می وکتل او لځان سره می وعده وکړل چی نور به هیڅکله ځانته ضرر نه رسه وم. د شپي دوډی مو په یو کراره او صمیمانه فضا کی وخوړل، ادی هم زما د لاسو پر لیدو تندی تروش وو او اجازه يي رانکړل چی د ماښام لوښی ومینځم، د ویده کیدو مخکی دا ځل ادی راته ملحم باندی لاسونه غوړ کړل.

ادی- سبا بیا پوهنتون ته مه ځه آسما ته می خبر ورکړی د هغي سره لاړه شه ډاکټر ته .ترڅو یو شئ دی و دی لاسو ته درکړی.
-دومره ندی ادی ښه یمه.
ادی په تروش تندی وویل: ډيري خبرې مه کوه، ومي ویل سبا لاړشه ډاکټر ته وواېه په سترګو.

په خندا می د ادی و داسی امرانه لهجي ته وويل: په دواړه سترګو ملیکه علیٰ، ادی په غوسه راوکتل خو څه يي راته ونه ویل یو بل نظر یي زما لاسونو ته وکو، او خپل فرمایش يي یوځل بیا تکرار کړو، او د کوټی ګروپ يي خاموش کړو او ولاړه. د ادی په تلو مي کمپل په ځان راکش کړو او سترګی می خلاصه کړکی ته ونیول چی د باد په جریان خوځیده .د زړه د خلاصه می وويل خدایه شکر دی...

د آسما سره یو ځای د شفخاني څخه د کور په طرف را روانه شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسما- دا ملحم به هره شپه وهي او دا یو پاکټ ګولی هر وقت چی لاسونو دی زیات درد کول یو دانه وخوره.

- -اهوم.

آسما- او دست کشی همیشه په لاس کوه کنه لاسونه دی خرابیږی.

-اهوم.

آسما- او د ډاکټر خبری خو دی واوریدل؟

-اهوم.

آسما په غوسه وویل: بلا او هوم. سم لکه انسان پشان خبری وکړه.

-عه آسما ستړی یم هو، هو، پوه شوم چی ډاکټر صیب څه فرمایشات راکړل( او بیا پداسی حال کی چی د ډاکټر د خبرو تقلید می کوی ومی ویل) په عمر کی نور به دست کش اچول لیاده نباسی کنه د لاسونو څخه دی لاس پریوه، ستا لاسونه د شیمیایی موادو سره بیحده حساسیت لری..

آسما- ښه ده،ښه ده نور دی خوله مه جینګه وه.

د کوڅی سر ته رسیدلی وو چی آسما ته می وویل: نه راځی کورته؟ غرمه ډوډی زموږ سره وخوره.

آسما- نه خوري جلیل کور کي دی اوس مي هم ناوخته کړه، غرمه پاتی شم بیخی په قهر کیږی انشالله یو بل وخت.

-زه نو ډینګار نکوم انشالله یو بل وقت راشه.

د آسما سره می خدای پاماني وکړل او د دوا پلاستیک په لاس کوڅی ته ننوتلم، د غرمي پدی وقت کی مرغه لا پر نه وهي کوڅه کي. هسی د فارسیبان همسایه ګانو یو خوبی دا ده چي خپل ماشومان د غرمي لخوا یو دوه ساعته په زوره ویده کوی! او زموږ غوږونه د هغوی د چغ ماچغ څخه په آرامه کیږی. کورته نږدی شوی وم چی یو چا رابندی غږ کړو: صبر کو دختر معلم صیب؟

غږ می وپیژندو دا غږ می ډیر پدی کوڅه کی آوریدلی وو، د انجینر اغا غږ وو! بغیر لدی چی زه مخ ورواړوم هغه زما مخ ته راغي. مخ مي د حجاب لاندی د ډیر ویری او وحشت څخه تک سور شوی وو، خپله می د خولي ځاځکی خپل پر تندی احساس کول. د هغه په مخامخ دریدو دومره توان می په پښو کی نه وو چی یو ګام

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکی
لاړشم، دا پوهنتون نه وو او نه هم دا مخامخ عینکي سړی حسیب! چی زه ورباندی

خوله خلاصه کړم، دا زموږ د کور مخه وه او دا مخامخ ولاړ سړی زما غوښتونکي مرکی والا وو چی ما ورته د" نه "جواب ورکړی وو، که یو نفر زه د ده سره یوځای پداسی حال لیدلی وایی؟! قیامت جوړیدو. خو انجینر بغیر له کوم ویری ځخه یو څو ګامه نور هم رانزدی شو او په کراره غږ یی وویل: در ادب و تربیت ما و شما ای
رکم فرهنګ نیست کی یک جوان خودش یک دختر ببینه و خواستګار راهی کنه !

ولی مه خودم دیدم، خودم خوش کدم، و خودم خواستکار فرستادم! تا که قسمت بشه دختر یکی یکدانه ای معلم صیب نور خانه ام شوه( یو غټ نفس یي واخیستو او بیا یی ادامه ورکړل) ولی از بخت بدم تو رو در رو ګفتی" نه "ومه را بیخی حیران ساختی! وختی مادرم ګفت جواب خانواده شما" نه "است فهمیدم او لفظ" نه "از دهن شما است نه خانواده تان. وقتی" نه "تان شنیدم با خودم ګفتم من از او مردای نیسم که به جواب" نه "یی یه دختر کونج خانه بشینم و زاری و ناله کنم! چند روزی میشه که دنبال یک وقت مناسب بودم که رو در رو با شما ملاقات کنم و بپرسم چرا به خواستګاری من ګفتین" نه "چرا دختر معلم؟

د حجاب لاندی می خپل شونډه د غاښ لاندی کړه او ومی چیچل، دومره توان راکی نه وو چی د دغه منحوس انسان جواب ورکړم. مګر امکان یي درلود چي د کور مخکي دی خپل د انکار کړی هلک مرکی ته جواب ورکړم؟ او خلک دی راباندی بد فکر ونکړی؟ بغیر د کوم جواب ورکولو د کور خواته می حرکت وکو چی هغه په ناساپه حرکت کي زما د حجاب څنډه ونیول او د تلو څخه یي منع کړم، د هغه پدی کار د
ویری او وحشت څخه می په لاس کی نیولی د دوا پلاستیک له لاسه وغورځیدو او

سترګي تر اخیره اندازی خلاصي شوی! هغه هم لکه چي پوی شو چی کار یي سومره بی ادبانه وو چی زر یي زما د حجاب څنډه خوشي کړل او د دوا پلاستیک یي زر له ځمکي پورته کړو او ماته یي د راکولو په حال په بی قراره لهجه وویل: می فهمم کارم خیلی بد بود ولی تو هم بفهم که حالم خوب نیست این دل دیوانه هیچ رقم

(c) ketabton.com: The Digital Library



از تو صبر نمیشه، میفهمم شما پشتون ها سر اسم ناموس قتل و خون میکنین، مه واسه مردنم حاضر استم تنها تو بګو چرا ګفتی" نه "بخدا کی بمیرم ولی قبلش جواب این سوال بتین مه حاضر استم به خوشحالی جان بتم .

د دوا پلاستیک مي کلک لاس کی ونیو، هر څومره چي ما خاموشی اختیاره ول هغومره دا نادان خوله خلاص ول او جرئت یي پیدا کو یو ځل بیا مي د حجاب لاندی وروکتل او لیاده می وباسل چی د کور مخکی یم او دا هلک چی داسی خبری کوی سوک دی؟ همغه د پوهنتون هوسی شوم کوم چی د یو ګل او کاغذ باندی ټول پوهنتون لړزه ولی وو.

-شرم خوردی حیا را قی کردی انجنیر مملکت!؟
زما په جواب هغه نری مسکا وکړل او په خواهشمند لهجه یی وویل: ګردنم از موی باریک تر د ختر معلم صیب، بګو بمر میمرم، ولی اول بګو چرا ردم کردی؟

نظر می د داسی بیحیا کس څخه چی په عزت او ناموس نه پوهیدو واخیستو او په تنده لهجه می ورته وویل: معلومدار است از او مردای زبان نفهم احمق هستین که بغیر از حرف خود حرف هیچکسی را قبول نمیکنین، ولی ایبار فرق میکنه جواب "نه "من به ای بی ادبیتان ربط بتین به شما واری جاهل هم میګه انجنیر!؟

- دا خبری می وکړل او بغیر لدی چی د هغه د حیرت څخه خلاصو سترګو ته وګورم د کور د دروازی په لور می منډه کړل، زر می د کور دروازه خلاصه کړه او کورته ننوتلم مخ می د خولو څخه ډک وو د زړه درزا می بیحده زیات وه خپله پوهیدم چی فشار می ښکته شوی او رنګ می د ګچ پشان تک سپین اوښتی، په سل زحمتو مي ځان د برنډې سايي ته نږدی کو او هملته کینستم. د ادی په غږ می سترګی د د روازی څخه واخیستل.

ادی- خاوری دی زما په سر شی څه دربانډی شوی؟ دا رنګ دی ولی داسی پریدلی؟ ادی په تلوار زما څنګ ته کینسته او پداسی حال کي چي زما په تندی لاس تیره وو وویل :یو څو دقی دلته کینه زه درته اوبه راوړم.

ادی دا خبره وکړل او ژر د اوبو راوړو لپاره کورته ننوتل، نه پوهیږم ولی دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویریدلی وم؟ بد احساس می درلود زما اول ځل نه وو چې د هلک سره دی مخامخ خبری وکړم!؟ خو دا ځل ویریدلی وم یو احساس می راته ویل دا ځل د نورو څخه فرق کوی؟ دا ځل می زړه ناکراره وو! ادی په تلوار یو پیاله یخی اوبه چې یو څه بوره يي پکی اچولی وه راته راوړل او په مهربانه لهجه پداسی حال کی چی زما د مخ ویښتیان یی د غوږ شاته کول ویی ویل:

ادی- څه شوی زما د سترګو توره؟ ولی داسی رنګ پریدلی یی؟ ته مګه د آسما سره ډاکټر ته نه ویی تللی؟ کومه ده دوا دی؟ ولی داسی ویریدلی یی؟

د ادی په خبره می تازه خپل دوا ته فکر شو چی د دروازی خلاصیدو په وخت د حویلی کونج کی رانه غورزیدلی وه، په کراره لهجه می وویل: د خدای رحم وو چې د داسی قوم ښځه نشوم!

زما په خبره ادی تندی تروش کو او په مشکوکه نظر یی راوکتل چی ما په همغه لهجه وویل: هغه یي د مور څخه چی زموږ د" نه "ویلو په ځواب یی سل شانتی بیځایه خبری وکړل او دا یی هم...( چوپه شوم چی ادی په غوسه ناکه لهجه وویل) ادی- بیا ولی چوپه شوی؟ زر کوه ووایه څه خبره ده؟

پداسی حال کي چی د شرم او ویری څخه مي سترګی ښکته نیولی وه په کراره لهجه می وویل :د همسایه زوی انجینر اغا می مخه په کوڅه کی نیولی وه!

زما په خبری ادی په حیرت باندی خپل شونډه وچیچل او په غوسه ناکه لهجه یی وویل: څه کار یی کړی؟ لکه چی خپل ځان يي په غاړه کی ولیدلی؟( ادی دا خبره وکړل او په تلوار کورته ننوتله او بیرته په تلوار پداسی حال کی چي زما موبایل يي په لاس کی وو را ووتل(

ادی- زر کوه بابا ته دی زنګ ووهه چی راشی کورته.
په ویری او وحشت می وویل: نه.
ادی- نه به درته ونه وایم! شابه زر زنګ ووهه بابا ته دی ترځو راشی، دا داسی آسانه خبره نده چی ورڅخه تیر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زارۍ مې وويل: نه ادې بابا ته مه وایست کنه جنګ جوړه ویی.

ادې چې زما خراب حال ولیدو بیا مې څنګ ته کینسته او په همغه خو دقو مخکې مهرباني وويل: خپل پلار لکه چې نه پیژنی؟ د داسې بیځایه جنګو سړی ندی. خو باید خبر یې کړو ترڅو بل ځل دا بیعقل هلک دا جرئت ونکړی چې ستا مخه ونیسی.
)او بیا پداسې حال کې چي به کراره لهجه یې خبرې کول وويل: تاته خو یې لاس ونه وهي؟

د ادې پدې خبره مې رنګ وپریدی خو په کلکه لهجه مې وويل: بد به وکړی چې ماته لاس ووهی د بی پدره اولاد..

***

بیحده بده ورځ مې تیره کړې وه، د غرمې څخه نیولې چې انجینر مې مخه نیولې وه تر شپې چې بابا راغي او د همسایه د کور دروازه یي ور وټکول او د انجینر د پلار سره يي بی جنجاله خبرې کړې وه. خپل په ځایه کې پرته وم او بالښت مې کلک نیولې ژړل مې، د دروازی په خلاصیدو مې کوښښ وکو چې د ژړا مخه مې ونیسم خو د ادې په مهربانه غږ مې ژړا نور هم زیاته شوه.

ادې- جنې د کور عزت دی. خدای دې هغه ورځ رانوړی چې دا عزت دی له مینځه لاړشي.
د سلګیو په حال کې مې وویل: ما هیس کار ندی کړی پخدای په قران..
ادې- پوهیږم چې تا هیس کار ندی کړی.ته مې خپل اولاد یی خپله مي لویه کړې يي د لاس د ورغوي پشان دې پیژنم خو د خلکو زامن خو نه پیژنم. او هغه هم ګناه نلری!.

د ادې پدې خبره په حیرت مې سر د بالښت څخه پورته کو چې ادې په مهرباني باندې زما د مخ اوښکې پاک کړل او په همغه مهربانه لهجه يي وويل: ماشالله ستا ښایست د یو نوی ګل غوندې ځلانده دی، موږ ته حق راکړه چې ستا په فکر کي و اوسیږو ترڅو یو اغزی دې لا په پښو کې لاړنشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-خو..
ادی- هیس مه وایه پریږده دا خبری او قیصی خلاصی شی.
بیا می پر مخ د اوښکو سیلاب راغلو او د ژړا په حال کي مي وويل: بابا می نور پوهنتون ته نه پریږدی؟ نور دی کور کی بندی یم؟ نور بیخی حق نلرم د کور څخه ووځم؟

زما پر خبرو ادی په خوشحالی وخندل او ویی ویل: قربان دی د هغه زړه شم چی د مرغی پشان وړوکي دی. ولی دی نه پریږدی؟ خدای دی نکوی چی ته خپل په کور کی بندی شی، بابا دی راواستولم چی درته ووایم ژر ویده شه چی سبا پوهنتون ته لاړشی او هو راته یی وویل لاسونه دی په ملحم ضرور غوړ کړی کنه پوهنتون بی پوهنتون.

- د ادی پدی خبرو له ځایه پاسیدم او په خوشحالی می وویل: ربښتیا وایست؟ بابا بده ونه منل؟ یعنی زه سبا پوهنتون ته تلی شم؟

زما په خوشحالی ادی وخندل او کرار یی وویل: چغی مه وه ومی ویل کنه که لاسونه دی غوړ کړی دوا دی وخوری او کراره ویده شي هو بابا دی بوهنتون ته وړی د همیشه پشان.

ادی راته لاسونه غوړ کړل گولی می وخوړل او د ادی تر تلو وروسته می په خوشحالی باندی خپل د پوهنتون کتابونه په بکس کی کیخودل او په بیحده زیات مثبت انرژی مي خپل حجاب او بوتونه سم کړل. او د شپی په دولس بجو می نیلوفر ته مسج وکو او په بیحده حیرت کی شیشکه ویښه وه، زما خوب نه راتلو او دومره هیجان می درلود لکه چی اول ورځ دی د پوهنتون می وییا؟ د سهار تر آذانو مو سره خبری وکړل دومره د هغه عینکي انجینر غیبت مو وکو چی مه وایست، اخیره کی نیلوفر په اعتراضی توګه وویل:

نیلوفر- عه عه هوسی شپه رفت صبح شود ورځه ویده شه سبا ولی پوهنتون ته نه راځی؟
-وای نیلوفر دومره خوشحاله یم خوب می نه راځی!؟
نیلوفر- که پر ځان رحم نکوی پر ما یی وکه د خوب له غمه مړه سوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نیلوفر په خبره می وخندل او خدای پامانی می ورسره وکړل، دومره فکرونه او سوچونه می ووهل تر څو چی خوب خپل نړی ته لځان سره وړی وم.

سهار د همیشه پشان بابا راته منتظر وو ترڅو پوهنتون ته می ورسره ویی. یو دوه ګولي ډوډی می په تلوار وخوړل او ژر د کور څخه می غوښتل ووځم چی ادی راپسی ناری کړل.

ادی- هوسی‌صبر.
-څه وایی ادی ناوخته ده بابا د باندی منتظر دی.
ادی په تروش تندی د آشپزخانی څخه را ووتل او ویی ویل: دا دست کشی دی په لاس که تراوسه دی لاسونه پوره ندی جوړ شوی، هسی نه د لاسو په لیدو دی صنفیاني دی درته کومه خبره وکړی او بیا خفه شی!.

د ادی په لاس تور د حجاب دست کشو ته می وکتل او بیا می د ادی و دومره توجه او محبت ته فکر وکړو، او له ځان سره می وویل چی د ریښتیا هم د مور او پلار میني او محبت مثال به هیڅکله په دنیا کی پیدا نشي. په ناساپه حرکت کي می د دست کشو اخیستو په حال کي د ادی لاس ښکل کړو او بغیر لدی چی وروګورم له کوره ووتلم. بابا تر بس تاپه ورسه ولم منتظر ومه چی بابا راته چوکي برابر کړی او لاړشی خو بابا د نور ورځو پر خلاف زما سره یوځای بس کی کینستی!؟ د بابا پدی کار می په حیرت وویل:

-تاسو کار ته نه ځی؟
بابا بغیر لدی چی ما ته وګوری خپل تسبیح یی واړول او په کراره غږ یی وویل: ولی ځم.
-بیا نو ولی زما په بس کی کینستلي؟
زما په خبری بابا په لوړ غږ وخندل او ویی ویل: ستا بس؟ په څو دی اخیستلي؟
د بابا پدی خبره تازه می خپل خبری ته فکر شو او خپل شونډه می کلک پر غاښ کړه او د شرم څخه په نیولی غږ می وویل: نه.. هغه.. زما مطلب...
بابا په همغه د خندا څخه نیولی غږ باندی وویل: تر پوهنتون پوری دی زه خپله رسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وم بیا د هغه ځای څخه زه په بل موټر کی ځم کارته، او ستا بس پریږدم.

بابا دا خبره وکړل او بیا په خندا شو دا ځل ما هم ورسره وخندل، خوشحاله وم دا چی بابا خفه ندی او ما ملامته نه بولي. بابا د پوهنتون تر دروازی زما سره راغلو او د تلو څخه یي مخکی وویل: هر کله چي رخصتیدو ته دی یو ۱۰ دقی پاتی وه ماته یو مسج وکه زه درپسی راځم او کورته دی وړم.

د بابا پدی خبره می یواځی په سترګو وویل او خدای پامانی مو سره وکړل زه پوهنتون ته ننوتلم،او بابا خپل د کار پسی روانشو. بیحده خوشحاله وم او داسی احساس می کوو لکه چي اول ځل می دی چي پوهنتون ته راغلی یم! کبرا او د هغي ملګری می ولیدل چي زما او د بابا په لیدو یي په طعنه لرونکی انداز راوکتل خو هیس توجه می د هغوی دی کار ته ونکو او صنف ته ننوتلم، زما د کینستلو سره سم نیلوفر هم صنف ته راغله او په خوشحالی زما طرف ته راروانشوه، داسی کلک مو یو بل په غیږ کی ونیول چی ټولو فکر وکو په کلونو یو د بل څخه بیل وو! نیلوفر زما څنګ ته کینستل او پداسی حال کی چی زما د لاس څخه دست کشی لری کول ویی ویل:

نیلوفر: کو نشان بتی دستات؟ څه رکم سوی؟
-مه کوه دا نور هم دیخوا راګوری.
نیلوفر- ما یي په نورو څه زه غوارم خپل د صمیمی ملګری لاسونه وګورم چی د یو بی لیاقت انسان له سبب خراب شوی.

هر سومره چی نیلوفر ته می زاری وکړل ویی نه منل او اخیر کله چی زما لاسونه یي د دست کشو څخه وویستل او ښه په زبر او زیر یي وکتل او انجینر اغا او دهغه ټول جد آباد او قوم ته یي ښیراوی وکړل، هله یي اجازه راکړل دست کشي بیرته په لاسو کړم. په ښه فکر او توجه سره می درس ته غوږ نیولی وو او ټول مهم خبری مي د استاذ نوټ کړل، دومره راباندی ښه ورځ تیره شوه چی بیخی د درس ویل په وقت پوهه نشوم کله چی استاذ وویل: تر سبا خپل درسونه سم زده کړی. تازه می پام شو چی دوه ساعته مکمل می د استاذ خبرو ته بغیر له کومی ستړیا غوږ نیولی وو! شاید عجیبه وی او شاید هم لیونتوب خو زه د درس او د تعلیم لیونی وم هو زه شاید

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیونی وم. د استاذ په تلو می بابا ته یو مسج وکو او د نیلوفر سره د صنف څخه ووتلم.

- دواړه جوړه کانتین ته لاړو دوه دانی برګر مو راوغوښتل او د انجینر اغا غیبت مو شروع کوو.

نیلوفر- خدای دی هغه عینکی سترګی ورڅخه واخلی دومره شجاعت کی راه تو را ګرفته؟ ما ته دی خبر راکری وایی خودم چاره می ورڅخه کول.
په خندا می وویل: زه خیر بل ځل بیا تا خبره وم بیا هله یي چاره وکړه.
نیلوفر- معلومدار است کی چاره اش را میکنم چی فکر کرده با خود شهر بی پرسان است که جلو راه دختر مردم میګره؟ مه دستم به ای عینکی نه رسه هی هی.

د نیلوفر په خبرو او حرکاتو چی زما د خندیدو کوښش یي کو د زړه د خلاص می خندل چی ناساپه می سترګی د کانتین په اخیری چوکی ناست حسیب باندی ولګیده! په هغه شنو سترګی یي په بیحده توجه راکتل او نری مسکا یي په خوله وه! دهغه په لیدو مي خپل خندا تولیه کړه او زر د کانتین څخه ووتلم. بابا د پوهنتون دروازی مخکی ماته منتظر وو د نیلوفر سره مي خدای پامانی وکړل او د کور په طرف روانشوم..

***

دری میاشتي د انجینر اغا د هغه بی ادبانه کار څخه تیر شوی وه، او نن په کوڅه کی یو بد حال وو چی د تلو لاره لا نه وه؟ هغه ځکه چی د انجینر صیب کوژده وه؟ انجینر اغا ته یي د هغه د خاله لور کوژده کړی وه! د بام له سره مي د باندی کوڅه کی د سریانو نڅا ګانو ته کتل چی د ډول زن په ډول به اوریدل راوریدل!؟ د ځان سره می وویل دا هم د انجینر اغا هغه د مینی داستان چی ماته یي تعریف کو؟" کی میمرم بخاطرت دختر معلم صیب؟ "دا هم د ده مردن! خیرن دری میاشتی لاتیر نشوه چی لاړو کوژده یي وکړل. د هغه په کوژدی خفه نه وم یوائی د هغه په خبرو حیرانه وم چی دری میاشتي مخکی زما د مینی لپاره ګریوان شکو او نن..! نور راته په هغه یخ کي د دریدو توان نه وه په همدی خاطر کرار،کرار په هغه تیاره کي د زینو څخه راښکته شوم او کورته ننوتلم، چي زما پر لیدو ادی په تروش تندی وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادی- چیرته تللی ویی؟
-بام په سر وم.
ادی- ومی نه ویل بام سر ته مه پورته کیږه ټول د همسایه هلکان د بام سر تو پورته شوی ګوری دی!
-عه ادی ته هم لیونی يي پدی شپه او تیاره کي د چا فکر زموږ د بام سر ته کیږی؟ چی ما ووینی؟
ادی- داسی مه وایه د اوس وقت هلکان بلاوی دی! د پخوا پشان ساده هلکان ندی چی د بام سر ته يي فکر نشی، یا که فکر يي هم شي د حیا څخه سترګی ښکته کړی. د اوس وقت هلکان د جنیکانو د لیدو لپاره د کوه کاف غره ته لا پورته کیږی.

د ادی په خبره په خندا شوم خو څه می ورته ونه ویل او خپل کوټې ته داخله شوم. ادی هم رښتیا وایی د اوس وقت زیاتره هلکان همداسی دی شرم او حیا له مینځه تللی یواځی شهوت او هوس پاتی! خو ناساپه می مغز بله خبره وکړه" شاید داسی هم نه ويي ټول، شاید د حسیب پشان پاک هلکان هم ويي پکی؟ "پدی فکر می ناساپه ټول بدن ولړزیدو حسیب! ولی دا فکر می ذهن کی تیر شو؟ ولی می حسیب

د نور هلکانو څخه بیل حساب کو؟ شاید ځکه چی دا دری میاشتو کی ما د هغه پاکه مینه ولیده؟ یعنی امکان لری زه هم وربانډی مینه شوی یم؟ نه، نه.. داسی کومه خبره نده ما حسیب د دی لپاره د نور هلکانو څخه بیل حساب کړو ځکه شاید ما ورڅخه بدی نده لیدلی !هو شاید همدا سبب ویی. نور کومه داسی خبره نشته لیوني هوسۍ. ما يي پدی خبرو څه؟ زه خپل درس وایم سبا ورځ باید ادی او بابا چاته محتاج نه ویی او زه باید دهغوی د بوډا والی لکړه شم! پدی خبرو می خپل فکر د حسیب څخه واړه ويي او ویده شوم. سهار جمعه وه او ادی اراده کړی وه ما د خاله کورته ځان سره بوځی! هر وسومره بهاني می چي راوړل نه يي منل.

-ادی زه کار لرم سبا بل سبا لوی اختر دی او ما خپل کالی تراوسه ندی ګنډلی؟! زه به نن کالي وګنډم نن د جمعی ورځ ده بیکاره یم، تاسو د خاله کورته لاړشی زما د خوا هم سلامونه وربانډی وایست.
ادی- هسی بهانې مه راوړه هوسۍ.د کوم وقت څخه ته دومره کاریګره شوی يي چي خپل کالي خپله ګنډی؟ تا خو خیاطی لانزده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-عه ادی چا ویل ما خیاطی نده زده؟ او هو زه ماشالله همیشه همداسی کاریگره وم تاسو فکر ندی شوی.
ادی په افسوس باندی سر راته و خوځه وی او ویې ویل: لس دقی وقت لری چی کالي مالی آریش دی وکړی او تیاره شی، د هغه څخه وروسته بابا دی راځی او نور وقت نشته. نو زر کوه شابه د دی بیځایه بهانو لځایه ورځه تیاره شه.
په ناراضه لهجه می وویل: ادی...

ادی په تروش تندی دا ځل جواب راکو: درد او بلا او ادی! د خاله او د هغه د کور لپاره مه ځه خپل د خور لپاره لاړشه، د کوم وقت څخه چی ماشوم یي په نس شوی او زموږ کور ته راتلي نشی تا یو پوښتنه ورباندی نده کړی! پرون یي ماته ګیله وکړه چی هوسۍ ولی زما پوښتنی نه کوی؟ ولی زموږ کور ته نه راځی؟ ما ورته سل بهاني راوړی چی خفه نشي. ته هم ځانته خور وایی؟

- د ادی په خبرو چوپه شوم او خپل کوټی خواته روانشوم، ادی هم رښتیا وایی زه سومره بی وفا خور یم! آسما ماشوم لری او ما یو پوښتنه لا نده کړی ورباندی! خو نن می هسی زړه تنګ وو. او خپل حوصله می لا نه درلود څه ورسیږی د خاله کور ته تلل او د خاله او د هغه د مغرور او کبرجن لورګانو خبری اوریدل. شاید زما زړه هسی تنګ نه وی؟ شاید زما زړه د یو چا پسی تنګ وی؟ خو د چا پسی؟ شاید د یو مهربانه

کس د شنو سترګو پسې؟ شاید د حسیب پسی! پدی فکر می بیا ټول بدن ولړزیده. خدایه دا نو څنګه کار دی چی زما سره کیږی؟ ولی مي ټول فکر نن د هغه سره دی؟ ولی مي نن زړه غواړی د هغه مهربانه سترګی او هغه ښایسته مسکا چی زړه، زړه، یي زما روح ځانته تسلیمه کړی ووینم! دا زما سره څه کار کیږی؟ ولی په هر بیت د اشعارو کی ماته د حسیب څهره،اخلاق،سترګی،مسکا، او د هغه مهربانی او ادب مخکی، مخکی کیږی؟ یعنی زه په حسیب مئینه شوی یم؟ پدی فکر می ټول بدن توان صفر شو او ځای پر ځای په ځمکه کینستم. خپل سر مي په زنګونو کی ونیو خدایه دا څنګه کار دی؟

د ادی او بابا پسی د خاله کورته روانه وم، د خاله کور زموږ څخه یو څه لری وو خو دومره نه چي موټر کی لاړشو پیاده روان وو. خو زما ټول فکر نن د حسیب سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو او هیس پدی دنیا خبره نه وم چی کله ورسیدو او کله بابا دروازه وټکه ول، او کله منحوس اجمل دروازه خلاصه کړه؟ د هغه په غږ می ورته فکر شو.

اجمل- د خاله لوری لکه چي زموږ کور خپل لایق نه حسابه ویي چی دننه نه راځی سنګه؟

د هغه په خبری می تازه فکر شو چی ادی او بابا د خاله کورته ننوتی؟ او یواځی زه د دروازی مخکی ولاړه یم! په تروش تندی می وروکتل ګیره یي خریلی وه مخ یي د پخوا څخه لا تک تور شوی وو، ژیر غاښونه یی د خبرو په وقت کی د انسان خوا بده ول د هغه د قواری په لیدو می زړه بد شو، بغیر لدی چی کوم جواب ورکړم کورته ننوتلم. خاله او د هغه د لورګانو سره می په ناراضه انداز ستړی مشی وکړه او د ادی
څنګ ته کینستم آسما نه معلومیده شاید تراوسه خبره نه ویی؟ زموږ د کینستلو سره

سم اجمل هم زما مخامخ د بابا انډی ته کینستو، او خپل دوه ناپاکه سترګی یي ماته ونیول د هغه په نظر زه نور هم د ادی خواته نږدی شوم، سومره چی جمال او جلیل ښه هلکان دی هغومره یي اجمل یو بیحیا او معتاد شئ دی زما د بد قسمته لکه چی تازه هم د هغه خانه خرابه ایران څخه راغلی چی لا تراوسه یي پتلون او دریشی اچولی!؟ زما خبره د بابا پوښتنی راته صحیح جواب کړه.

بابا- اجمل جان کله پخیر د ایران څخه راغلي موږ دی خبر لانکړو؟
خاله- ستاسو ګیله مو په سر سترګو قبوله اوښیه، خو باور وکړی موږ لا نه وو خبر ماښام ناوخته دروازه وټکیده میروس جان د دروازی خلاصیدو سره چیغه کړه اجمل لالا راغی.

د خاله په خبری اجمل وخندل داسی چی هغه ژیر غاښونه یی بیا زما حال خراب کو او ویی ویل:ولای کاکا څنګه چی ادی وویل بس ناساپه می اراده وکړل او پرون شپه راورسیدم هیڅوک خبر نه وه د راتګ څخه می.

دوې په خبرو لګیا وه سره چی آسما کوټی ته راننوتل. ډنګره شوی وه! د دری میاشتو ماشوم چی بیخی د نور حامله دار ښځو ته معلومیږی لا نه د دی ده معلومیدو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هم د دی د زيات ډنگر والی له لاسه! رنګ کي د ادی خبره بيخی سرخی نه وه تک ژيړه شوی وه !ادی مخ بنکل کړو او زما خواته چي نږدی شوه ژر لځایه پاسيدم سترګی د اوښکو ټکی وه غيږ کی می ونیول چی ژړا ته يي شروع ورکړل! د هغه په ژړا خاله په تنده لهجه وویل:

خاله- وی..وی..خدای می دی واخلی دا نو سنګه کار دی آسما؟ اوس به پلار او مور دی فکر کوی چی مونږ دربادی ظلم کو چی ته داسی ژاړی!؟

ادی- وی خوری دا څنګه خبره ده خدای دی نکوی. آسما جاني ډيرو وقت راهیسی هوسې لورکی نه ولیدلی ځکه ورته په ژړا شوه.

آسما می له ځان څخه جلا کړه او خاله او د هغه لورګانو ته چی ټولو آسما ته بد بد کتل ومی ویل: نه خدای دی نکوی خاله مونږ داسی ګمان نکو، او پاتی شوه د آسما ژړا هغه هم د هغي د خاص حالاتو له لاسه داسی ده. دی شرایطو کی زیاتره خبری او کردار بدليږی ځکه هورمون تغیر کوی.

زما په خبره خاله او د هغه لورګانو يي داسی راکتل لکه چی میږو ته د چمن لځایه ګوشت پلو ورکړی او هغوی حیران ویی چی دا نو څه دی؟ خو بابا نری مسکا په خوله وه او ادی هم راضي معلوميده. چی ناساپه د شلمبو مچ زما په خبری کی راغو.

اجمل- ولای د خاله لوری موږ ساده خلک یو پدی هورمون پرمون نه پوهیږو، خو د وریندارۍ کار ډير غلط وو ځکه تاسو د دومره وقت وروسته زموږ کور ته راغلي یاست او دا مو خپل د راتګ لایق حساب کړی، د خور ژړا مو اوس پر خوا بده لږیږی بیا ځی د بل کال د واوری سره راځی.

اجمل دا خبره وکړل او خپله هر هر په خندا شو د هغه په خندا د هغه خویندی هم په خندا شول خو ما دی دومره شخصیت نه حسابه وی چی وغواړم ورسره خبری وکړم، په همدی خاطر می د آسما لاس ونیو او ومی ویل: که ستاسو اجازه وی زه به د آسما کوټی ته لاړشم حجاب به هم هلته بدل کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خاله -هو ورځه لورکۍ خپل کور يي وګنړه.

د خاله په خبره می د آسما لاس ونیو او د هغي د کوټی په طرف روانه شوم چی خاله بیا وویل: یو څه ورته دا څه دی وویل هرمون پرمون! دا ورته وښایه چی هر دقه بیا داسی ګډوډ نشی خلک به څه وایی؟

خاله دا خبره پداسی حال کی چی خپل شونډه چیچل وویل، چی مطلب یعنی د آسما کار ډیر بد وو! څه می ونه ویل او آسما سره کوټې ته ننوتلم ژر می دروازه بنده کړه او د آسما خواته راوګرځیدم چی د کوټې مینځ کی ولاړه وه او ژړل یی.

-ته بیا ولی ژاړی څه شوی؟

اسما د ژړا په حال کی وویل: هیس.

نژدی ورغلم لاس می ورنه په لاس کي ونیوی او په نالي می کینوله د هغي د اوښکو پاکولو په حال می وویل: هوسۍ دی درنه قربان شي! زه دی مړه شم چی ستا اوښکی ونه وینم.

اسما- خدای دی نکوی لیونی.

-نو ولی ژاړی؟ زه هم اوس بیګانه شوی یم چی نه راته وایی؟

اسما- کومه خبره نده د ماشوم له لاسه داسی شوی یم.

په خوشحالی می د هغی په نس لاس تیر کړو او په شوق می وویل: خاله دی ورنه قربان شی بیا پداسی حال کی چی خیالی خبری می د اسما د نس د ماشوم سره کول ومی ویل: ګوره خوري زما خور به نه په عذابه وی کنه بیا مو سره جنګ کیږی.

زما به کار اسما په خندا شوه.

-ښه؟

اسما- ښه څه؟

-ښه اورم ولی دی ژړل؟

اسما- ومی ویل کنـ...

خبره می ورپری کړل او ومی ویل: ماته دروغ مه وایه که دروغ راته وایی زه ځم..

دا خبره می وکړل او غوښتل می پاسم چی اسما می لاس ونیو او ویی ویل :

آسما- ماشومه کیږه مه دومره لویه خبره نه وه.

-لویه وه که وړه وه. هر څه چی وه ماته ووایه.

اسما چی کله ولیده زه یی په دومره آسانی نه یله کوم تر څو چی په خبره پوه شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه یم نو په کرار لهجه یی وویل: د کوم وقت څخه چی ماشوم می په نس شوی د جلیل رفتار بدل شوی! نن ستاسو د راتلو څخه مخکی یي جنګ وکو!
اسما دا خبره وکړل او بیا یي اوښکی په بهیدو شول چی ما په تروش تندی وویل: ولی خفه دی؟ ستونزه یی څه ده؟
اسما- نه پوهیږم ورنه پوښتنه کوم ستونزه دی څه ده ولی داسی کوی؟ نه وایی راته یواځی وایی اوس د ماشوم لپاره وقت ډیر وو !

په حیرت می اسما ته وکتل باور می نکیدی چی جلیل دی د ماشوم لپاره خفه ویی؟

په حیرت می وویل: دي خو باید خوشحاله ویی! د خپل د مور پیغور او زر خبری لیاده ووتل چي تاته يي کول؟ چی ماشوم نشی راوړلی، چی وچه یی،چی زوی ته می بل ښځه کوم، دی خو باید خوشحال ویی چی هم آرمان یی پوره کیږی او بچی پیدا کیږی، او هم د مور خیال يي راحته کیږي چی زوی بغیر د اولاد څخه نه پاتی کیږی.

اسما- زه هم همدی خبرو ته فکر وړی یم. یو قیامت یي راباندی تیر کړو چي ولی ماشوم نشی راوړی؟ بغیر لدی چی ډاکټر ته لاړشو چی وګوری مشکل د چا دی؟ او اوس چی خدای راباندی ورحمیدی او دهغه دومره خبرو وروسته یي راباندی د یو اولاد پیرزوینه وکړه دی داسی وایی، کله ناکله فکر کوم چی شاید غواړی دویمه ښځه وکړی! ځکه تراوسه یي خو زما اولاد نه راوړل بهانه کول اوس زما په نظر بهانه یی خلاصه شوی ځکه داسی خفه دی.

اسما مي غیږ کی ونیول او اجازه می ورکړل ترڅو خپل زړه په ژړا کولو باندی خالی کړی، اجازه می ورکړل ترڅو د دی څو وقته تکلیف او رنج ماته په ژړا کولو باندی له زړه وباسی، ګنګسه وم نه پوهیدم جلیل ولی داسی خبری کوی؟ منم د خاله کورنی تولله یو څه متفاوت اخلاق او کردار لری خو دا خبره هم منم چی جلیل د آسما سره د زړه څخه مینه کوی، دا خبره څو ځله ماته ثابته شوی وه. آسما ته د تسلی ورکولو لپاره می په کراره لهجه وویل:

-که جلیل د دویم ښځي کولو اراده ویی نو بهاني راوړو ته ضروت نلری، مخامخ درته وایی چی غواړم بله ښځه وکړم! شاید یو بل مشکل لری چی نشي ویلی.؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسما- دا کوم داسی مشکل دی چی هغه یي ماته چی ښځه یي یم نشي ویلی؟

غوښتل می د آسما جواب ورکړم چي جمیله بغیر لدی چی یو اه،اهوم،ټک،ټوک، وکړی کوټې ته راداخله شوه چی اسما ژر ځان زما له غیږ ځخه جلا کړو جمیلی اول موږ دواړو ته په ځیر ځیر وکتل او بیا یي آسما ته د غرمه د دیگ پخه ولو فرمایش ورکو! د خاله مشر اینگور د ادی په خبره د شین خالی لور فرشته وه چی د آسما د واده کیدلو په دویمه ورځ یی د کور کارونه د آسما سره په نمبر کړل یوه ورځ ټول د کور کارونه د جارو،دیگ،ډوډی، لوښی،جامو ځخه نیولي تر چای دم کولو پوری یوه ورځ د فرشتي په غاړه دی بله ورځ د آسما! او نن لکه چی د آسما نمبر وو؟

اسما- سمده ته ورځه موږ هم راغلو.
جمیله د تلو مخکی ماته بد بد راوکتل او بیایی وویل: تلوار کوی ادی وایی ناوخته ده.
اسما- سمده اوس درځم.

د جمیلی د تلو وروسته آسما خپل اوښکی پاکی کړی او پداسی حال کي چی د پاسیدو کوښښ یي کو ویی ویل: یو نن چی مور و پلار او خورکي مي راغلی کورته ما ژړا او ساندی شروع کړی بخښنه کوه.

- پداسی حال کی چي د آسما لاس می نیولی وو او مرسته می ورسره کول چی لځایه پاسي په تروش تندی می وویل: اول خو موږ بیگانه نه یو چی ته داسی وایی، دویم دا چی موږ ستا د لیدو لپاره راغلی یو نه د ډوډی لپاره.
آسما- په هر نیت چی راغلي یي، د دوه کاله وروسته اول ځل ته او بابا زما کورته راغلی ما نه باید داسی کار کړی وایی.
-لږ لږ اخلاق دی دا ځو وقته د خاله د کورنی پشان شوی دا ولی؟
آسما- وی ما یاده وی؟
په خندا می وویل: هو همدغه خبری چی اوس کوی دا د خاله د کورنی خبری دی نه ستا.
آسما هم په خندا شوه او ویی ویل: هغه متل دی وایی با ما بشیني ما شوی با دیگ بشیني سیاه شوی.

د آسما په خبره دواړو په زوره کړس وهل او په خندا شو او همغه خندا په خوله د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټې ته ورغلم او هلته مې ښه ګرمه اوبه باندې غسل وکړ، ځان مې
کوټی ځخه ووتلو چی زموږ په ليدو بابا او ادی دواړو تندی د خوشحالی ځخه خلاص شو، غوښتل می د آسما سره په کارو کي مرسته وکړم خو زما د بيحده ټينګار وروسته هم آسما اجازه رانکړل او د دی خبری په ويلو" چی ته زما ميلمنه يي نن يو

بله ورځ بيا دربانډی کار کوم "د آشپزخاني ځخه يي وباسلم او زه مجبوری بيرته د ادی څنګ ته می پناه راوړه ترڅو د خاله او د هغه د بيحيا زوی د نظر ځخه په امان کي اوسيږم. ښه وو د ډوډی وقت کي جمال او جليل هم راغلو د آسما د خبرو په آوريدو می د جليل ځخه يوڅه زړه نيولی وو خو بيا مي هم ورسره سټری مشی وکړل، د ډوډی وقت کي سړيان مهمانخاني ته ولاړه او موږ هملته په ډوډی کينستلو.

د شپی ناوخته ده خاله د کور ځخه راغلو د راتلو مخکی می ډير آسما ته نصيحتونه وکړل او ډير قولونه می ورځخه واخيستل چی ډير فکرونه دی نکوی او ځان دی نه په تکليف کوی.کله چی کورته ورسيدم د نور شپو په پرتله نن شپه می خوب نه راتلو،ذهن کی مې حسيب تاو راتاو کيدو هر ځومره کوښښ می چی وکړو خپل فکر ورځخه واړوم ونشو خواره خوله په زرهاو فکرونو باندی د کوټې چت ته مي سترکي

ونيول چی مغز مي ځانته زحمت ورکړو او د حسيب څهره يي کرار،کرار د چت په هغه تياره برخه کی راته رسامي کړل، اوس د هغه شني سترګي می يو دم خپل ځانته مخامخ احساسه ول، توری پنډی او لږ يوځای وريځی، ميانه شونډی يي چی تل به په يو ښايسته مسکا باندی سينګار شوی وه، جګه پوزه چی د مخ د غړو سره يي ډير ښايسته تناسب درلود، منظم يو خواته اړول شوی ويښتيان يي، ټول څهره

می د نظر ځخه تير کړل او خپل د زړه غير عادی درزا ته می توجه ونکړه او په دقت می ورروکتل د هغه سترګو ته چی مينه ورځخه بهيدل لکه يو روان رود پشان! هغه پر ما مئين دی؟ هو هغه وويل چی زه دربانډی مئين يم خو انتظار کوم چی ته خپل"نه "جواب واخلي يعنی هغه منتظر دی چی زه خپل انکار واپس واخلم؟ يعنی که خپل انکار واپس واخلم هغه بيا هم پر ما مئين پاتی کيږی؟ سترګي مي پټی کړل او خپل سور رنګه کمپل مي خپل پر مخ راکش کړو، په همدی فکرونو او ذهنی افکارو کی ويده شوی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار د همیشه پشان بابا زه تر پوهنتون تر دروازی ورسه ولم او خپله کار ته ولاړی، خو نن ماته د نور ورځو پشان نه وه؟ نن ما یو لوی تصمیم او پریکړه کړی وه، هغه دا چی زه به خپل د" نه "جواب اخلم! زه نور نشم کولی دا عصبی بوچ برداشت کړم. نشم کولی ټوله ورځ کینم او د حسیب په اړه فکر وکړم. نن حسیب ته وایم چی ما خپل انکار واخیست! نور نو د هغه کار چی څه جواب راکوی زه یواځی خپل خیال
راحته کوم. پدی فکرونو می ځانته تسلی ورکړل او پوهنتون ته داخله شوم، سترګی

می بی اختیاره د هغه لوی درختي د سايي لاندی خواته په حرکت شوی! دا هغه ځای وو چی حسیب هره ورځ همغلته زما د راتلو منتظر پاتی کیدو او کله چی به زه یي ولیدم نو روان به شو خپل صنف طرف ته. خو نن هغه ځای خالي وو؟ د هغه خالی ځای پر لیدو می لځان سره کړی ټولی خبری می لیاده ووتل! دماغو می زر فکره وذهن ته واچول. ندی راغلی؟ ولی ندی راغلی؟شاید راغلی ویی خو نور ما نغواړی؟ پدی فکر می ناساپه سترګي د اوښکو ډکی شوی. نه پوهیږم سومره به مي د حسیب خالی ځای ته کتلی وه چی یو چا د شالخوا په سترې غږ وویل: اغلی محمدی تاسو صنف ندی پیل شوی؟

د هغه غږ په آوریدو مي مات شوی هیلی را ژوندی شوی، او په تلوار مي مخ ور واړه ویی .خپله وو ساه،ساه يي وهل لکه چی ټوله لاره يي منډی وهلی ویی؟خو سترګی..! هغه شنو سترګو کي یو خاص ړنا وه! یو خوشحالي یو امید یو آرمان! د هغه پر لیدو مي بی اختیار هغه راټول شوی په سترګو کي اوښکی پر بهیدو شول. چی حسیب په تلوار خو ګامه رانږدی شو او په ورختا غږ یي وویل:

حسیب- څه شوی بنه یی؟ ولی ژاړی؟ کوم چا درته مزاحمت کړی؟ کوم چا درته څه ویلی؟ خبری وکړه څه شوی؟

حسیب بغیر لدی چی ماته نمبر راکړی په ورختا انداز په یوه ساه دا ټولي پوښتنی راڅخه وکړل، خو ما یواځی یو جواب د هغه ټولو کړو پوښتنو ته ورکړل.

-زه خپل د" نه "جواب اخلم.
حسیب هک حیران وویل: څه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- او ما د نور څه ویلو بغیر په تلوار خپل د صنف خواته منډه کړه او حسیب مي همغه ځای کی هک حیران یواځی پریخود. جسماً صنف کی وم او درس ته مي غوږ نیولی وو خو روحاً همله د پوهنتون دروازی مخکی د حسیب په حیرن نظر کی بنده پاتی وم، نیلوفر اول زما پر لیدو سل پوښتنی خو راڅخه وکړل خو ښه وو د استاذ په راتلو چوپه شوه او یواځی د سترګو په اشاره یي راڅخه د حال پوښتنه کول. خو ما نیلوفر ته د جواب ورکول لځایه ټول فکر خپل کړی کار ته وو؟

هم خپل په کړی کار حیرانه وم او هم ویریدلی! حیرانه پدی وم چی ما سنګه دومره جرئت وکړو او حسیب ته می خپل د زړه حال وویل؟ او ویریدلي پدی وم چی هسی نه دا ځل حسیب راته" نه "ووايې؟ اوس می تازه مغزو کار پیل کړی وو او دا فکرونه يي را اچول چی هسی نه حسیب زما د" نه "آوریدو له سببه دا کارونه کړی ویی چی زه یي پر ځان مینه کړم تر څو خپل د مات شوی غرور قصد راڅخه واخلی او زما د

مئینی څخه انکار وکړی؟ پدی فکرو مي سر په درد شو او د څو شیبو تم شوی اوښکی می بیا په بهیدو شول. نور می په صنف اوسیدل مناسب ونه بلل او بغیر لدی چی د استاذ څخه اجازه واخلم یا د شاګردانو حیرت څخه ډک نظرونو ته وګورم له صنف څخه ووتلم. نه پوهیږم ولی بی ارادی همغه د درختي لاندی ساي خواته روانه شوم! هلته په رسیدو مي د سترګو څخه د اوښکو بهیدل نور هم زیات شول. چی یو آشنا غږ او یو آشنا د رحمان بابا بیت مي تر غوږ شو.

ستا ځما له میني هر سوک خبر دار دی.
دا خبری کوراکور په هر دیار دی.
چه فلانا فلانا سړی سره دوستدار دی.
اوس به بیرته جار واته وما ته عار دی.
چه رسوا شوم تر عربه و تر عجمه.

بغیر له کومي ارادی مي دا الفاظ ورته د خولی ووتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاشقي دی هیڅوک نه ګڼی آسانه.
دا خبره ده له حده په هورته ګرانه.
وصال نه دی چا موندلي بې هجرانه.
ته لځان سره اتکل وکړه رحمانه.
په دنیا کښي ښادی چرې ده بې غمه .

د دی بیت ویلو ښخه وروسته مي په حیرت د درختی خواته وکتل چي حسیب په خوشحالي زما خواته راتاو شو او ویی ویل: زما په نظر خو ما خپل برخه هجران تیر کړی اغلی محمدی !اوس د وصال وقت دی نه هجران!؟

•

تولہ ورځ د پوهنتون راتلو وروسته نه پوهیږم ښنګه می تیره کړی؟ خپل پر ځای پرته وم او فکر می د حسیب هغه خبری ته وو چی ویی ویل"زما په نظر خو ما خپل برخه هجران تیر کړی اغلی محمدی! اوس د وصال وقت دی نه هجران!؟ "هیس می باور نکیدو چی ما دی داسی کار کړی ویی! فکر مي کوی دا تول یو خوب وو نه رښتیا! زړه می غوښتل غږ یي وآورم خبری ورسره وکړم خو امکان یی نه درلود! یو خو ما کومه شماره نه وه ورکړی چی وغواړی راته مسج وکړی، بل دا چی زما په نظر زما لخوا د دی ښخه زیات توجه خودل نور به ښه نه وی؟ ما ورته مثبت اشاره ورکړل نور د هغه کار دی چی مخکي راځی او دی رابطي ته د مینې او عاشقي نوم ورکوی او کنه؟

په همدی فکرونو کی غرقه وم چی ناساپه د موبایل غږ مي د فکرونو د نړی ښخه را بهر کړم! پدی نیمه شپه نو چا ما ته زنګ وهلی؟ موبایل مي زر راواخیستو یو ناشناس شماره وه، نه پوهیږم ولی می د زړه درزا زیاته شوه او لاسونه مي په لړزیدو شوه یو حس می راته ویل چی حسیب دی!؟ نه پوهیدم چی جواب ورکړم کنه؟ دومره فکر می وکو چی زنګ بند شو او ځو ثاني لا نه وه تیر شوی چی یو مسج راغي مسج مي په لړزیدو لاسونو خلاص کی چی لیکلی وه:

زه دې ونه پوښتم زړګي ته مي بې پامۀ راغلي.
چا اجـــازه درکړه؟ او ښنګه بې سلامه راغلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صبر چې پورتهٔ شم،د حُسن درناوی دې وُکړم
ته خو چې راغللې، اشنا بې اِحترامه راغلې

زه مې د مینې کار کې بخت ملامت نه بولمه
په ما د سېل اوبه د خپل سرې له بامه راغلې

تلوار راوکړه! زياتي نور مې د ژوند تمه نشته
د مرګ ناروغ يمه اشنا که تر ماښامه! راغلې

حيرانه وم د حسيب راستول شوی بيتو ته! په اول دوه بيتو کې زما سره د مينې اظهار يي کړی خو اخيری دوه بيتو کې ګيله وه؟ يا نه زړه؟ يعنی حسيب تراوسه زما په مينه کی شک لری چی داسی وايی؟ ما خو نن ورته وويل! شايد پوره جواب غواړی؟ پوره جواب سنګه ورکړم؟ زه لا په همدی فکرونو کی وم چی بل مسج يی راغلو.

-آيا زنګ وهلې شم؟

د هغه پدی مسج د دويم بيت په معنا تازه پوهه شوم، هغه زما لخوا د مينې اظهار غواړی! پدی خبره مې ټول بدن يوځل بيا ولړزيده او په همغه خراب حال می ورته دوه لفظه وليکل.
-هو.

زما د" هو "جواب تراوسه استول شوی لا نه وو چی زنګ يی ووهې! سل زړونه می يو کړل او په بيحده ويری می جواب ورکو. د څو ثانيو لپاره دواړه چوپ وو او يو هم جرئت نشو کولی چی خبری وکو د څو ثانيو وروسته حسيب خاموشی ماته کړل او په کرار غږ چې زما زړه يي د سينې څخه ويستو وويل:

حسيب- يو کال مخکي په همدی وقت د يو جنی په مينه کې مې خوبونه ورک شول، يو جنی په خرمای سترګو او تور بانه! زه د هغي په شرم،حيا،او اخلاقو مين شوم. او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل نړی،خپل روح، خپل زړه، خپل جسم ټول می له هغي ځخه قربان کړو. خو هغه لاړه زما سترګو ته يي وکتل او ويی ويل"نه "

د حسيب پدی خبرو می سترګي له اوښکو ډکي شوی زه څومره ظالمه وم! ما ولی د حسيب دومره مينه هغه وقت نه ليدل؟ ولی می دهغه معصوم د ميني ډک نظر ته پام نشو؟

حسيب- اول څو ورځو کي ستا د" نه "په ځواب ګنګس وم باور می نکيدو چي تا دی زه رد کړی يم. کله چي يوځه پر خود شوم نو زړه تنګي او ليونتوب مي شروع شو په شپو،شپو می ژړل خوب،خوراک، استراحت ټول راباندی ورک شول ځمکي راته ځای نه راکو فکر مي کوو چي په اور کي يم ځمکه راته اور ګرځيدلي وه، يوه شپه مې اراده وکړل چي دا بی معنا ژوند ته د پای ټکي کيږدم خو اخيری لحظي کي مي ستا يو خبره ياد ته راغله پوهيږی کومه خبره دی؟

ما د ژړا له لاسه خبری نشوه کولی او چوپه لکه باران پشان مي اوښکی تويه ول او خپل په کړی کار پښيمانه وم، چي حسيب غږ کړو.

حسيب په خندا وويل: ګوره ژاړی به نه زه دا خبری د دی لپاره نکوم چي تا په ژړا کړم يا دی شرمنده کم، ما د دی لپاره وکړل چي پوهه شي ما ستا د لاسته راوړو لپاره د دی ثانيو او وقت لپاره ډير ستونزی له سره تيری کړی. او په آسانه مي په لاس نه يي راوړی ما په شپو،شپو د داسی شپی په آرمان خوب کړی چي يو ورځ به ستا سره خبری وکړم او ته به زما دا ټول ګيلو ته غوږ شي،او زما د زړه څخه به دا ټول ناخوالي وباسي خو ژړا نه، که ژاړی نور خبری نکوم.

په تلوار د ژړا څخه په ډک غږ می وويل: نه ..نه ژاړم..
حسيب- که نه ژاړی نو دا غږ دی ولي داسی دی؟
د اوښکو پاکولو په حال می وويل: هسی لږ ستوني می درد کوی.
حسيب په کرار غږ وخندل او ويی ويل: ته ماته دروغ وايی؟ ما ته چي ستا د نفسو شمار راسره دی او د ځان څخه لا زيات دی پيژنم؟
هيس می د حسيب و دومره با احساس خبرو په حواب کی ونه ويل چی هغه بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل: پوهه شوی ماته به هیڅکله دروغ نه وایی سمه ده؟
-اهوم.

- حسیب -د خدای شکر دی.

په حیرانی می وویل: د څه لپاره؟
حسیب- د ټولو ښیزونو لپاره او د ټولو ښخه اول ستا د وجود لپاره زما په ژوند کی.
ته نشي پوهیدی چي ستا شتون زما ژوند کي څه معنا لری؟!
په شیطنت می وویل: څه معنا لری؟
حسیب- پوهیږی معجزه څه ته وایی؟
په خندا می وویل: زه په اسلامي درسو کي دومره تکړه نه یم خو زما په نظر هر هغه عجیبه او غیر ممکن کار چی د یو پیغمبر لخوا وشی هغه ته معجزه وایی؟!

حسیب- هر هغه آرمان او غوښتنه چي لاسته راوړل یي ستا په خبره غیر ممکن ویی او ناساپه ممکن شي ورته وایی معجزه! او ته زما د ژوند معجزه یی ..

حسیب- یو خبره درته وکم؟
-اهوم وایه.
حسیب- تراوسه فکر کوم خوب وینم!
د هغه پدی خبره زه په خندا شوم چی هغه وویل: خو له خدایه غواړم که دا خوب هم ویی هیڅکله راویښ نشم ورڅخه.
-یعنې ته حاضر یي دا یو خوب ټول عمر وګوری؟
حسیب په کراره وخندل او ویی ویل: ستا خوب لیدل خو ډیر لویه خبره ده، زه حاضر یم خپل ژوند ستا د خولي په ادا شوی یو"اهوم "قربان کړم.

د هغه پدی خبره د شرم او حیا څخه تکه سره شوم او هیس می ونه ویل چی حسیب بیا وویل :یو خواهش کوم مني؟
-څه؟
حسیب- یو ځل ما نوم راته واخله.
په حیرت می وویل: ستا نوم واخلم؟
حسیب- شاید ستا په نظر لیونتوب ویی خو دا زما آرمان دی چی خپل نوم ستا له خولي څخه واورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیس می ونه ویل چی هغه بیا وویل: یواځی یوځل.
په شرمناکه او بیحده کرار غږ می وویل: حسیب.
د څو دقو لپاره هیس غږ رانغي چی ومي ویل: حسیب چیرته لاړی؟
حسیب- جان حسیب همدلته یم.
د هغه د جان په ویلو د شرم څخه بیا تکه سره شوم او په همغه لهجه می وویل:
داسي خبری مه کوه.
حسیب- څنګه خبری ونکړم؟
-هم.. همدغه شان.
حسیب په شیطنت وویل: څنګه شان؟
په اعتراض لړونکی لهجه می وویل: حسیـــــب په عذابه ول مه کوه.
حسیب- اخ..اخ داسی ناری مه وه کنه.
دا ځل ما په شیطنت وویل: څنګه ناری نکړم؟؟
حسیب- کولي شم درته هوسی غږ کړم؟

خندا می راغله او ومی ویل: هر خبری کی ولي زما څخه اجازه اخلي؟
حسیب په خندا وویل: وایم هسي نه فکر وکړی چی" چای نه نخورده پسر خاله شود".
ما هم وخندل او ومی ویل: ښه خبره ده فکر کوه هغه کار ونکړی.
حسیب- په سترګو تاسو یواځی امر کوی.
په خندا می وویل: اهوم د نن شپي لپاره مي امرونه خلاص شول.
حسیب- دومره زر؟ تراوسه خو لا سر شپه ده!
-سر شپه چیرته ده؟ څه کم دوه بجي دی!
حسیب- دوه بجي نو څه دی؟
-ډیر څه دی سهار پوهنتون هم لرو که یاد دی ویی.
حسیب- یاد می دی. ته هم ربنتیا وایی د کلونو هجران یو شپه کی نه جبران کیږی.
خو زړه می نغواړی خدای پاماني وکړم.
-نو اوس څه وکم زه؟
حسیب- یو خبره کوم غوسه کیږی به نه!
-څه؟
حسیب- ته کراره ویده شه سمه ده! یواځی موبایل همداسی پریږده زه درته خبری
کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حیرت می وویل: څنګه پوه نشوم؟
حسیب- موبایل کی ګوشکی واچوه او غوږ کی کېږه زه درته خبری کوم ته ویده شه.
کله چي زه ډاډمن شوم چي ته ویده شوی یي بیا قطع کوم زنګ.
په خلاصه خوله د حیرت څخه می وویل: حسیب! لیونی شوی یی؟

زما په خبری حسیب په کراره غږ وویل: وبخښه.. ویده شه ښه شپه خدای پامان.
پوه شوم چی خفه شو په همدی خاطر مي په تلوار وویل: ای.. ای.. صبر سمه ده لږ صبر زه ګوشکي پیدا کړم نه پوهیږم چیرته مي ایخودلی .
زما په خبری حسیب په خوشحالی وویل: سمه ده زر کوه شابه پیدا یي کړه.

خندا می راغله د هغه دومره بی قراری ته پاسیدم او ګوشکي می چی یو خوا یی جوړه وه بله خرابه د الماری د خاني څخه راواخیستل او موبایل سره می وصل کړه.

-ښه ګوشکی می ولګول اوس زه ویده شم؟
حسیب- افرین. لږ صبر.
-سمده.
څو دقی چوپه چوپتیا وه او د هغه څخه وروسته د حسیب کراره آواز می د تر غوږ شو.

هر شاعر د خپل محبوب کوی بیان!
که حمزه دی که غنی دی که رحمان!

هر انسان په دی دونیا کی خپل مطلب کړی!
که اشنا دی که دښمن دی که خپلوان!

غل چی ګیر شی نو د هرڅه نه ورتیر شی!
که غیرت دی که قسم دی که ایمان!

چی زمونګ ورسره مینه شی نو تختی!
که دولت دی که ژوندون دی که جانان!

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پوهیږم حسیب به سومره شعرونه او خبری کړی ویی خو اخیری بیت یی چی د خوب څخه مخکی می واوریدو دا وو.

بیګا یې د بنګړو په شور تهجدو ته راویښ کړم
یه خدایه جانان څومره لوی نعمت دی او خلوت دی

یو خوب دی چې تعبیر ورله په هر سورت کې ګورم
یو خوب دی زه او ته یو او جنت دی او خلوت دی

په همدی اخری بیت یې زه خوب ځان سره د بی خبری دنیا ته وړی وم، سهار چی راویښه شوم اول می فکر وکو چی هسی دا ټول می خوب لیدلی؟ خو غوږ کی می ګوشکې او لاس کی می موبایل د ټولو شوی خبرو تایید کوو، زر می موبایل خلاص کړو چی یو مسج د حسیب راغلی وو راته چی لیکلی وه.

-زړه می نه کیدو چی موبایل بند کړم خو و ویردم چې هسی نه بل سوک دربانډی راشې او ته ویده موبایل دی وګوری، نو ځکه می بند کړو شه خوب ولری په ځان پام کوه ستا لیونی حسیب.

- د دی مسج په لیدو لکه لیونیانو پشان می وخندل یعنی دا ټول خبری رښتیا وه؟ او خوب نه وو؟

***

ورځی او شپی تیریدی او زما او د حسیب کار شوی وو په پوهنتون کی یو بل ته یو خندا او دشپی لخوا وتساپ باندی خبری اول مو هسی چټ کوی یا مو اډیو کال کوی خو دوه میاشتې وروسته ویډیو کال به مو کوی، تر ډیره به مو سره خبری کول مجلس به مو کوی خو کله چی به د خوب وقت راغی حسیب به نه تلو ویل به یی چی موبایل خپل مخکې کیده او ته ویده شه زه تاته ګورم! خپل د ویډیو کال صفحه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به یی بنده کړه یواځی یو طرفه زما د به خلاص وه، او هغه به ټوله شپه لکه لیونیانو ماته کتل، څو ځله به داسی وشول چی نیمه شپه به راویښه شوم او ویډیو کال به روان وو ما به فکر وکو چی هغه ویده شوی او غوښتی می چی زنګ بند کړم چی همغه وقت به د هغه غږ راتلو او خپل صفحه به یی روښانه کول او ویل به یی چی زه ویښ یم! د شپی به د هغه د نظر لاندی ویده کیدلم او سهار به د هغه په مسج او

زنګ راویښه کیدلم څو میاشتو کي زما د ژوند ټول کنټرول د هغه په لاس کی ورغلي وو، زما د خوب د وقت څخه نیولی د روایښ کیدو، ډوډی خوړو، درس ویو،د چا کورته د تلو، حتا په میاشت کي زما د عادت کیدو ورځ یي لا یاد کی ساتلي وه! حسیب په څو میاشتو کي په کامله توګه زما د ژوند یو، یو کار او خبره یي کنټرول کول. د شپی لخوا به یی خپل د نظر لاندی خپل په اشعارو باندی ویده کولم او د ورځی به یی خپل په نایابه او ښایسته مسجونو باندی راویښه ولم. د حسیب په راتلو مي ژوند یو نوی رنګ او خوند اخیستی وو، نور راته د هیچا خبرو اهمیت نه درلود.

نه د ادی نصیحتونه مي په غوږ نیول نه هم د خلکو بیځایه خبری ټول ژوند می په یو نوم کی خلاصیدی" حسیب "که خوشحاله وم نو اولی نفر چي خپل خوشحالي مي ورسره شریکه ول حسیب وو، او که خفه وم اولي نفر چي ورته ګیلي او ناز مي ورباندی کوی هغه هم حسیب وو. د پوهنتون اخیری امتحانونه مي رانژدی شوی وه د څو کالو زحمت وروسته فارغه کیدلم. او ټول هغه امیدونه چي آیندی ته می ساتلی وه کرار کرار، په پوره کیدو وه د حسیب د راتلو سره زما درس نور هم ښه

شوی وو هغه به تل تشویق کولم چی درسونه می ووایم هغه راته وعده راکړی وه، چی د واده وروسته به زما د کار کول سره مشکل نلری او خپله به مي تر کاره وړی راوړی. حسیب په څو میاشتو کي دومره زما په زړه او ژوند کی ځای ونیوی چی کله کله می فکر کوی چي ما د حسیب څخه مخکی څنګه ژوند تیره ویی؟ ټول امتحانونه مي په بیحده ښه توګه ورکړل خو اخری امتحان د یو داسی مضمون وه چي ما

بیخی د هغه نوټونه نه درلودا! د ټول صنف څخه مي د هغه مضمون د نوټ غوښتنه وکړل خو ټولو ویل چی نه یی لرو یواځی د یو کس سره وه د صنف د نماینده! او ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیس جرئت نشو کولی چی د هغه څخه د نوټ غوښتنه وکړم ځکه نیلوفر راته ویلی وه چی څو میاشتی مخکی هغه سور ګل او کوچنی کاغذ د دغه نماینده کار وو؟! او

حسیب پدی کار د ده سره یو لوی جنګ کړی وو چی زه وروسته خبره شوم. نو ځکه زړه می ونشو د هغه څخه د نوټ غوښتنه وکړم، نیولی او خفه کورته راغلم ادی راڅخه د خفګان پوښتنه وکړل او ما هم ورته وویل چی سبا امتحان دی او دهغه مضمون نوټ نلرم! خو ادی د همیشه پشان یواځی یو خبره وکړل.

ادی- داسی دی پر ځان غم نیولی چی سوک پوه نشی فکر کوی خدای نکرده یو سوک مړ شوی !دا بیا پدی یو مضمون کیدی ناکامه شي څه قیامت خو نه راځی!

هیس می د ادی وخبرو ته ونه ویل او خپل کوټی ته ولاړم تر ماښامه حسیب څو زنګه او مسجونه راپسی وکړل خو ما جواب ورنکړو، ما یو بد خاصیت درلود هغه دا چی په دومره کوچنی خبری به مي غم جوړ کړو او که چا راڅخه د حال پوښتنه کړی وایی نو د هغه کس د پوښتنی مخکی مي ورباندی دری منه اوښکی تویه ول او

ژړل می! نو ځکه مي نه غوښتل چی حسیب دی خفه کړم. ټوله شپه می د حسیب زنګ او مسج ته جواب ورنکو او ویده شوی وم، د شپی دوه دری بجو شاوخوا وه چی موبایل ته می زنګ راغي؟! و مي چی کتو د حسیب نوم لیکل شوی وو لځان څخه شرمنده شوم چی دی مي په تشویش کړو هغه هم د یو امتحان لپاره غوښتل می جواب ورکړم چی زنګ بند شو او یواځی یو مسج راغلو راته چی لیکلی وه.

حسیب- که کولي شي لږ د باندی راووځه.
په حیرت می څو ځله مسج ووایو او په تلوار مي زنګ ورپسی ووهی همدا چی الو یی کړل په تلوار می وویل: چیرته راووځم؟ ته چیرته يې؟
حسیب- ډیر بی وفا يي اغلی محمدی.
د هغه پدی خبره شرمنده شوم او په کراره غږ می وویل: بخښنه غواړم زما حال لږ ښه نه وو نو ځکه می جواب درنکو د مسجو او زنګو دی.
حسیب- یو کرښه خط به دی لیکلی وایی چی زه ښه نه یم اوس جواب نشم درکولی.
بس همدغه یو خط دی هم نشو لیکلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- حق يي درلود زه ورته ملامته وم په همدی خاطر می هیس ورته ونه ویل چی هغه یو لوی نفس واخیستو او په کراره لهجه يي وویل: زه اوس دا خبری پرېږده که امکان لری خپل د کور دروازه لږ خلاص کړه ما درته نوټونه راوړی.

د حسیب پدی خبره په تلوار د بستری څخه پاسیدم او په حیرت می وویل: ته زموږ د کور مخکي يي؟
حسیب په خندا وویل: باور نه کوی کنه چی دومره لیونی یم؟ خو باید ووایم چي هو اغلي محمدی زه تاسو د کور مخکی یم ځکه زه د ربښتیا هم ستا لیونی یم.
د حیرت څخه په خلاصه خوله په ناباوری مي وویل: نه هسی خبره کوی کنه حسیب؟ نه يي راغلی پدی نیمه شپه زموږ د کور مخ ته؟
حسیب- که باور نکوی دروازه در وټکوم.

په وحشت سره می وویل: نه..نه داسی کار ونکړی.
زما د ویری څخه په ډک غږ هغه په خندا شو او په کراره غږ یی وویل: که ستا د عزت او احترام فکر راسره نه وایي دا ټول دنیا می خبره ول چی زه د چا د کور او کوڅی لیونی یم خو افسوس..( یو غټ نفس یی واخیستي او په خوشحالی وویل) خو خدای مهربان دی ته یو ځل دا پوهنتون څخه فارغه شه د فراغت په اول ورځ د دی څخه مخکي چی ته کور ته راورسیږی زما مور به راغلی ویی ستا د غوښتلو لپاره.

د حسیب په خبرو د شرم او حیا څخه تکه سره شوم او هیس د جواب ورکول لفظ راسره نه وو چی هغه دا ځل په خندا وویل: اوس راځی کنه دا دوه ساعته کیږی دلته ولاړ یم آدم برفي راڅخه جوړه شوو د یخ له لاسه.

په تلوار پداسی حال کي چی خپل ټکری مي په سر کشه ویی ومی ویل :درغلم.

موبایل مي بند کړو او په کراره د کوټی څخه ووتلم آرامه آرامي وه د ادی او بابا د کوټی دروازه بنده وه هلته لږ تم شوم کله چی ډاډمنه شوم چی هغوی ویده دی په کراره حویلی خواته روانه شوم تکه توره شپه وه ځای ځای د سپو د غپیدو غږونه راتلل هوا یخه شوی وه په هغه تیاره او نیمه شپه کی د حویلي تر دروازی تلل راته د غر کیندلو څخه لا زیات سخت کار ښکاره کیدو، خو مجبوری روانه شوم کله چی دروازی ته ورسیدم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه درزا مې بيحده زيات شوه شاوخوا مې وکتل فکر مې کوی يو غلط کار کوم او ټول خلک راګوری؟ په سل نه زړه مې دروازه لږ خلاصه کړه خو هغه تکه توره شپه کی راته هيس شئ يا کس نه معلوميدی. يو خوا د يخ له لاسه ريږديدلم بلخوا د ويری او وحشت څخه، چی هسی نه سوک مي په نيمه شپه دلته د يو هلک سره ونه ګوری. زما له قسمته ټول کوڅه کی يو ګروپ لا نه وو چی لږ ړنا اوسيږی او سوک معلوم شی!

شاخوا مې د حسيب پسی کتل چی هغه په کراره غږ اول آواز وکو بيا يی خپل د موبايل صفحی ړنا زما خواته ونيول او ويی ويل:
حسيب- ديخوا دلته يم.
په ورختای مي هغه خواته وکتل کوم طرف ته چي حسيب د موبايل ړنا او غږ اوريدلی وو، چی حسيب مي وليدی چي يو تور نازکه کورتي اغوستي وه او د يخ څخه يي پوزه تکه سره اوختی وه، د هغه په ليدو مي د زړه درزا نور هم زيات شوه او بدن مي هه لړزه شو چی هغه په ځو ګامو کي ځان تر ما راورسه ويی او ويی ويل :

حسيب- ښه يی؟ ولی دی ژړلی دی؟
په تلوار می وويل: نه می دی ژړلی.
حسيب تندی تروش کی او ويی ويل: يو ځل مخکي می درته ويلی وه چی ماته به دروغ هيڅکله نه وايی هوسۍ.
په شرميدلی غږ می وويل: وبخښه.
حسيب- بخښنه هم مه غواړه خو وعده راسره وکړه چی نور به هيڅکله اول ماته به دروغ نه وايی او دويم هيڅکله به نور ما منتظر نه پريږدی سمه ده؟
په کراره غږ می وويل: اهوم.
حسيب وخندل او په هغه تکه توره شپه کی خپل د کورتي له جيب څخه يي يو څو ورقی او يو بل شئ چی وروسته پوهه شوم کاکو پاکيټ وو ماته ونيو او په خندا يی وويل :

حسيب- يعنی تا د دغه څو دانو بی ارزښته ورقو لپاره هم خپل ورځ دی خراب کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم زما ده؟ پوهیږی د ډیر تشویش څخه تر مرګه پوری رسیدلی یم.

د شرم څخه می سترګی ښکته واچولې، حسیب حق درلود چی ګله وکړی ما ورسره زیاتي کړی وه، حسیب په افسوس باندی سر وخوځه ویی او ویی ویل: کله چی تا زما یو مسج ته لاجواب رانکو او زما زنګونه دی بنده ول مجبور هغه ستا خواهر خوانده څه نومیږی؟ هاا؟! اغلی نیلوفر نمبر مي په سل زحمتونو پیدا کو او ورته مي مسج پریخودو، دا هم شکر هغی راته ستا ستونزه وویل کنه تر همد اوس به سرګردانه وم د لیونیانو پشان.

د حسیب پدی خبره مي تازه فکر شو چی حسیب د کوم ځای څخه خبر شوی! چی زه په نوټونو خفه یم! دا خبری ته مي بیخی فکر نه وو شوی نو نیلوفر ورته ویلی! د هغه د لاس څخه مي نوټونه واخیستل خو یواځی دوه ورقی وه؟! په حیرت می هغه ورقو ته کتل چی حسیب په خندا وویل :

حسیب- سترګي دی داسی مه کوه! سبا دی امتحان دی او اوس که ما درته سل ورقي نوټونه راوړی وایی څه فایده درلود کله چی د ویلو لپاره وقت نه وو پاتی؟ نو ځکه ولاړم دومره واسطه او زاری می وکړل ترڅو د سبا د امتحان د پوښتنو ورقي پیدا کړم.

- په خلاصه خوله د حیرت څخه مي ورته کتل! تللی د سبا د امتحان پوښتنی ماته راوړی؟ همداسی په خلاصه خوله می ورته کتل چی حسیب په خندا ځو ګامه نور هم رانږدی شو او پداسی حال کي چي زما ټکری چی د ورختای له لاسه د ویښتیانو څخه مي غورځیدلی وو، زما په سر یي اچوي ویی ویل:

حسیب- زه ستا لپاره خپل ځان قربانه ولو ته حاضر یم هغه وقت ستا په نظر دوه ناچیزه ورقي خپل د مینی د بیانه ولو او ښکاره کولو لپاره نشم پیدا کولی؟ اممم؟

د هغه پدی خبرو د حیا څخه مي سر ښکته کړه چی هغه په بیحده مینه ناکه لهجه وویل: زه که مولوی وایي نو فتوا می ورکول چی جانان ته کتل هم عبادت کي راځي..

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خندا مې وویل: نو ښه ده چې مولوی نه یې کنه نور به دی څه لیوني فتواګاني ورکړی وایی؟
حسیب- که نور وس مې رسیدلي نه وایي یو کتاب مې لیکي په نوم د " احکام العاشقي "او په ټولو قاریانو مې له حفظه وایي.

د خندا نه ورته شنه سوم چې حسیب به تلوار لاس راته په خوله کیخود او په کراره غږ یې وویل: لیونۍ نیمه شپه ده سوک به دی غږ واوری.

د حسیب په خبره مې تازه خپل موقعیت ته فکر شو او په تلوار څو ګامه شاته شوم او شاوخوا مې وکتل شکر سوک نه وو. په کراره غږ مې ورته وویل: زه به نور لاړشمه هسې ادی راته فکر نشی چې د باندی راوتي یم.

حسیب- اممم سمه ده خو د ټلو مخکي زما قرض راکړه.
په حیرت مې وویل: د څه قرض؟
حسیب په شیطنت وویل: نیمه شپه چې یو عاشق د معشوقي د کور کوڅي ته ورشي نو معشوقه د عاشق د دومره زحمت په بدله کی څه ورکوی؟

د شرم څخه تکه سره شوم او ومی ویل: په عذابه ول مه کوه حسیب.
حسیب- وی.. په عذابه ول څه دی؟ خپل حق غواړم خپله د حق غوښتل هم اوس په یعذابه ولو کی راځي؟

په ناز مې ورته ناری کړل: حسیــــب..
حسیب: جـــان.. څو ځله مې درته ویلی داسې ماته ناری مه وهه، کنه پښیمانه کوم دی په دی ناز او ادا باندی.

په همغه ناز مې ورته وخندل او یو څه د کور دروازه مې بنده کړل او ورته مې وویل :نور نو ورځه هسې نه سوک راشي او موږ پداسې حال کی ووینی.

حسیب د دروازی یو خوا ونیول ترڅو زه یې بنده نکړم او لږ رامخکی شو او په خواهش منده لهجه یې وویل: دومره حد پدی شپه کی راغلی یم بی انصافي نده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسي مې استوې؟
په شیطنت مې ورته وویل: ولی بې انصافي؟ ملاقات دې وکړو دومره مجلس دې هم وکو نور نو څه غواړې؟

حسیب- الحق چې د یار دیدن لوی نعمت دی او دی کې شک نشته. خو دا هم بې انصافي ده چې شپه دی پاتې ویې او د دیدن فرصت دی هم ویې او ته ما آرمانجن استوی!

په حیرت مې ورته وویل: چیرته شپه پاتي؟ دم په دمه د سهار آذانونه کوی.
حسیب- تراوسه خو آذان ندی شوي ستا د کوټې لاره کوم طرف ده؟
په ویرې مې ورته وویل: ته زما د کوټې لاره څه کوې؟

حسیب- دومره حد راغلي یم د یو پیالي چاې ست هم نه راباندې کوې؟
-اووو خلک خپل د معشوقي لپاره د فرهاد پشان غرونه کیني، او دومره ورته نه وایي څومره چي تا د دغه دوه قدمو لارې منت دی پر ما بار کړو.

زما پدې خبرې حسیب په تروش تندی وویل: خدای دې نکوې چې زه دې خپل د میني منت او احسان پر تا بار کړم، او هو که خبره د غر کیندلو او د آسمان څخه د ستور او سپوږمي راوړلو ته ورسیږي که زه د فرهاد څخه په میني کی یو ګام لاشاته شوم نو زما مینه نه مینه اغلی محمدی..

-اهوم.
حسیب- اوس مي په یو پیالي چاې میلمه کوې کنه؟
په خندا مې ورته وویل: نــــه.
زما په" نه "حسیب په خندا شو او ویې ویل: ما داسی ډیر ستا" نه "په" هو "بدل کړی اغلی محمدی.
په خندا مې ورته وویل:اهوممم شاید خو دا ځل نشي بدله ولي.
حسیب په خندا سر راته وخوځه ویي او ویې ویل: وبه ګورو( او بیا یی ناساپه وویل : ای..ای تا فرهاد او مجنون نوم واخیستو ما یاد ته راغلو ما تاته پایزیپ اخیستي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حسیب پدی خبره می شونډه وچیچل او ومی ویل: رښتیا؟ کومه دی؟
حسیب- دومره په تشویش دی کړم بیخی می له ذهنه ووت چی تاته یي راوړم..(
بیایي په شیطنت وویل: زه خیر اوس می د یار د کور کوڅه په نښه کړه نن نشو سبا
به یي راوړم، او خدای مو څه لیدلي شاید دا کلک زړه یار زړه هم یو څه نرم شو او
دا خوار عاشق به په یو پیاله چای هم میلمه کړی څنګه؟

په خندا می ورته وویل: که پایزیب دی راوړو شایـــد...
حسیب په خوشحالی وویل: پایزیپ خو لږ شي دی ته زما څخه دا ټول دنیا وغواړه
چی زه یي ستا و قدمو ته وشیندم( بیا یي دا بیت و وایو:

کله چې شاعر شم ستا په حسن به غزل لیکم
هر څه نه اول به دې اشنا پکې خندل لیکم

ما چې درته کړی وو اظهار او غصه شوی وی
اوس راته را یاد شو ګله ستا هغه ښکنځل لیکم

زه چې دې غلام په یو نظر د تمام عمر کړم
څومره اثري وو یاره ستا هغه کتل لیکم.

- نیم ساعت نور هم د هوا تر ړنا کیدو پوری د دروازی مخکي مو مجلس وکو او اخیره کی د انجینر اغا د کور د دروازی ټک سره، دواړه په تلوار خدای پاماني وکړه. د حسیب د تلو وروسته کوټی ته ولاړم او همدا چي خپل کمپل مي په ځان راکش کړو دوه دقي به لا تیره شوی نه ویي چي د کوټی دروازه خلاصه شوه! او د ادی غږ می واوریدی چی ویی ویل:

ادی- هوسۍ پاسه سهار دی مونځ وکړه.

د ادی په غږ اول بیحده و ویردمه فکر می وکو چی شاید زه یي د باندی لیدلی یم د دروازی خواته؟ خو د هغه په خبری یو څه خیال می راحت شو چی نه یي یم لیدلی.
په یو داسی غږ چی کوښش می کوی خوبولی و اوسیږی ادی ته می سمده وویل
ترڅو هغه ولاړشی د ادی د تلو وروسته زر مي مونځ وکړو او ورقی می راوخیستل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅو وګورم څه پوښتنې دی؟

د ټولو امتحانو په پرتله نن د امتحان اولی پارچه زما وه! چی د ورقو د تقسیم کولو پنځه دقي وروسته مي د ټول صنف د حیرت څخه د ډک نظر او د نیلوفر د سل کنځلو خوړو وروسته مي استاذ ته ورقه ورکړل او په یو خاص غرور او خوشحالي له صنفه ووتلم چی همغه دقه کي حسیب راته مسج وکو.

حسیب- څنګه شو امتحان دی؟
په خوشحالي می ورته ولیکل: همدا اوس می پارچه استاذ ته ورکړل سلو کي سل نمری زما دی.

زما په خبره حسیب یو دوه د خندا سټیکر او یو مسج راوستوی.
حسیب- زه شکر چی په خیر تیر شو. ښه وه دی نه ویل کله به مي په یو پیالي چای میلمه کړی؟
-اووو تر یو هفتی میلمستیا نشته.
حسیب- ولی؟
-ځکه د پرون ماښام څخه تراوسه چی وینه یم او هغه دری ساعته چی د دروازی مخکي دی دری ساعته په مجلس نیولی وم، اوس هم ذوکام نیولی یم او هم پښی می درد کوی!
حسیب- وای.. خو زما ګناه نه وه ما درته وویل راځه کوټی ته خو تا نه منل.
-نور خو ښه یی؟

زما پدی مسج حسیب یو دوه د خندا سټیکر راوستول او ویی لیکل: شکر د خدای فضل بیخی ښه یم او نن شپه هم د یو ډیرررر ګران کس کور ته په یو پیاله چای میلمه یم بیخی نو داسی خوشحـــال یم.

په خندا می ورته ولیکل: هسی زړه مه خوشحاله کوه میلمستیا نشته.
حسیب- خرچه دربانډی نکوم یواځی یو پیاله ترخي چای راوړه خوړه لا مه راوړه، چی تاواني نشي.
-حسیـــــــــب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسیب- اوس چی ناری وهلي نشي مسج کي زما نوم کشه ویی؟ جان څه وایی؟ صبر زه درته زنګ وهم.

حسیب دا خبره وکړل او همغه ثانیه کي راپسی زنګ ووهو، چی ما هم زر جواب ورکو.
حسیب- الو سلام علیکم ښه یی؟
-علیک سلام شکرر سلامتی خپل ښه یی؟
حسیب- ستا غږ مي وآوریدو بیخي یو دم جوړ تیار شوم.
-اهوممم.
حسیب- څه دی ویل چی مسج کیدی ناری راته وهلي؟
-نن شپه رانشي.
حسیب- ولی؟
-خوو زه ستړی یم طبیعت مي ښه ندی.
حسیب- اممم سمده نو چی ستا خوښه نه ویی نه راځم.
-خفه شوی؟
حسیب- نه ولی؟
-ته چي زما خبره زر تایید کړی مطلب خفه شوی یی؟
حسیب- نه نه یم خفه شوی ته مریضه شوی زما له لاسه نو استراحت وکړه.
-حسیب!
حسیب- هاا؟
-ګوره خفه یی.
حسیب- نه یم خپه درته وایم.
-خفه یی ته چي کله خفه اوسیږی د جان له ځایه ماته هاا وایی!
زما پدی خبره حسیب په خندا شو او ویی ویل: جـــان څه وایي صحیح شو اوس خوشحاله؟

په نارحته لهجه می وویل: نچ زه خپه شوم درنه.
حسیب- ولی؟ ملامته هم ته یي خپه هم ته کیږی عجیبه ده پخدای!؟
-زه ملامته نه یم.
حسیب - سمه ده دا زه یي ملامت صحیح شو ته خوشحاله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نه زه خپه سوم.
حسیب په خندا وویل: بیا نو ولی خپه یی؟ ما خپل ملامتیا هم ومنل.
-ستا یو خبری ته می" نه "وویل بس د" جــان "څخه" هـــا "ته ورسیدم.
حسیب په خندا وویل: زه بخښنه غواړم صحیح شو، زما جــان،زما نفــس، زما عمـــر، زما ژونــــــد...

د حسیب یو ناز او خبری ته مي لا جواب ورنکړو، نه پوهیږم ولی په دومره لږ خبری ورڅخه مرروه شوم؟ ربښتیا ویلي کله چی د یو چا سره بیحده بي اندازی مینه وکړی نو د هغه کس په نه خبری لا غم او غوسه درځئی. همداسی خاموشه وم چی حسیب وویل:

ډار له بیا باور لرمه لاس می را تر زنی دی
لیک می د لالی لخوا راغلی د بخښنی دی

تیتی سترګی چوپه خوله له هر محفله پورته شم
ستا د مینی داغ می لا تر اوسه په لمنی دی

لمونځ پریږدم خالقه او تر تا په بله لاره ځم
وخت می د لالی سره لالیه د لیدنی دی

بیا مینیدل می بیخی لری له امکانه ده
زړه می پښیمان په هغه کړی تیروتنی دی

بدی بدی مګوره همغه پخوانی یمه
غم می اړولی رنګ صمیمه د ځرمنی دی

حسیب- خبری کوی که تر سبا درته شاعری وکړم هممم؟
د حسیب ویل شوی څو بیتو باندی خفګان مي بیخي لیاده ووت او په خندا می ورته وویل :ته د کوم وقت څخه شاعر شوی یي چی هر خبری کی دری منه فلسفي اشعار وایی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما پدی خبری حسیب د میني ښخه په ډک غږ وویل:

ستا خانده دې اسرافیل دویمه شپېلۍ ده.
زه دې مړ پرې راژوندي کړم خانده خانده.

حسیب- اغلی هوسی خانده خانده ته د میني د زور ښخه نه يي خبره مینه په انسان څه، څه کارونه او چمونه چی نکوی او څه، څه ورښخه نه جوړه ويي شاعری خو د میني اوله ځینه او قدم دی.

- په شیطنت می ورته وویل: که شاعری اولي قدم د عاشقی دی؟ نو اخیری قدم یي څه دی؟

حسیب- اخیری قدم کله ناکله بدلیړی اغلی محمدی. اخیری قدم داسی دی چي د معشوقي رضا ته گوری نه د ځان نو ځکه نه پوهيږی چی اخيره به څه کیږی؟
-اهوم.

د نیلوفر په راتلو مي د حسیب سره خدای پاماني وکړل، چی نیلوفر په قهر او غضب زما طرف ته راغله او په همغه غوسه يي وويل: خوب است خوب است افرين به تو رکم دوست.

په حیرت می وویل: ولی ما څه کړی چی داسی وايی؟
نیلوفر- څه دی کړی؟ داسی ووایه چی څه دی ندی کړی؟ ښه شو تاته یو نفر پیدا شو ملګری او دوست دی لیاده ووتل.
-ما کله ته لیاده باسلي يي چی داسی ګیلي کوی؟
نیلوفر- باسل ستا په نظر نور تور وی که سپین؟ کله چی هغه جان جاني یار دی درته د امتحان سوالونه درکړل ولی دی ماته رانکړل؟ چی نن د دغه کبرا د ریشخند نشم.

د نیلوفر پدی خبره تازه می خبری ته فکر شو او په شرم می خبل شونډه وچیچل او په کراره غږ می ورته وویل: نیلـــو پخدای بیخی می فکر نشو پخدای هغه پوښتنی ډیر ناوخته زما لاس ته را ورسیده کنه پخدای تاته می درکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیلوفر- خود نو نیلوفر بدبخته خو یوائې د مشکلاتو په وخت تاته یاد راځی د مزو
وقت کی خو حسیـــــب جـــــان دی، چی تر نیمه شپو ورسره مجلسونه کوی.
د نیلوفر په اعتراض لرونکی او قهرجنه لهجه می وخندل او په شیطنت می ورته
وویل: خود نو زړه دی غواړی خپل دیـــــار له ځایه تر نیمه شپو ستا خیرنی سره
مجلس وکړم؟

دا خبره می چي وکړل د نیلوفر د اندی څخه په منډه شوم چی هغي پداسی حال کي
چي ماته کنځل کول راپسی وه.

نیلوفر- دستم بهت برسه پاره ات میکنم هوســـــــی مه به تـــــو یک یـــــاری نشان
بتم کی او سرش ناپیدا باشه...

***

زړه مي بي واره ټوپونه وهل د ډیر استرس او تشویش له لاسه، خوا مي ګرځیده او
رنګ مي تک ژیړ اوختی وو، فکر مي کوو پښو کي مي د دریدو توان او قوت نشته!
نن د فراغت ورځ می وه او له سهاره چي زړه مي بی کراری شروع کړی وه، زما
دا بد احساس او ویره لکه چي حسیب ته هم منتقل شوی وه چی د سهار څخه تراوسه
یي یو سل ځله خو یي راته زنګ وهلي وو او پوښتنه به یی کول" ښه یی"کوم مشکل
خو نسته" کوم شئ خو دی په کار ندی "او ما به یوائې ویل "هر څه سم دی "خو نه
بوهیږم ولی دومره ناکراره وم؟ د پوهنتون په تالار کي ټول ناست وو او مدیر او
ځیني استاذانو خبری کول او بعضي کسانو اشعار ویل نیلوفر زما اندی ته ناسته وه او
ماته یي دلداری راکول.البته که دلداری که راشی دهغي الفاظ....

نیلوفر- تو را قران زده کی جای خوشحالی مثل مردها نشستی به تو خوشی نیامده.
-نیلـــو داسی کار مه کوه چی د پوهنتون د فراغت اخری ورځ ویښته به ویښته
شوی یو.
زما به خبری نیلوفر وخندل او ویی ویل: چقدر مزه بته زود باش موی کنک کنیم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بد بد می ورته وکتل چی هغي هم په خوشحالی وخندل، چی همدغه ثانیه موبایل ته مي مسج راغلو کله چي می خلاص کړو د حسیب مسج وو چی لیکلی وه.

حسیب- اوو زما لیونۍ دا پوهنتون یو خوږه دوره وه چی لاړه تیره شوه، وګوره دا ستا د څو کالو زحمت دی چی نن ناسته یي او فارغه کیږی، او خپل ټول هغه آرمانونه او هیلو ته چی ماته دی ویل رسیږي نو نن باید خوشحاله اوسیږی نه خفه او داسی رنګ پریدلی .دیخوا وګوره زه د تالار اخیره کی ولاړ یم درته چی خپل د اغلی محمد فراغت وګورم.

به تلوار می شاوخوا وکتل چی حسیب می په خندا خوله د تالار اخیری سر کی ولیدی چی ماته یي لاس وخوځه ویی، د هغه په لیدو می یوڅه زړه ارام شو او نیم کله مسکا می په خوله راغله. غونډه تراوسه نه وه خلاصه شوی بابا وعده راکړی وه چی راځی زما فراغت ته خو رانغي؟ نه پوهیږم ولی؟ که حسیب هم نه وایي بیخی نن یواځی وم نه ادی وه نه بابا او نه هم آسما په هغه دری منه نس چی ماشوم یي درلود راتلی شوه. که حسیب نه وایي پدی ټول پوهنتون کی یواځی وم.

کله چي استاذ زما نوم واخیست او د ستیج سر ته یي دعوت کړم ترڅو خپل سند واخلم د زړه درزا مي خپله آوریدل په لړزانه ګامو د ستیج خواته روانه شوم او په همغه خراب حال مي د استاذ څخه د فراغت سند واخیستو چی یو دم حسیب لکه لیونیانو چک،چکي او شپیلقی شروع کړه دهغه پدی کار ټول تالار ورسره ملګری شو. حسیب په یو شوق او هیجان تشویق کولم چی ټول ویره او وحشت می لمینځه ولاړ او په خوشحالی می خپل سند راوخیست.

غونډ خلاصه شوه او ټول روان وه کورنو ته خو بابا بیا هم رانغی یواځی یو مسج يي راته وکو چی لیکلی وه: لوری خبله کررته راشه زما لاس بند دی نشم درتلی درپسی. د بابا پدی مسج ټول شوق او هیجان می خلاص شو. زما د کورنی څخه یو نفر لا زما فراغت ته رانغلو ادی څخه می لا تمه نه وه خو بابا! به همدی فکرو کي خپه ولاړه وم چي د حسیب غږ می د شالخوا تر غوږ شو چی وی ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



*په خفګان که يې لا حُسن يو په زر شي*
*ځومره خوند کوي چې ښکلي مرور شي*

- حسيب -خو ستا سره خندا خوند کوی اغلی محمدی نه خفګان.

په خوشحالی د حسيب خواته راوګرځيدم چې هغه هم رانږدی شو او پداسی حال کی چي لاس يي راته نيولی وو ويی ويل: مبـــارک مبـــارک فراغت دی مبـارک اغلی هوسۍ محمدی.

په خندا مي لاس ورکو او ومی ويل: سلامت اوسيږی ښاغلي شاپوری ستاسو د فراغت په هيله.

حسيب- اممم زما فراغت دومره مهم ندی ستا د بيحده مهم وو او شکر چی فارغه شوی.

-ولی زما ده مهم وو او ستا ده نه؟

حسيب په شيطنت وويل: هغه ځکه چي ستاسو فراغت يو طلای فرصت دی چی دا حقير بنده مرکي ته راشي او دا د ښکلا شاپيری ورته د" هو "جواب ورکړی.

په شرم او حيا می سر ښکته واچوی چی حسيب په مينه ناکه لهجه وويل: ای زه دی قربان لدی شرم او حيا ځځه شم.

په کراره غږ می وويل: خدای دی نکوی.

حسيب- خدای دی وکړی دا می غټ ترينه ارمان دی چی ستا لپاره قربان شم. ځنګه دی خوښه ده؟

-د څه په اړه؟

حسيب- مور ته ووايم ستاسو کورته ستا د غوښتنی لپاره درشی کنه؟

په شرم می خپل شونده وچيچل او په کراره غږ می وويل: اوس نه.

حسيب- نو کله؟ زما خو نور طاقت نکيږی تر کله صبر وکړم؟

-يو هفته خو صبر وکړه بيخی بده ده زما د فارغ کيدو مخکي دی زموږ کور کي خواستګارن ناست ويی خلک به څه وايي؟

حسيب په تروش تندی وويل: خلک هر څه وايي معنا دا نده چی ته يي ټول خبری ومني يو متل دی وايي: سپی غپيږی خلک تيريږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



به خندا می وویل: اووو متلونه دی هم زده دی ماشالله.
حسیب په خندا وویل: څه فکر کوی معلومداره ده زه داسی تکړه هلک یم.
-بی له شکه لیاقت کیدی شک نشته.
حسیب- مینه کی مي هم شک نشته اغلي..
په کراره می وخندل او ومي ویل: ښه نو زه به نوره ولاړشم.
حسیب- پلار دی راغلی؟
په خفه لهجه می وویل: نه بابا ویل خپله راشه زما لاس بند دی نشم درتلی درپسی.
حسیب- امم نو ځکه داسی خفه ویی؟

په غمژن انداز می سر ورته وخوځه ویي چی حسیب په شیطنت وویل: نو دا زه د کوم ورځ لپاره په کار راځم امم؟ راځه نن دی زه تر کوره رسه وم.
په ویری می وویل: نه.
حسیب- ولی نه؟
-هسی یو سوک به مو وګوری غټ مشکل جوړیږی.
حسیب- هی هی لیونۍ زه خو دی لاس نیولي نه رسه وم، البته زما خو ډیر زړه غواړی لاس نیولي دی تر کوره ویسم خو افسوس یو څو وقته باید ځان کنټرول کړم.

حسیب د کور تر کوڅی داسی شان ورسه ولم چی زما څخه په دومتره فاصله کی راروان وو، خو زه په همدی راتګ هم خوشحاله وم. د کور مخکی کوڅه کی بیحده بیرو بار وو دوه دری موټره هم ولاړ وه لکه چی بیا د انجنیر آغا خسرګنی راغلي؟ هغوی داسی لوکس او قیمتي موټرونو کی تګ راتګ کوی. کورته د ننوتلو مخکي د کوڅی سر ته مي وکتل چی حسیب لا ولاړ وو ترڅو زه کورته ننوځم. شاوخوا می وکتل او په تلوار می حسیب ته لاس وخوځه ویی چی هغه هم په خندا راوکتل او

سترګه یی ووهل چی زه په خندا کورته ننوتلم.کورته په ننوتلو یو دم حیرت زده شوم! د میلمه خاني مخکی بیحده زیات د سریانو بوټونه وه! لکه چی میلمانه مو درلودا او د برنډی خواته هم د ښځو او ماشومانو چپلي او بوټونه ښکاره کیدل! لکه چي دا کوڅه کي ولاړ موټران هم زموږ د میلمه نو وه نه د انجنیر آغا د خسر ګنی؟ په همغه حیرت او تعجب کورته ننوتلم، همدا چی د د هلیز دروازه می خلاصه کړه د لس پنځلس ښځو سره مخامخ شوم چی دهلیز کی ناستي ویی؟ زما په راتګ تولو زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواته راوکتل چې ادی په تلوار رامخکی شوه او ویې ویل:

ادی- دا هم زما لورکۍ هوسۍ جانه.

په حیرت مې ادی ته وکتل چي ادی زما د لاس څخه زما د فراغت سند پداسی شان واخیست چی یو نظر يي لا ورته ونکړو چی دا نو څه شئ دی؟ او بیا يي زه لږ د هغه ښځو خواته تیله وهلم او ویې ویل:

ادی- ورځه د میلمه نو سره سترې مشې وکړه.

د ادی په خبره په ګنګس انداز د هغه ښځو خواته د سترې مشي لپاره یو څو ګامه نږدی شوم چی ټول زما مخ ته پاسیدل! د هغوی پدی کار یو دم هک حیرانه شوم چی اوس اول د چا سره سترې مشي وکړم؟ چی ښه وو د هغه ښځو په مینځ کي یو د عمر څخه زیات ښځې زه خپل خواته کش کړم او زما د مخ ښکله ولو په حال يي ادی ته وویل:

-موږ تاته میلمانه معلومیږو ګل بی بی؟( د ادی نوم ګل بی بی وو)

ښځې دا خبره ادی ته وکړل چی ادی هم یو څو الفاظ چی" وی خدای دی نکوی " تاسو خپل کور دی "او داسی نور خبری وکړل خو هغه ښځی دوه سترګي ماته نیولي وه او د پښو د نوک څخه نیولي د سر تر ویښته پوری په زبر او زیر يي راکتل او ادی خبرو ته يي هیس جواب ورنکړو، زما د ښه اسکن کولو وروسته يي اجازه راکړل چی د نور ښځو او انجونو سره هم سترې مشي وکړم. په ځینځه دقو کي مې د لس عجیبه ښځو سره سترې مشی وکړل! هغه هم پداسی حال کی چی یوه مې لا نه پیژندل؟!

- د سترې مشی وروسته هغه د عمر څخه زیاتي ښځی خپل څنګ ته کینولم! او ما تازه لږ وقت وکړو ترڅو په کوم ماحول کي چي بنده پاتی یم د هغه په اړه لږ تحلیل او تفقیق وکړم !ټول راغلي ښځو له یو سره بخمل اوږده،اوږده کمیسونه اغوستی وه! او د ټول سترګی دری منه په رانجو توری او لاسونه يي بیحده په نکریزو سره کړی وه داسی لکه چی کوم واده ته روان ویی؟ بغیر د همدی یو داني څخه چی د عمر څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څخه لوی معلومیده نور تېول څوانی وه !او د حق څخه تیره نشم تېول د یو سره ښایست درلود! عجیبه وه چې یو هم پکی بدرنګه نه وه! حتا دا بوډی لا به څهره کی د ښایست نښانی درلود، زه لا د هغوی د کتلو په حال کی وم چې همغه د عمر پخي ښځی چی زه یې خپل و څنګ ته کینه ولی وم او په دواړه لاسونو یی دوه غټې، غټې د طلاو بنګړی او دوه غټې د طلاو ګوتمی وه په یو بل شانتی لهجه چی زه وروسته پو هه شوم کندهاری لهجه ده ویی ویل: ماشالله نظره دی نکم شه خو یی؟

د هغه ښځی په خبره می په کراره غږ وویل: شکر د خدای فضل دی تاسو ښه یاست پخیر راغلی؟

نه پوهیدم چی سوک دی؟ او د کوم ځای راغلی؟ خو ادب حکم کو ورسره سم رفتار وکړم. زما په خبرو د هغي څهره د خوشحالی څخه و پړقیده او په خلاصه خوله د خندا څخه یی وویل :اشه شکر چی شه یی. وه موژم پخیر خیرت راغلو.

د هغه بوډی په خبره مي یواځی یو شکر چی پخیر راغلی وویل او ادی خواته می وکتل، بد احساس می درلود د دومره خلکو د نظر لاندی اوسیدل، نه پوهیږم ولی زړه مي بی کراری شروع کړل او د دی ښځو په خوش اخلاقی او رفتار نور هم زما زړه بی قراره کیدو، اخیره خپل حجاب باسل می بهانه کړل او په تلوار خپل کوټی ته ننوتلم. همدا چی راغلم یو راحته نفس واخلم چی په کوټه کی می یو شپږ کلنه ماشومه جنی ولیده چی زما کوټه کی موختی وه او کرار،کرار یي زما څیزونه اړول راړول. هغي زما راتګ ته بیخی فکر نشو !په همدی خاطر په کراره می ورته وویل: بی اجازه د کوم کس شیانو ته سوک لاس نه وهي ځکه ښه کار ندی.

زما په غږ هغه ماشومي جني اوږی وپریدی او په ویری مخ زما خواته راوګرځه ویی. څو ثاني د هغه بوډی ښځی پشان په زبر او زیر راوکتل او بیا په خوشحالی زما خواته راغله او ویی ویل: ته زما د کاکا شزه یی؟

د هغي پدی خبره مي رنګ یو دم وپریدی او هک پک حیرانه شومه او په سل زحمت می وویل :ستا کاکا سوک دی؟
ماشومه- زما کاکا.. جهان کاکا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ځله مې دا نوم د ژبې لاندې زمزمه کړو "جهان جهان "ټول حافظه کې مي دا نوم نه وو اوريدلی؟ په تروش تندی مې وويل: نه ته ضرور غلطه شوی يې.
ماشومه- یا زه نه یم غلطه سوی ماته جهان کاکا وویل کابل ته ځو او تاته د کاکا شزه راوړو..

د هغه ماشومي پدی خبره نور هم غوسه مې راغله اوس پوه شوم چې دا میلمانه سوک دی او ولی دومره زما سره خوش اخلاقه وه؟ پدی فکر چې د حسیب ښځه بغیر زما د غوښتلو لپاره بل سوک دی کورته ته راغلي د وحشت او ویری څخه مي ټول وجود ولړزیده هغه ماشومه انجلي مي د لاس څخه ونیول او د کوټې څخه مي په زوره وباسل او خپل غږ مې یو څه پورته کړو تر څو دهلیز کی ناستي ښځې هم واوری او ومې ویل: ته ضرور غلطه شوی یې ګرانی زه ستا د کاکا ښځه نه یم او نه هم کیږم..

دا خبره مې وکړل او د کوټې دروازه مي کلکه بنده کړه، پوهیدم کار مې یو دم غلط او د ادب څخه لرې وو، خو هیس مي ځان نشو کنټرول کولی حسیب او د هغه خندا د هغه خبری مي مخ ته پورته ښکته کیدل او فکر مې کوی د دی راغلو خلکو سره سم رفتار کول د حسیب او د هغه د مینی سره د خیانت کولو په معنا ده. پدی فکر مي یو څو اوښکي د سترګو څخه توی شول چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او ادی پداسی حال کی چې دروازه ځان پسی بنده ول په غوسه ناکه لهجه وویل:

ادی- وی.. دانو څنګه خبره وه چې تا وکړل؟ په شرمو دی بی بی حاجی ته وشرمه ولم.

د ادی د خبرو په جواب کي مې هیس ونه ویل او خپل د حجاب په باسلو شوم ترڅو د ادی فکر زما اوښکو ته نشي.
ادی- تاته وایم بی شرمي دا نو څنګه خبره وه هاا؟

صبر مې خلاص شو او مخ مې د ادی خواته راوګرځه ویی او په ژړا مې ورته وویل: دا زما ژوند دی ادی دا کوم ننداړتون ندی چې هر یو راځی ما ګوری او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښه ويې مې او زما د اخيستو قيمت ټاکي، زه کوم شئ او جنس نه يم چې زر نفره دې هره ورځ زما د خوښه ولو لپاره کورته راشي. او خپل نظرات زما په اړه ووايي.

ادی- وی توبه سوک راغلی؟ چا درباندی قيمت ټاکلی؟ چا درته څه ويلی؟ دا د خدای او د رسول لاره ده پيغله جنې چې کور کي ويې مرکی او غوښتونکي کور ته ځی راځی دی کی نه شرم دی او نه هم بد کار دی.

-زه يي نغواړم زما نه خوښيږی سوک دی زما د غوښتلو لپاره راشی، زه داسی ژوند نغواړم ادی،( په ژړا می وويل) نن زما د فراغت ورځ وه هيڅوک زما فراغت ته نه واست راغلی نه تاسو نه بابا نه آسما هيڅوک،تک تنها يواځی د هغه ټولو خلکو مينځ کی ولاړه وم.

- او اوس د دی لځايه چي يو تشويق، يو خبره، يو تش مبارکي راکړی .زما د رارسيدو مخکي مو شل کسان په کور کی کينه ولی چی زما د راتلو مخکی ما ورباندی خرڅه کړی،

زه دومره ستاسو په غاړه کی وليدلی يم؟ زه دومره بد جنې يم؟ چی تاسو ما خپل د نظرو څخه ورکه کوی؟ او هر سوک چی د دی کور دروازه ټکوی تاسو ورته زما ده ورکولو قول ورکوی؟

ادی خپل شونډه کلکه وچيچل او د حيرت څخه يي خپل يو لاس د بل لاس پر شا کلک ووهی او په همغه حيرانه لهجه يي وويل: دا ته څه وايي؟ دا نن پر تا څه شوی؟ ولی داسی ګډه وډه لګيا يی؟ چا ته خرڅه کړی يی؟ چا ستا د ورکولو قول ورکړی؟ دا څه اپلاتي لګيا يی؟ اول ځل خو ندی چی تاته مرکه راځی دا هم د هغه نورو پشان دا کارونه څه معنا لری؟ دا ژړا څه معنا لری؟

حجاب باسل می پريخودل او هملته کينستم او ژړا ته می شروع ورکړه، نه پوهيږم ولی می هيس کنټرول خپل په کارونو، خبرو او رفتار باندی نه وو، زړه می بی کراره درزيدي او اوښکی مي بی واره بهيدی همدغه لحظه او ثانيه کي مي يواځی حسيب او د هغه د محبت څخه ډک خبری غوښتل، نور می هيس نه غوښتل هيس. زما په داسی ساندو او ژړاو باندی ادی په ورختای زما خواته راغله او زما اندی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کینستل او زه یي خپل په غیږ کي ونیولم تر څو کراره می کړی، خو زما زړه هیس آرمتیا نه درلود او لکه یو چا چي خپل یو عزیز او ګران کس له لاسه ورکړی ویی داسی مي په سوز باندی ژړل.

ادی- مه ژاړه نور قربان دی شمه، زما ښایسته لورکي ته ربښتیا وایی حق ستا سره دی مورږ باید ستا فراغت ته راغلي وایی ته مو باید تشویق کړی وایی، خو مورږ بی سواده خلک یو پدی خبرو مو سر نه خلاصیږی په دی کارو نه پوهیږو تا به راته ویلی وایی چی ادی راځه نن زما فراغت دی، تا به زه پوهه کړی وایی تا به راته ویلی وایی..

ادی خبری کول او ما ورته ژړل نه می ورته مخامخ ویلو شو چی زما مشکل زما په فراغت کي ستاسو د راتلو نه دی،زما مشکل میلمه خانه کی ناست هغه کسان وه چی زما د غوښتلو لپاره راغلی وه، زما مشکل د زړه مشکل وو زما مشکل مینه وه! هو زما ټول ستونزه او ژړا اوس یواځی د حسیب سره د میني له وجه وه زه ویریدلی وم زما ژړا د ویری او وحشت وه. زه ویریدلي وم چی د حسیب څخه جلا نشم زه د جدای او د هغه دومره آرمانو د خاوری کیدو څخه ویریدلي وم او ژړل می.

ادی یو څه خبری او نصیحت راته وکو او زه هم په ظاهر کراره شوم، او ژړا مي بنده کړه ادی غوښتل چی زه سم جوړه کالي واچوم او آرایش کړی د هغه راغلو کسانو مخکي لکه نانځکی پورته ښکته شم، که جواب می" نه "هم اوسیږی ادی غوښتل زه د میلمه ادب او احترام پر ځای کړم خو زما خراب حالت او زه ما کلک انکار او" نه "باندی ایی نور ټینګار ونکړو او خپله لاړه ترڅو مهمان نوازی رسم پر ځای کړی.

د ادی د تلو وروسته زړه می غوښتل حسیب ته زنګ ووهم او ټوله خبره ورته وکړم. ترڅو سبا هغه خپل مور زموږ کورته راواستوی،خو عقل می د زنګ وهلو څخه منع کولم او ویل به یی چی تر سبا صبر وکړم تر څو اول دا کسانو ته د" نه " جواب ورکړم او پخیر یره یي د دی کور څخه رخصت کړم بیا د هغه څخه وروسته حسیب ته خبر ورکړم ترڅو خپل کورنی راواستوی. بدی فکرونو مي ځانته دلداری ورکړل او خپل پر ځای پریوتم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو همدا چي سر مي پر بالښت ولګېده لکه چي د ژړا پیچکاری زما بدن کي تزریق کړی ویی، داسی مي اوښکي رواني شوی، د حسیب یو،یو خبره او یو،یو کار مي په ذهن کي ګرځیدی د هغه خندا، د هغه الفاظ د هغه ټوکي د هغه د نن کار چي زه یي تر کوره سنګه را ورسه ولم د تلو څخه مخکي هغه په شیطنت سترګه وهل او دا ټول خبری زما د سترګو وړاندی پورته ښکته کیدل او زما ژړا به یي لا پسی زیاته ول.

نه پوهیږم څو ساعته به همداسی تیر شوی وه چي د ډیر غمه او د استرس له لاسه خوب راباندی غالبه شوی وو او ویده شوی وم، کله چي مي سترګي خلاصی کړی کوټه تکه تور شپه وه او خاموشه خاموشي وه، ساعت راته نه معلومیدي خو ګمان می کوی شپه ډیره تیره شوی او شاید دوه دری بجو شاخوا به وه،د کړکی څخه د

باندی حویلی خوا څخه لږ رڼا کوټی ته راتلل او یو څه د کوټی فضا یي د پوره خاموشي څخه ایستلي وه. څو ثاني بی حرکته مي هغه توری شپی ته سترګی ونیول او د نن ورځي کارونه مي د ذهن څخه تیر کړل چي بیا مي په زړه بوج شو او د څو دقو لپاره خپل په ځای کی په آرامه مي لځان سره وژړل، ښه چي زړه می سپک شو تازه مي حسیب ته فکر شو، هغه به ضرور راته مسج کړی ویی زنګ به یی وهلی ویی! او په تشویش شوی به یی !

پدی فکرو په تلوار لځایه پاسیدم او د کوټی برق می روښانه کړ، خپل بکسه مي د الماری په سر ولیده موبایل هم هلته وو د بکسي څخه مي موبایل راوخیست دری څلور زنګه د حسیب لخوا راغلي وه، زر مي انترنت خلاص کړو چي د سلو څخه زیات مسجونه په یو سرعت باندی ټنګ، ټنګ په وټساپ کی راته راغله.

- ټول مسجونه بغیر د دوه دانو څخه چي یو یی نیلوفر او بل آسما کړی وو، نور ټول د حسیب مسجونه وه، لا یو مسج می ورڅخه ویلی نه وو چی نوی مسج یی راغي.

حسیب- افرین.

د هغه په افرین پوهه شوم چی خفه دی نو ځکه مي زر ورپسی مسج وکو.

-بخښنه غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په مسج حسيب همغه دقه مسج راوستوی: ولی بخښنه؟که زړه دی زما سره ياری او خبری نه غوښتل بيا ولی دی خپل د" نه "جواب واخيستو؟ ولی دی دا څو مياشتي زه داسی خپل پر ځان عادت کړم کله چی زړه دی راسره نه وو؟ ها؟!

د حسيب پدی خبرو می ژړا راغله او د اوښکو څخه په ډکو سترګو می ورته وليکل: زما خبرو ته غوږ شه دا خبری مه کوه، داسی هيس کومه خبره نشته ته خبر يي نن پرما څه حال تير شوی؟

حسيب- که ته ما په انسانانو کی وشماری او راته ووايی نو زه به خبر شم، کنه زه خو علم غيب نلرم.

د حسيب خبری شايد د ګيلي او قهر څخه وه خو ما هغه هيڅکله داسی نه وو ليدلی، د هغه خبرو مي حال نور هم خراب کړو او ورته ومي ليکل.
-زما وضعيت ښه ندی.

حسيب يو دوه د پوسخند استيکرونه راوستول او ويی ليکل: ستا وضعيت هميشه خراب دی هر کله چي يو خبره يا يو کار کی ملامته شی، او بل بهانه دی لاس کي ونه اوسيږی نو وضعيت دی خراب وو..

د هغه پدی خبرو می اوښکی په بهيدو شول، باور مي نکوی چی حسيب دی داسی خبری ماته وکړی او ما دی داسی قضاوت کړی بغير لدی چی زما خبری وآوری.
ژړا فرصت نه راکوی چی مسج ورته وکړم چی بيا د هغه مسج راغلو.

حسيب- سمده مشکل نشته زه خو ستا لپاره يو ټوکه او سرګرمي يم هر کله چی زړه دی تنګ شو مسج کوه او هر کله چی زړه دی نه وو، خبری مه کوه.اممم نو اوس به لاړشم تر څو هر کله ستا وضعيت ښه شو بيا مسج وکړم خدای پامان.

د حسيب پدی خبرو مي ژړا نور هم زياته شوه او ورته ومی ليکل: حسيب.
څو ثاني وروسته يي جواب راکړو: هاا څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حسیب په" هاا "ویلو هم ژړا می راغله او هم زور یی راکړو چی ما ټوله ورځ دده لپاره ژړلي او دی داسی خبری ماته کوی! بغیر لدی چی زما خبرو ته یوځل غوږ ونیسی هیس جواب می ورنکړو او د وټساپ څخه ووتلم انټرنټ می بند کړو او ژړا ته می شروع ورکړل. پنځه دقی لا تیری شوی نه وه چی د حسیب زنګونه شروع شول ما جواب نه ورکوی او هغه زنګونه نه بنده ول او هی زنګ یی وهو تر دی چی مجبوره شوم او جواب می ورکړو او همدا چی اوکی می کړو

حسیب په خفه لهجه وویل: دا هم ستا کار.. داسی رفتار زما سره کوی کله ناکله فکر کوم مزاحم یم درته.

د ژړا څخه په نیولی غږ می وویل: ته که زه؟ تا یو ځل لا زما خبرو ته غوږ ونه نیو او
زر تهمت دی راباندی ولګول.

حسیب- غږ دی ولی داسی دی؟ ژړلی د دی؟

په غوسی می وویل: په تا یی څه؟

حسیب- سمه ده ربنتیا وایی زه نو سوک یم چی ته راته جواب راکړی؟!

د هغه پدی خبره می په غوسه وویل: ځان څخه ماشوم مه جوړه وه دا ناز او غوسه د جنکیانو سره خوند کوی نه د هلکانو سره.

حسیب- امهمم ربنتیا وایی یواځی تاسو انجوني زړه او احساسات لری موږ هلکانو زړه خو د تیږو څخه جوړ دی کنه؟ !

نه پوهیدم څه جواب ورکړم؟ د حسیب دغه کار بیحده خراب وو کله به یو ځل په ضد شو نو بیا ورته مهمه نده چی ته خفه يي قهر یی مریضه یی، هیس ورته مهم نه ویی او خپل ضد نه خوشی کوی، پوهیدم که دا شانتی خبری ورسره وکړم سل کاله نور هم خپل ضد نه پریږدی په همدی خاطر خپل لهجه می کراره کړل او ورته ومی ویل:

-ستا احساسات ماته ارزښت لری حسیب، خو انسان اول یو ځل پوښتنه کوی چی پرتا څه شوی؟ ولی نه معلومید؟ ولی دی جواب نه راکو؟ نه دا چی راغلی نه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګ راسره شروع کړی..

زما پدی خبرو حسیب لږ خاموشه شو او د څو ثانیو وروسته يي وویل: څه شوی؟
ولی دی ژړلی؟

کله چي د حسیب مهربانه لهجه می وآوریدل نو د نن ټول خبری او کارونه مي یاد ته راغلل او په ګیلو می ورته شروع ورکړل، کوڅه کې د ولاړو موټرانو څخه نیولی د هغه راغلو میلمنو او هغه عجیب غریبه مرکي او بیا زما د ژړا او د ادی سره د خبرو ټوله قیصه می ورته وکړل، زما د خبرو په وقت حسیب یو دم چوپ وو کله چی خبری می خلاصي شوی بیا هم د څو دقو لپاره د هغه هیس غږ رانغلو نو ځکه مي ورپسی ناری کړل.

-حسیب ولاړی؟
زما په ناری کول د هغه طرف څخه د نفس اخیستو غږ راغلو او دهغه څخه وروسته د حسیب نیولي غږ چی ویی ویل: همدلته یم آورم.
-نو ولی خبری نکوی؟
حسیب- څه ووایم؟

د دی لفظ هیس تمه می نه درلود، فکر می کوو چی حسیب به په غوسه شي او هغه راغلي مرکو خلکو ته بد رد ووایی، په اصل کی منتظره وم چی حسیب ووایی" بد یی کړی سوک چی ستا غوښتلو ته زما څخه بغیر درغلی زه سبا مور می دراستوم " شاید لویه خبره وه خو ما د حسیب څخه د همدی خبرو تمه او انتظار وو نه دا چی ووایی " څه ووایم؟ " چوپه وم الفاظ می نه درلود د بیان لپاره او حسیب هم هیس نه ویل د څو دقو خاموشی وروسته حسیب په نیولی غږ وویل:

- حسیب -ما نن خپل مور ته ستا خبره وکړل.

په حیرت می وویل: څه دی ورته وویل؟ څنګه زما خبره دی ورته وکړل؟
حسیب یو غټ نفس واخیستو او ویی ویل: همغه ورځ چي تا ماته" هو "وویل ما همغه ورځ خپل مور ته وویل" :چی موری زه خپل په خوښه ښځه کوم "او مور می هم په خندا زما خبره ومنل او ما هم فکر وکو چی د ربنتیا یی منلي نن می ورته ستا په اړه وویل چی داسی جنۍ باندی مین یم او تاسو دا څو ورځو کی ورشي د هغي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتلو لپاره د هغي کورته.( د خبری پدی ځای کی حسیب خاموشه شو چی ما پداسی حال کی چي لاس او پښی می د ډیر استرس له لاسه ریږدیدل او خپل په غږ می لا کنټرول نه وو په لړزانده غږ وویل:

-ښه ستا مور څه وویل؟

حسیب جواب رانکو چی بیا می ورباندی غږ کړو، زما د ناری وهلو وروسته حسیب په غمناکه لهجه وویل: بدی خبری وکړل تاته يي بد رد وویل مور می ویل کوم جني چي يو هلک په نیمه شپه خپل کورته غواړی هغه سمه جنۍ نده. ویل يي ضرور داسي ډیر هلکان يي په نیمه شپه دعوت کړيـ..

په نيولي غږ مي د هغه خبره پری کړل او ومی ویل: ته څه فکر کوی؟
حسیب- د څه په اړه؟
-زما په اړه؟ ستا نظر څه دی؟
حسیب- زه هیس فکر نکوم.
په ژړغونی غږ می وویل: هیس فکر نکوی؟
حسیب- زما مطلب نه د چا خبره تایید کوم او نه هم رد کوم.
په ژړا می ورته وویل: مطلب خپل د مور خبره مني؟
حسیب -زه وایم نه د چا خبره منم او نه هم رد کوم.
-دا خبره دی زه بل شانتي مطلب اخلم!؟
حسیب- هغه نو ستا کار دی چي څنګه مطلب اخلي خو زما خبره همغه وه چی ومی ویل.
د اخیری ځل لپاره مي ورته ناری کړل ن پوهیږم ولی؟ شاید امید می درلود خپل خبری واخلي؟
-حسیب!
حسیب- ها؟ کور هوسی دا خبريـ..

د هغه په" هاا "ویلو مي موبایل د لاس څخه و غورځیدی او نور می وا نه وریدل چي حسیب څه ویل غوښتل؟ په مغزو کي مي دا څو لفظه کرځیدل راکرځیدل" مور می ویل کوم جني چي يو هلک په نیمه شپه خپل کورته غواړی هغه سمه جنۍ نده. ویل يي ضرور داسي ډیر هلکان يي په نیمه شپه دعوت کړيـ"..زه وایم نه د چا خبره منم

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نه هم رد کوم"...

د سترګو څخه مي اوښکی په بهیدو وه اول کراره می ژړل خو ناساپه ژړا مي په ساندو بدله شوه، د حسیب غږ می آوریدی چي د موبایل له شا څخه يي ماته ناری وهل خو زړه می دومره درد کړی وو چی حاضره نه وم د هغه غږ ته" ها "ووایم جان خو لری .موبایل می بند کړو او بیخی مي خاموشه کړو،

باور می نکیدی چی زما په اړه دی په یو کور کي هغه هم د هر چا کور نه د حسیب په کور کي او دهغه مور دی زما په اړه داسی خبری کړی ویی؟! ګنګسه ناسته وم په ځای کی او اوښکی وه چی د وچ کیدو او خاموشه کیدو نوم يي نه اخیستو، د ټول څخه زور د حسیب خبری راکړو چی ویی ویل " نه د چا خبره منم نه هم رد کوم " ماته د حسیب الفاظ د هغه د مور نه بلکي د هغه د زړه الفاظ معلوم شول! تراوسه مو فکر شوي کله ناکله زموږ ملګری او دوستان خپل د زړه خبری په یو بل چا په نوم پسی تړی او خپل فکر او ذهنیت موږ ته د بل چا په نوم او آدرس بیانه ویی! ما نن د حسیب په خبر همدغه احساس درلود.

احساس مي کوي یو عمر په اشتباه لاری روانه وم! بد احساس مي درلود او زړه مي هغه کس غوښتی کوم کس چی د همدی بد احساس سبب او دلیل وو، زړه می بیا هم حسیب غوښتي. باور مي نکیدو چي د څو ساعتو په موده کیدی زما ټول ژوند امیدونه، آرمانونه،او هیلي راته برباد شوی او خاوری شوی ویی!؟ خپل په ځای کی ګنګسه ناساته وم هوا کرار، کرار په روښانه کیدو وه د سهار آذنونه مي هم یو دوه دری داني تر غوږ شول. سترګي مي د حویلي په دروازه ولګیدي او د هغه شپي خبری او کارونه مي یاد ته راغله، هر څومره وقت چي تیریدو هغومره خپل په اشتباه او

غلطي مي باور کیدو، حسیب ملامت نه وو چی داسی خبری راته وکړی! ټوله ملامته زه وم ما نه باید ورته دروازه خلاصه کړی وای هغه شپه، ما نه باید ټوله شپه په ولاړو پښو د دروازی مخکي د هغه سره مجلس کړی وایی، ما نه باید د خدای پامانی په وقت هغه ته اجازه ورکړی وايي چی ما ښکل کړی؟! پدی فکر مي خپل شونډه کلکه وچیچل او بیا مي اوښکو پر مخ خپل لاره ونیول، ما نه باید د هغه هر خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



منلې وايي ما نه بايد هغه ته حق ورکړی وايی چی خپل د حد څخه واوړی خو زړه مي وويل هغه حسيب وو؟ هغه خو ناشنا کس نه وو! هغه خو زما د يو، يو مشکلاتو او خبرو څخه خبردار وو؟ هغه خو زما هم راز او هم سفر وو؟ خپله هم نه پوهيدم چي څه چل راباندی شوی، ما د نيکمرغي او خپل د زړه د خوشحاله کيدو لپاره حسيب ته پناه وړی وه او نن هغه راته ټول اميدونه خاوری کړل .

پاسيدم اودس می وکړو او په لمانځه و دريدم ټول لمونځ مي په ژړا وکو او اخيره د سجدی په حالت مي خدای ته خپل د زړه ګيلي وکړل تر څو هغه ماته لاره وښايی او هغه مي هدايت کړی چی بهترينه لاره خودونکي او هدايت کونکي ذات دی.

- سهار نه نور پوهنتون وو چي د هغه په بهانه حسيب ووينم او نه هم د هغه د ماښام په خبرو زړه مي کيدو چي موبايل راوخلم او وګورم چي څه يی راته ويلی؟ په خفه انداز پداسی حال کي چي د ډير اوښکو له لاسه مي سترګي دری منه پړسيدلي وه د سبا ناری لپاره د ادی په ډير ټينګار دسترخوان ته ناسته وم، او په زوره مي يو څو ګولي ډوډی وخوړل همدا چي غوښتل مي لځايه پاسيږم بابا پداسی حال کي چي روښانه تلويزيون ته يي سترګي نيولی وه ماته وويل:

بابا- کينه ستا سره لږ خبری لرم.
د بابا پدی خبره مي ټول وجود لړزه واخيستو او د ادی خواته مي وکتل چی ادی هم ځان ناګمانه واچو او د آشپزخاني خواته ولاړه تر څو ما او بابا يواځی پريږدی، د ادی په تلو نور هم وويريدم او په همغه ويری او وحشت بيرته خپل په ځای کينستلم چی بابا د تلويزيون څخه نظر واخيست او مخامخ يي ماته راوکتل.

بابا- تا پرون خپل مور ته څه ويلی وه؟
د بابا پدی خبره مي د ويری څخه لاړی تيری کړل او په کراره غږ می وويل: هغ.. هغه هيس.
بابا- هيس؟ خو ما نور خبری واوريدل؟
هيس جواب می ورنکو چی بابا بيا وويل: ما تراوسه ستا کوم خبره رد کړی؟ ستا کوم غوښتنه مي پوره کړی نده؟ ستاسره په حق کي مي کومه زياتي کړی؟ آيا ستا په نظر زه يو جاهل او سر زوری پلار ښکارم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بابا پدی خبرو می اوښکی په سترګو کي ډنډې شوی او د" نه "په توګه مي سر ورته و خوځه ویی چی بابا بیا وویل: نو بیا ولی دی په ځان غم نیولی؟ خفه یي چی مورږ ولي پرون ستا فراغت ته رانغلو؟ پدی خاطر داسی پریشانه او غوسه یی؟

بیا ما هیس ونه ویل او یواځی مي اوښکی توی کړل چی بابا په مینه ناکه لهجه وویل: ته زما د سترګو تور يي ته زما د کور ړنا يي ما ستا د فراغت لپاره ډالي لا اخیستي وه ادی دی خبره نه وه خو زه خبر وم در روان وم پوهنتون ته دی چی ناساپه په لاره کي خان صیب زنګ وکړو او ویي ویل چی مورږ ستا د کور مخکي یو راشه.( بابا یو لوی نفس واخیستو او بیا یی په کراره وویل: دا چي زما او خپل د مور

څخه خفه اوسیږی او جنګ زمورږ سره وکړی زه دی خبرو او کارو کي کوم مشکل نلرم، خو ته ماشاالله خپله دومره لویه شوی يي چي پوه شي د میلمه مخکي داسی خبری او داسی رفتار ستا تر شخصیته ندی. تا به خپل خفګان غوسه په کراره یو بل وقت چي سوک نه وه زما او خپل د مور څخه باسلی وایی نه دا چی د میلمنو هغه هم داسی میلمانه چی ستا غوښتونکي او زما قریب ملګری وه تا داسی خپل غږ پورته کړو، او زه دی ورته شرمنده کړم ستا څخه می هیس داسی تمه نه وه.

د بابا پدی خبرو مي ژړا نور هم زیاته شوه، خدایه ما څنګه داسی کار وکو؟ که بابا خبر شی زه په پوهنتون کی د یو هلک سره جوړه وم او هغه هلک ته مي په نیمه شپه کی د کور دروازه خلاصه کړی او ورسره می ګپ شپ لګولی حتا هغه خبری چی بیان کولي اوس ماته شرم معلومیږی خو ما د حسیب سره کړی وه! اوس مي عقل سر ته راغلو او هغه د میني او عاشقي پیری می د سر څخه والتو او دی خبرو ته مي فکر شو چی زه هوسۍ محمدی ما چی ځانته خوبونه او آرمانونه درلود څنګه د حسیب پشان هلک په خبرو دومره ژر ختا وتم؟ !او خپل ټول عزت او آبرو می د هغه په لاس ورکړه؟

زما په ژړا د بابا زړه راباندی وسوځیدو او زما د کرار کیدو کوښښ یي شروع کړو د بابا په نرمه او مینه ناکه لهجه نور می هم ژړا زیات شوه، زما بیچاره پلار چي فکر يي کوو زه د فراغت لپاره خفه یم او زما د دلداری کوښښ کوی ندی خبر ما څه کارونه چی ندی کړی؟! خپل په کارونو دومره پښیمانه وم چی مخامخ د بابا سترګو ته د کتلو جرئت می نه درلود. خو د بابا خبری یو دم هک حیرانه کړم او به خلاصه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوله مې ورته وکتل.

بابا- بس دی نور په ژړا دی ځان څخه څه جوړه کړی یوځل خپل حال ته وګوره؟( بیایی په شیطنت وویل:)دومره لویه خبره هم نه وه چي تا دومره غم پر ځان نیولی ستا د چغو غږ چي تر میلمه خاني راغلو خان صیب ویل لکه چي جنی ژر واده غواړی غږ یي پورته شو...

بابا دا خبره وکړل او په خندا شو چی ما د شرم او حیرت څخه سترګی لاندی ونیول چی د بابا د خندا په غږ ادی د آشپزخاني څخه دهلیز ته راغله او په تروش تندی وویل: هو نو کله چي د یو پیغلي غږ د هغي د مرکه غوښتونکو په مخ کي پورته کیږی همدا به یی انجام وی. ماته هم بی بی حاجی ویل لکه چی لور دی خوښه نده؟

بابا- د ښځو خبری پریږده هغوی هر څه وایی.
ادی- همدغه خبری او کارونه ورته سبا ورځ پیغور پاتی کیږی، ماشومه خو نده چي پدی خبرو پوهه نشی.

د شرم او خجالت څخه مي سر ښکته اچولی وو او په زړه او احساساتو می یو خدای خبر وو چی پر ما به څه تیریدل.

بابا- اوس یو خبره وه یو ماشومتوب وو لاړی تیر شو ته نور خبره مه کشوه ښځی.
ادی په ژړغونی غږ وویل: کاش دا مرکه هم د نور پشان وایی چي ویلی می وایی پروا نکوی، دا خو د دی د ژوند مثله ده سبا ورځ که ورته پیغور ورکړی که ورته بی شرمه بی حیای ووای که ورتـ..

- ما په خلاصه خوله د ادی خبرو ته غوږ نیولی وو، او دا خبره می ذهن تاویده راتاویده" کاش دا مرکه هم د نور پشان وایی چي ویلی می وایی پروا نکوی "یعنی څه؟ یعنی دا مرکه د نور پشان نه وه؟ بابا د ادی خبره پری کړل او په غوسه ناکه لهجه یي وویل:

بابا- زه مړ یم چی زما لور ته سوک داسی پیغور ورکوی؟ یو خبره وه تیره شوه هر جني داسی کار کولی شی خیر نور جنکیاني خپل په مرکي ژاړی دی چیغی کړل.(

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا دا خبره وکړل او په خندا شو او ما هک حیران یو ځل ادی ته کتل بیا بابا ته د دوی د خبرو څخه ما یو مطلب اخیستو او هغه دا چي دوی پدی پدی راغلی مرکي خوښ دی! پدی خبره مي سترګي د اوښکو ډکی شوی او یو نوم مي زړه کی تاو شو حسیب!

ادی په نیولی غږ وویل: سړیه هوسۍ د هغوی د کور نده !
بابا- پوی نشوم څنګه د هغوی د کور نده؟
ادی- ته خپل لور ته وګوره د دی نازو او فرمایشو او ژوند ته وګوره بیا د خان صیب هغه لوی کور کارونه او کلي خلکو ته وګوره.

بابا په خندا وویل: ته فکر کوی ما دی خبرو ته فکر ندی کړی؟ ما اول ورته شرطونه کیخودل ما ویل زما د لور لپاره باید د فرهاد پشان غر وکینی کنه لور نه ورکوم

بابا او ادی خبری کول خندل یی شرطونه او د کور واده په اړه خبری کول او ما!یواځی هغوی ته کتل هیس می د ویلو لپاره نه درلود، زما فکر او ذهن کي یواځی حسیب وو! زه منم چی د حسیب سره زما کار او خبری اشتباه او غلطی وه خو ما دهغه سره د زړه څخه مینه درلودل او اوس هم حاضره یم د هغه په بخښنی غوښتو هغه وبخښم! هیڅکله به می د هغه د پرون شپي خبری له ذهنه ونه وځی خو بیا هم حسیب سره زما د زړه اړیکه وه نه یو د نفری یا د څو وقتو لپاره ما د حسیب سره خپل راتلونکي پلان کړی وو خو اوس د بابا او ادی خبرو زه په دوه لارو د عشق او عزت کی بنده پاتی کړی وم.

بغیر د کوم خبری کولو لځایه پاسیدم او خپل کوتی ته مي پناه یوړل، دروازه مي بنده کړه او هملته سر په زنګانه و ژړا ته کینستلم. تر ډیره می لځان سره وژړل او فکرونه می وکړل خو حسیب می هیس شانتی خپل د مغزو څخه نشو ویستلی اخیره د موبایل خواته ولاړم او روښانه می کړو چی د زنګونو او مسجونو سیلاب راغلو اخری مسج د حسیب د څو دقو مخکی وو چی لیکلی وه .

د جهان په مخ به نه وي، هسې تا غوندې دلبره.
پری رویه،عنبر بویه،سنبل مویه، سمن بره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلغذاره،زلفې ماره، شهسواره، خوش رفتاره.
باده نوشه، مې فروشه،قصب پوشه، مو کمره.

دلنوازه، سرفرازه،عشوه سازه،لعبت بازه.
خود پسنده،سربلنده،شکر خنده،لب شکره.

طربناکه،ګرېوان چاکه،تل بې باکه، تش تپاکه.
خود ارايه، خود نمايه، خود ستايه،خوش هنره.

غزل خوانه، خوش الحانه، دُر دندانه، لب خندانه
عنبر خاله،پُر خياله، تل خوشحاله، د زړه غوره.

زما عمره زما نفسه زما ژونده زما ايمانه اغلی محمدی. زما هوسۍ ښځښنه غواړم د پرون شپې لپاره عصبی وم ستا خبرو د کنټرول څخه بهر کړم ای ليونی تخو پوهيږی چی زه ستا سره څومره مينه لرم، او کله چی جواب رانکړی ليونی کيږم بيا هر اپلاتی چی می په خوله راشی وايم، وبخښه زما هيس مطلب نه وو خپل د خبرو څخه، ته زما جيګر يی زما نفس يی زما ښځه يی زه ستا په اړه هيڅکله بد فکر نکوم ګرانی.

ربه داسي ليونی شوم
په يو خيال باندی مئين شوم
زه ډوبيږم سمندر کی
په يو لعل باندی مئين.

حسيب- په يو هوسۍ مئين يم په ليوني مين يم..زما اغلی محمدی راغلی مسج راته وکړه ګرانی شه وخت خدای پامان.

د حسيب د مسجو په ليدو مي ژړا نور هم زيات شوه او طاقت می ونشو او ورپسی مسج می وکړو، مسج کي می يواځی" حسيب "ليکلی وو بس نور هيس اضافه خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي نه وه کړی د مسج د تلو څخه شاید یو دقه لاتیره شوی نه وه چي حسیب مستقیم زنګ راپسی ووهي خپل اوښکی می پاک کړل او جواب می ورکو.

حسیب- جــان حسیب ښه یی؟ د ماښام نه تراوسه خو دی زه مړ کړم ولی دی زما مسجو او زنګو ته جواب نه راکو؟

هیس می ونه ویل یواځی د هغه پدی دومره مینه ناکه غږ ژړا راغلی وه، زه د دی غږ او د دی غږ د صاحب څخه بغیر څنګه ژوند وکړم؟ پدی فکر می ژړا زیاته شوه چی حسیب په تشویش وویل: ولی ژاړی څه شوی خیرت دی؟ هوسی تاته وایم جواب راکړه.

د حسیب د ټولو خبرو او نارو یواځی یو جواب مي ورکو: حسیب بابا په راغلي مرکي راضي دی یو کار وکړه.
حسیب- قربان دی له ویری شم زما نفس! ته هیس د دی موضوع په اړه فکر مه کوه، زه لاتراوسه ژوندی یم اول خو پلار دی راضي کوم که ونشو تخته وم دی خو نه پریږدم د بل چا شي پوه شوی!؟

-د تیختي خبره ماته مه کوه ځکه حاضره یم مړه شم خو دا بدنامي خپل کورني ته پرینږدم. ( بیا مي په خواهش منده لهجه وویل: حسیب خیر دی دواړه کورني راضی کړه  هم زما ده هم خپل ده.

- حسیب -قربان دی شم ته بی فکره اوسه، ما خپل د کورنی د راضي کولو چاره زده،ته یواځی یو کار ماته وکړه؟

-څه کار؟

حسیب- یواځیرماته دوه ورځی فرصت راکړه او دا مرکه دی شاته که، ترڅو زه خپل کورنی راضی کړم چی ستا د غوښتلو لپاره ستاسو کورته درشي.

-دوه ورځی؟ نه پوهیږم کولی شم کنه؟

حسیب- خپل ټول کوښښ دی وکړه هوسی! دا زموږ د مینی او راتلونکی خبره ده نو که زما په خاطر فکر نکوی د دی میني او عاشقی په خاطر دوه ورځی ماته فرصت راکړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



-سمده خو کوښښ کوه حسیب زه بیحده ویریږم.
حسیب- حسیب دی ستا څخه قربان شی ولی ویریږی؟ زه درسره یم او کله چی زه ستا سره یم د هیس شي څخه مه ویریږه پوه شویی د هیس شی څخه
-اهوم.

***

په کوټه کی یواځی ناسته وم او د حسیب د زنګ او مسج په تمه وم، نن د هغه د ویل شوی مودی دویمه او اخری ورځ وه، پدی دوه ورځو کي په سلهاو بهانو می د بابا او ادی خبری د غوږ څخه تیری کړی وه، او هیس جواب می هغوی ته نه وو ورکړی، نن هم خاله په ګیلي راغلی وه البته په ګیلو،ګیلو کی دری منه طعنی هم راکړل او تول طعنی هم د یو کس په اړه وه، هغه هم داسی کس چي ما دا څو وقته تازه د هغه په نمم آشنا شوی وم" !جهان "دا نوم مي څو ځله د ځان سره زمزمه کړو

دا نوم مي په دی دوه ورځو کی بیحده زیات پدی کور کی آوریدلی وو، بیحده زیات جهان خان سدوزی د فیروز خان سدوزی زوی یا په بل لقب د خان صیب ګران او عزیز نازولی زوی" !ارباب "په زړه کی مي په مسخره لځان سره وخندل دا همغه اطرافی وو چی ما ته یی ویلی وه ماشومه یی په موټر خط باسی؟ همغه اطرافی چی په اول ځل لیدو یي ما ورڅخه بد راغلی وه! خو نن همغه اطرافي زما غوښتنی ته راغلی وو! بغیر لدی چي خپل عمر او زما عمر ته وګوری؟ بغیر لدی چی خپل فرهنګ او زما فرهنګ او اخلاق او خاصیتو ته وګوری؟!

لځان څخه مي پوښتنه وکړل عمر یي څومره وو؟ ادی راته لږ معلومات راکړی وه، د ادی د نن سهار خبری می یاد ته راغلل او ومی خندل، نن ادی مثال راغلی وه دواړه د لور او مور پشان د دی موضوع په اړه خبری وکو، ماته یي د هغه اطرافي تعریف کو، ویل یي "بنه سړی دی ایمانداره مومن سړی دی، د سړیانو عمر چي هرڅومره زیات وي هغومره بنه ده ".اوس کاش ٨'٧ کاله د غمر تفاوت وایی !زه د ٢٢ او هغه د ٣٢!؟ پوره یو لسي د عمر تفاوت! دا خو هم خیر د ادی خبره د سړیانو عمر زیات ویي شه خبره دا به هم ومنم، بیا د ده یو ښځه مړه شوی او یو دانه لس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلن زوی هم لری؟ !

مطلب کونډ! د لوی عمر خاوند! بیا هم ادی او بابا دواړه وربانډی دومر خوښ دی چی په کالو کی نه ځایدل؟! د هغه اطرافی په یاد راوړلو می حال خراب کړو او تندی می تروش څو خدایه ته زما سره کمک وکړه ته یو لاره چاره راته جوړه کړه او ما ددی مصیبت څخت وژغوره ته غفور رحیم ذات یی، ته ما خپل په حال مه پریږده ته راته هدایت وکړه او هر څه چی زما په خیر دی هغه راته نازل کړه په همدی دعاګانو کی وم چی د حسیب زنګ راغلو ژر می جواب ورکړو.

-الو حسیب!

حسیب- امممم آورم.

د حسیب پداسی لهجي تول بدن می د ویری څخه ولړزیدی او په کراره غږ چی خپله مي لا په زحمت آوریدی ومی ویل: څه وشو؟ خیرت خو دی؟

حسیب څو ثانیو لپاره چوپ وو بیایی په کراره غږ وویل: زما سره څومر مینه لری؟ هوسیږ؟ ته زما لپاره څه کولی شی؟

په لړزانده غږ می وویل: زه ستا سره بیحده او بی اندازه مینه لرم، زه ستا لپاره حاضره یم مرګ ته غاړه کیدم خو..

حسیب- خو څه؟

-هر کار کولی شم درته خو خبره که زما د کورنی عزت او آبرو ته راغله زه د هر څه څخه تیره یم.

حسیب- هر څه څخه؟ مطلب زما د میني څخه هم؟

هیس می ونه ویل چی حسیب بیا وویل: هاا؟ زما د میني څخه هم تیره یی؟

په ژړا می ورته وویل: حسیب تا ماته قول راکړی وو چي هر څه سمه ویی نو دا خبری بیا څه معنا؟ ستا کورنی څه وویل؟

حسیب- زما کورنی اوس پریږده دا راته ووایه چی ته زما د میني لپاره خپل کورني پریخودلو ته تیاره یی کنه؟

نه پوهیدم څه ورته ووایم یواځی می ژړل چی حسیب د لیونیانو پشان بیا وویل: تاته وایم مه ژاړه یواځی راته ووایه زما د میني لپاره خپل کورني پریخودلو ته تیاره یی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنه؟

په ژړا مې ورته وویل: حسیب تاته نه رسیدل ماته مرګ دی، خو تاته رسیدل په بد لاری باندی ماته د مرګ څخه لابتره دی، زه خپل غرور او عزت شاید ستا لپاره قربان کړم خو خپل د پلار غرور، عزت او شمله نشم خرابه کولي.. زه یو پښتنه پیغله یم زما څخه د داسی بد نامي امید مه ساتـ..

خبره مي لا خلاصه شوی نه وه چي حسیب یو په بد الفاظ او انداز باندی وویل: ته ماته د عزت او شرافت خبری کوی؟ هاا داسی لګیا یي لکه چي زه دی نه پیژنم!؟ تا که عزت درلود تا به په نیمه شپه ماته دروازه نه خلاصه ول تا به د کوټی مخکی زما سره خولــ...

- غږونه می نور د آوریدو توان نه درلود مغزو کي مي بنګهاری وو، د حسیب خبری بار بار په غوږو کي مي تکراریدل"ته ماته د عزت او شرافت خبری کوی؟ هاا داسی لګیا يي لکه چي زه دی نه پیژنم!؟ تا که عزت درلود تا به په نیمه شپه ماته دروازه نه خلاصه ول تا به د کوټی مخکی زما سره خولــ "...ګنګس وم بار بار می موبایل صفحی ته کتل فکر مي کو شاید د حسیب لځایه بل چا زنګ وهلی ویی؟ فکر می کوو شاید د هغه په نوم بل یو داسی کارونه کوی ترڅو زما زړه د حسیب څخه تور کړی؟

خو همغه د حسیب نمبر او د هغه غږ وو؟ خو زړه مي نه منل چی دا دی زما هغه مهربانه حسیب ویی؟ چی یو" اوف "يي لا د خولي څخه نه ایستو چي هسي نه زه خفه شم !آیا دا همغه حسیب وو؟ د موبایل له شا څخه په نارو باندی پر خود شوم موبایل مي غوږ ته نږدی کړو چی د حسیب غږ می وآوریدو.

حسیب- ګوره هوسی ته زما څخه بغیر د بل هیچا نشي کیدلی، پوه شوی کنه؟ که زما نشوی قسم خورم نه پریږدم د بل کس هم شي..دا خبره دی مغزو کی وساته.

حسیب دا خبره وکړل او موبایل يي بند کړو، او زما اوښکي وه چي د دریدو او بندیدو نوم يي نه اخیستو، ما سنګه په یو داسی انسان باور وکړو؟ خدایه دا مینه د کوم ګناه عذاب وو چی تا زما په زړه کي واچول؟ د ویری وحشت او د دی څو ورځو استرس او غم د دی سبب شو چي فشار می یو دم صفر ته ښکته شي، او د دی کرکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جني پلتي او دوه مخي نړی څخه د بی خبری نړی ته لاړشم.

په سر درد باندی مي سترګي خلاصي کړی چی د بیحده ړنا له سببه مي ژر بيرته بند کړل، دويم ځل مي چي کوښښ وکړو نو سترګي می د ړنا د لګیدو سره عادت شوی وه. کوم ځای کي چي وم هغه ځای می نه پيژندو؟ لکه چي شفخانه کی وم؟ د يو آشنا غږ په ژړا می هغه خواته وکتل چي ادی مي خپل کټ ته نږدی په چوکي باندی د ژړا په حال ولیده! ادی چي زما خلاصی سترګی وليده په تلوار د چوکي څخه پاسيده او زما سر يي کلک خپل په غيږ کي ونيو او ژړا ته يي شروع ورکړل.

د ادی په ژړا ما هم ژړا ته شروع ورکړل چی د کوتی دروازه خلاصه شوه، زما سر د ادی په غيږ کی پټ وو او متوجه نشوم چي سوک کوتی ته راداخل شو! ادی د څو شيبو ژړا وروسته زما څخه لږ جلا شوه او زما مخ يي څو،څو ځله بی واره ښکل کړو او په ژړا يی راته وويل: په تا څه شوی قربان دی شم؟ ولی يو دم ناساپه خپل کوټه کی غورځيدلی ويی؟

ژړا فرصت نه راکو چي ادی ته جواب ورکړم، بغير له ژړا الفاظ می د بيان لپاره نه درلود څه می ورته ويلي وايی؟ چي ادی کوم کس باندی چي زه مئينه وم هغه راته ګواښ کړی چی بدنامه کوم دی؟ پدی فکرو می ژړا نور هم زياته شوه چی يو آشنا خو په عين حال کي ناشنا غږ مي تر غوږ شو چی ادی ته يي وويل: بی بی حاجي مه يي پعذابه ويی ډاکټر ويل خفګان ورته شه ندی.

په حيرت مي د غږ د صاحب پسی وکتل چی سترګي مي په دوه تور سترګو کي بندی شوی، او مغزو مي يو نوم راته تکرار کړو "اطرافی؟ " زما په نظر باندی هغه خپل نظر ښکته کړو او مخامخ ماته يي د کتلو څخه ډډه وکړل. او بداسی حال کي چي د خبرو مخاطب يي ادی وه ويی ويل: زه ډاکټر ته ناری کوم.

دا خبره يي وکړل او د کوتی څخه ووتي په حيرت مي ادی ته وکتل چي ادی خپل نظر راڅخه واخيستو او په کراره يي وويل: بابا دی سهار خان صيب ته د هو جواب ورکو او نن دوی په لاره وه چي ستا دسمال ويسي چی ته داسی بی هوښه کوټه کی مو پيدا کړی، بابا دی توان نه درلود چي تر شفخانی دی راوړی نو خدای دی جهان زوی ته خير ورکړی ده راوړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خلاصه خوله د ادی خبرو ته مي غوږ نیولی او نه پوهیدم چی څه چل وشو!؟ ډاکتر راغلو معاینه یي وکړه یو څو خبری وکړل هغه اطرافي په تروش تندی ورته سر وخوځه ویي ادی رابلندی حجاب واغوندو او د شفخاني څخه ووتلو، په یو داسی لوکس موټر کی کینستلم چي شاید د پخوا حال می وایی د حیرت او شوق څخه مي پرواز کړی وایی! خو اوس لکه بی روحه جسم د دوی پسی کشیدم هر خوا چی وړم وريپسی روانه وم.

څنګه د شفخاني څخه کور ته ورسیدم پوه نشوم، حتا د هغه راغلو ښځو سره په سترګی مشی د آسما په ژړا په هیس پوه نشوم ګنګسه ولاړه وم، نه پوهیدم دا مخ ښکله ول ولی کیږی؟ دا خوږه،زرق، او ګلونه ولی می غاړه کی اچول کیږی؟ یواځی د یو جني غږ چی بیحده د اطرافی په حهره وه وآوریدو چی په خندا او شیطنت یی وویل: لالا ویل زما شزه مریضه ده خپل په خبرو یی مه پعذابه ویی!

د هغي پدی خبرو ټولو وخندل خو ما ګنګس انداز باندی ورته کتل، چی د هغه ورځ راغلي د عمر پخي ښځي چی اوس پوه شوی وم د اطرافی مور ده ادی ته یی وویل: ولاړسه ارام وکه سبا بل سبا ډیر کارونه لرو باید تکړه و اوسیژی، د جهان خان سدوزی شزه باید چست او چلاکه ویی.

- د هغه ښځی دیو خبری په معنا لا پوهه نشوم! خو ښه وو خبرو یي فایده وکړل آسما د لاس څخه ونیولم او کوتی ته یی ویوړم او دروازه یي بنده کړه، زه لکه بی ساه جسد پشان د کوټی مینځ کی ولاړه وم چی آسما راوګرځیده او غیږ کی ونیولم او ژړا ته یي شروع ورکړه، ما نور نه ژړل نور راسره اوښکي نه وه پاتي چی توی کړم لکه بوت ورته ولاړه وم چي آسما راڅخه جلا شوه او په نالي کینولم زما له غاړی څخه یي ګل واخیستو او زما له مخ څخه یي زرق پاک کړل، پداسی حال کي چی ژړل یی ویی ویل:

آسما: خوشبخته او بختوره شی خوری، ښه کورنی ده ښه هلک دی داسی به دی وساتي لکه ګل، نور فکرونه مه کوه زړه دی ورسره ولګوه خدای به دی بختوره کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسما داخبرې وکړل او بیا یي ژړا ته شروع ورکړل، خو ما یواځې یو لفظ ورته
ووایې.
-ماشوم ته دې ژړا تاوان لرې مه ژاړه.

زما پدې خبره د آسما ژړا نور هم زیاته شوه خو ما ځان ورڅخه لرې کړو کمپل مي خپل پر ځان راکش کړو او خپل بالښت مې په غیږ کې ونیو، د آسما خبرې مې مغزو کې تاویده" خوشبخته او بختوره شې خورې، ښه کورنې ده ښه هلک دې داسې به دې وساتي لکه ګل "ګنګسه افکارو مي ځان سره فکرونه کول، فکر مې کوې دا ټول یو بد خوب دې چې اوس به ورڅخه راوېښه شم او حسیب ته به کیسه وکړم! چې سنګه بد خوب مې لیدلې وو چې سنګه چلونه راباندې وشول، هغه به راته دلداری راکړې خپل به مینه ناکه خبرو به مي آرامه کړې، پدې فکرونو مي ژړا زیات شول او په زوره زوره مې ژړا ته شروع ورکړل چې د آسما د ژړا غږ مې هم وآوریدو او بیا دهغي لاس چي په مهربانۍ زما په سر راکش کړو او په کراره یې وویل:

آسما- داسې مه ژاړه هوسې دومره بد خلک ندې، منم چي هغه شانتي چې تا ورته امید او توقع وه ندې خو باور وکه د اجمل او د دغه چشمکې انجنیر اغا څخه سل چنده ارزی، مه ژاړه قربان دې شم.

آسما ماته دلداری راکول تر څو خپل په خراب نصیب او بد مرغي صبر وکړم، خو زما زړه کرار نه درلود، زما ټول مشکل زما زړه وو چې ای لعنت دي پدې زړه ويي چې تراوسه خپل په قاتل او مجرم باندې مئینه وه، آسما تر ډیره زما سر ته ناسته وه او خپل تجربي او نصیحتونه يي راته ویل، خو د ټولو څخه يي یو خبرې پر ما زیات اثر وکړو هغه هم د جلیل خبره! چې آسما وویل څو میاشتي مخکي چي جلیل داسې لیونتوب کوو او د ماشوم د پیدا کیدو سره یي مشکل درلود، او ماشوم يي نه غوښت؟! هغه د دې له سببه وو چې یو چا ورته ویلې وه چې د خاله لور او د خاله زوی که واده وکړې نو ماشومان یي زیاتر وختونه معیوب او خراب راځې؟! نو ځکه جلیل داسې لیونې شوې وو ځکه هغه نه غوښتل چې آسما دې کوم معیوب ماشوم راوړې او سبا ورځ د خاله او د هغه د لورګانو پیغور او خبرېورباندې ویې! او جلیل پدې خبره هم ویریدي چي هسي نه مور او پلار یي دې مجبور کړې تر څو پر آسما باندې بله ښځه وکړې.!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آسما د خبرو وروسته ما دی خبرو ته فکر وکړو چی حسیب ماته کوم داسی کار کړی چي یواځی زما لپاره ویي بغیر د هغه د کوم منفعت څخه.؟! هغه شپه چی د امتحان ورقي راوړل نو تر هغه وقته زموږ د کور د دروازی مخ کي ولاړ وو او زاری کول ترڅو په نه زړه یي زه بشکل کړم او خپل هوس یي یو څه کینو بیا ولاړی، اوس چی سم و دی موضوع ته فکر کوم حسیب تل کوښښ کوی چي ماته په فیزیکی توګه را نږدی شی! تل به یي د مسج استولو لځایه ویل راسه ویډیو کال ته؟

اوس چی فکر کوم د حسیب کارونه ما ته د مینی څخه نه؟! بلکي د هوس څخه معلومیده! د آسما د تلو وروسته ځان سره مي په یواځی ځان فکر وکړو او ښه می خپل لځان سره غور او فکر وکړو که حسیب د رشتیا زما سره مینه درلود نو هر شانتی که کیدو خپل کورنی راضی کول د مرکي لپاره، نه دا چی خپل مور ته کینی او زما د نیمه شپو ملاقات قیصه دی وورته وکړی..! ترڅو مور یي پر ما بد نومونه او تهمتونه وتړی! اوس چی ښه فکر کوم حسیب زما سره مینه نلری هغه یواځی خپل د مات شوی غرور غچ او بدله زما څخه اخلی؟! د هغه د نن غرمي خبری د هغه د دی ټولو خبرو تایید وو، زه هوسۍ محمدی یم هغه جني چی یو پوهنتون یي د یو نظر آرمانجنه وه؟! ما ځانته پلانونه او اهداف درلودل ما غوښتل د پوهنتون خلاصیدو وروسته کار وکړم او ځانته یو سم آینده جوړه کړم، خو د حسیب سره په ملاقات کیدو زما دا ټول خبری له ذهنه ووتی..

نور نو ما خپل پریکړه کړی وه چي هغه کارونو او خبرو ته به د عمل جامه وراغوندم چي ما فکر پرې کړی و، ما ویل زه به د حسیب سره سر د نن شپي خپل ټول اړیکي ورسره شلوم، زه مرګ منم، ځان وژنه منم خو دا نشم منلای چی حسیب دی هره ورځ ماته خپل په تینګار او غلط کړی کار پیغور او طعنه راکړی. زه د قهر او غوسې

- تر یوې داسي پړاوه رسیدلي وم چي نور مي ځان ته لا فکر نه کوو څه ورسیږی حسیب ته. په همدي فکرونو لځایه پاسیدم د سهار د آذانو وقت وو د ځیني جوماتو څخه د آذان غږ راتلو چي ما حسیب ته زنګ ووهي! زنګ روان وو خو چا نه پورته کوو؟ زنګ بند شو چي بیا مي ورپسي ووهي! دا ځل د څو دقو وروسته حسیب په خوبولي او قهرجنه لهجه جواب راکړو، چي ما زیات خبرو ته پرینخود او خبره مي ورپری کړل او ورته ومي ویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نن شپه بابا زه د بل چا په نوم کړم( زما پدی خبره حسیب په حیرت باندی چغې کړی چي ما خبرو ته پرینخود او ومی ویل: دا خبره ما د دی لپاره درکړو چي بیا ونه وایې ته بې وفا ویي او فلانکې ویي او بیستانکې ویي، تا زما څخه د دوه ورځو وقت غوښتي وو کنه؟ ( حسیب هیس جواب رانکړو چي ما بیا ادامه ورکړه) دوه ورځې پوره شول ښاغلي شاپوری.. د نن شپي وروسته زه د یو بل کس په نامه او ښـــځه یي یم( د ښځي لفظ مي په قصده کلک او اوږد ووایو چي زور ورکړی) نو که لـږ هم شرافت او غیرت ولري، او ځان ته پښتون وایي نو نور به یو مسج زنګ خو لري خبره، یو مسج به راته نه کوی. ښه وخت ولری خدای پامان دیدار به قیامت بــــرادر...

دا خبره مي وکړل او موبایل مي بند کړو، د دي خبرو وروسته احساس مي کوی ازاده شوی یم! فکر مي کوي هغه پخواني هوسۍ چي د هر چا جواب یي په لستوڼی کي درلود یو ځل بیا متولد شوی...

***

یوولس ورځی زما د ژوند د یو لوي بدلون څخه تیریدل! یوولس ورځی کیدل چي نور د حسیب په نوم کس مي خپل د ژوند څخه ډلیټ کړی وو، د نیلوفر په مرسته مي یو نوی سیمکارټ واخیستو ځکه هغه بی شخصیت حسیب د زر شمارو څخه لازیاتو باندی راته مسجونه او زنګونه وهل، کله چي نیلوفر ته مي د حسیب د کارونو او خبرو په اړه وویل حسیب یي ښه بیاب کړی وو. او شکر نور مي هغه خیرن نه وو لیدلي. اوس د حسیب څخه یو بل غټ مشکل او ستونزه مي مخ کی وه په نوم د " اطرافی؟ "

دا یوولس ورځی کیدل چي بابا هغوی ته د" هو "جواب ورکړی وو، او د هغه ورځ د شفخاني څخه وروسته مي نه اطرافي لیدلي وو او نه هم د هغه کوم اشنا کس! ادی ویل چي اطرافي لږ مصروف دی او نه پوهیږم کوم ځای یي یاد کړو هلته تللي د بعضي کارونو په سلسله کی؟! په هر حال زما لپاره خو ښه خبر وو، ما نه غوښتل دومره زر دی د هغه سره مخامخ شم! زړه کي د بابا او ادی څخه هم خفه وم. خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجبوريت څخه مي څه نشو ويلي. په يو داسی وقت کي ګير ومه چي نه مخکي تلي شوم نه شاته !

د ډير بيکاری او بيځايه فکرو څخه ليونۍ کيدلم چي نيلوفر راته پيشنهاد راکړو اوس چي فارغه شوی يم، د يو کار پسی وګرځم! د نيلوفر خبره راته ښه معلوم شوه. نو ځکه مي بابا ته وويل خو د بابا جواب يو دم نااميده کړم.؟! بابا راته وويل چي زه درته اجازه نشم درکولي ځکه ستا اجازه اوس زما لاس کي نده!؟ او ته ماته يواځی امانت يي ترڅو چي جهان زوی راځی او هغه ته دی سپارم.. د بابا دا خبری دومره زور راکړو چي يو ورځ مي پوره وژړل. خو دا ځل زما ژړا هيس فايده ونکړل او د بابا خبره بدل نشوه.

د ډير قهر او غوسي څخه خپل په کوټه کي يواځی ناسته وم او ژړل مې. د هيچا سره مي خبری زړه نه غوښتل وکړم البته سوک هم نه وو د خبرو لپاره! پدی فکر مي ژړا نور هم زيات شوه او د خدای سره مي ګيلي او شکايت شروع کړو: خدايه ما خو خپل د ګناه څخه توبه وويستل بيا ولي تراوسه عذاب راکوی؟ ولی هر سوک چي زما ژوند ته راځی يو مصيبت راته راوړی او ځی؟ ما د چا په حق کي ظلم کړی چي داسی راڅخه بدله او مجازات اخيستل کيږی؟ ها خدايه؟ زړه مي غوښتو هغه وقت يو معجزه وشي او ماته زما د پوښتنو جواب راورسيږی خو بغير د ژړا او بيا هم په ژړا باندی د خوب څخه بغير هيس شئ مي لاس ته رانغلو..

د لمر مخامخ رڼا چي زما په سترګو لګيده د خوب څخه پاسه ولم، خپل سترګي مي خپل په لاسونو وموښل او چهار طرف مي وکتو خپل کوټه کی وم خو يو کمپل راباندی اچول شوی وو چي زما ياد ته نه راتلو چي ما دی د ويده کيدو مخکي په ځان اچولي ويی؟ نه پوهيدم ساعت څو دی؟ زه ماذديګر ويده شوی وم يعنی اوس سهار شوی؟ نو ولي چا زه راويښه نکړم؟ د ماښام ډوډی ته يا هم د سهار لمانځه ته؟ يعني زما شتون او نشتون دوی ته دومره بی ارزښت دی؟ پدی فکر مي خوله ژړا ته جوړه کړی وه چي د کوټی دروازه خلاصه شوه او آسما پداسی حال کي چي تندی تروش وو کوټی ته راداخله شوه او دروازه يي د ځان پسی وتړل.

د آسما په ليدو مي په ګيله مند لهجه ور ناری کړل چي هغي به همغه غوسه ناکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لهجه او تروش تندی وویل: بــلا
د آسما پدی خبره مي خوله د حیرت څخه خلاصه پاتی شوه چي آسما په غوسه وویل: زه نه پوهيږم ته په کوم بد نصیب ورځ پیدا شوی یي چي نه خپله کرار لری نه مور کرار ته پریږدی.

- د آسما دا خبرو دومره زور راکړو چي بی واره مي څو اوښکي د سترګو څخه توی شول او په ژړغوني غږ می ورته وویل: ما نو پر تاڅو څه کړی؟ یو ګوله ډوډی راکوی او یو دوه متره کوټه مو د اوسیدو لپاره راکړی د دغه منت زما په سر باره ویی؟

آسما- ډیره بیعقله او ساده يي هوسی، تا خپل ځان ته یوځل کتلي؟ دا څه کارونه دی چي ته يي کوی؟ زه هم جني یم ما هم خواهشات او آرمانونه درلود منم چي جلیل زما خپل انتخاب وو خو باور وکړه که بابا" نه "ویلي وايي یوه خبره مي لا د بابا د خبرو په وړاندی نکول، د دی لپاره نه چي یو ګوله ډوډی راکوی او یو دوه متره کوټه یي د اوسیدو لپاره راکړی، د دی لپاره مي د بابا په خبری خبره نکول ځکه پلار مي دی ! پوهیږی پلار څه ته وایی؟

په ډکو سترګو د ژړا می ورته کتل چي آسما یو لوی نفس واخیستو او لکه چي پر ما يي زړه وسوځیدو ویي ویل: پوهیږی د پرون شپی څخه نیولی تراوسه په بابا او ادی څه تیر شوی؟
په حیرت می وویل: ما هیس کار ندی کړی باور وکړه.
آسما په افسوس خپل سر راته وخوځه ویي او ویی ویل: تا هیس کار ندی کړی؟ تا چي د پرون ماذدیګر څخه د کوټی دروازه پر ځان بنده کړی وه تر ماښامه چي ادی ستا کوټی ته راتلل ته بی هوښه ویی.

په حیرت می وویل: زه بی هوښه وم؟
آسما- یو مرګ دی پر بابا ادی او هغه بیچاره باندی تیر کړو.
په ګنګس انداز می وویل: په کوم بیچاره؟
آسما- یو بیچاره دی چي ستا له لاسه پدی څو ورځو کي پوزی ته راغلي.
په خلاصه خوله د حیرت څخه می وویل: اطرافی؟
آسما- بلا خاوند د دی صحیح ده چي نکاح مو نده تړل شوي خو د هغه په نامه يي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-سل کاله نور هم تیر شي هغه ماته همغه اطرافي دی او وی به.
آسما- ته څه غواړی؟ ستا مشکل څه دی؟ دا خاوند دی په زړه ندی؟ بل چا سره کوم(
اسما خپل خبره کرار کړل چی ما ورته په تروش تندی وویل: بل هیڅوک نشته او نه
هم داسی خبره شته، یواځی مشکل دا دی چي ما دا اطرافي نه خوښیږی ځنګه درته
ووایم آسما کله چي نوم يي سوک راته اخلي زما بدی راځی څه ورسیږی چی زما
خاوند شي.

آسما لهجه نرمه شوه ماته رانږدی شوه او زه يي په غیږ کی ونیولم او په کراره يي
وویل: په پښتنو کي کومي جنۍ خپل په خوښه خاوند کړی چی ته يي دویمي
اوسیږی؟ کومي جنۍ کار کړی او ځانته يي خپل په پیسو کوم شي اخیستی چي ته
داسی آرمانونه لری؟ ځمکه او آسمان دی یو کړو چي پوهنتون وایم اخیره بابا زړه
دربان‌دی وسوځیدو او اجازه يي درکړه، خو اوس نور خبره د بابا څخه تیره ده ته که
هر کار هم وکړی بیا هم هیس نه بدلیږی نو د دی لځایه چي وژاړی او فشار دی
صفر کړی بی هوښه پریځوی او ادی او بابا تر مرګه ورسه ویي،
لږ هوښیاره اوسیږه او خپل ژوند سم کړه.

په ژړا می وویل: کوم ژوند؟کوم امید په کوم هیلي؟ تاسو زما ټول امیدونه او هیلي
را ووژلی زه به کوم زړه و دی دنیا ته خوشحاله شم؟
آسما- داسی مه وایه زه دی درک کوم ستا حالت اوس ډیر نازک دی فکر کوی ټول
لاری چاری آرمانونه دی خاوری شوی، خو زه درته په ضمانت وایم دا حال دی ډیر
دوام نکوی! یو ځل خپل خاوند وويني یو دوه خبری ورسره وکړی یو دوه د میني
الفاظ ورڅخه واوری دا ټول د اوس خبری درته ریشخند ښکاری.

-زه ستا پشان نه یم شاید ته په دوه جان او قربان ختا وځی خو زما زړه داسی ندی.
آسما- داسی مه وایه موږ ټول انجوني یو شانتي یو شاید ځینی خبری او رفتار مو
بدل ویي خو زړه مو یو شانتي دی موږ د احساساتو طاقت نلرو دښمن مو هم دوه
ورځی پرلپسی راته جان او قربان ووایي وربان‌دی مئینه کیږو، دا هغه لطافت دی چي
خدای زموږ زړونو کي اچولي.

د اسما د یو خبری سره لا موافقه نه وم، خو هیس مي ورته ونه ویل چی هغي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کراره او مهربانه لهجه وویل: خور دی درنه قربان شي که د ځان په غم کي نه يي د بابا نوم او نشان عزت او احترام ته وګوره.
په غوسه مې ورته وویل: ته ولي هـي ماته د بابا نوم او نشان عزت او احترام وایي؟ ما که د بابا عزت او احترام ته نه وایي کتلي نو ډیر کارونه او خبرې مې کول خو افسوس د بابا لپاره چوپه شوم او دی اطرافي ته مي د" هو "جواب ورکړو.

اسما په مهرباني وویل: افرین د دی ښځه وروسته هم همداسې وکړه، مه په ځان غم نیسی مه هم په بابا او ادی،( بیایی په کراره وویل: نن خان صیب او دهغوی کورني راغلي چي ستاسو نکاح وتړی.

د اسما پدی خبره په ویری باندی ورښخه جلا شوم او په تلوار مې وویل: کله راغلی؟
آسما- تا چې د کوم وقت ښځه ژړا ته ملا تړلی وه چي غواړم کار وکړم، بابا خان صیب ته ویلی وه چي راشی یو نکاح وتړو ترڅو دا ځوانان خپل مشکلات او خبرې یو دبل سره شریک کړی.

په خلاصه خوله مې وویل: زما مشکلاتو باندی د هغه اطرافی څه کار دی؟
آسما- ځکه هغه اطرافی اوس ستا خاوند دی. او بابا هم راغوښتلی چې ته خپل مشکل هغه ته ووایه.
-زه د هغه اطرافي سره نه خبره لرم او نه هم کوم کار..
آسما- که هوښیار اوسیږی او عقل ولری نو دغه اطرافي ځان سره سم کړه تر څو درته اجازه درکړی، او که بیعقله یي نو کینه او ټول عمر ژاړه.

- هیس مې ونه ویل چي آسما لځایه پاسیده او د تلو ښځه مخکي وویل: ډوډی راوړم ویخوره بیا ځان لږ جوړه کړه څهره دی د ګور ښځه د راوتي مړو پشان ده خلک درښځه وحشت کوی، یو حمام هم وکړه نن غرمی خواته بابا ویل چي نکاح تړو.

آسما دا خبری وکړل او د کوټې ښځه ووتل، خو زه هک حیرانه خپل په ځای ناسته وم، اوس څه وکړم؟ بابا دوه لاسه ما تسلیمه ویی هغه اطرافی ته! تر غرمي د کوټې ښځه و نه وتلم اسما راته کوته کی ډوډی راوړل، د حمام لپاره یي راته اوبه تیاری کړل حتا زما مخ او وریځی راته نخ کړل خو زه ګنګس او ویردلی ناسته وم، د غرمي ډوډی خوړلو وروسته د سړیانو غږ راتلو چي مسجد ته روان وه، اسما تللی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چي د سر برس راوړی ترڅو زما ويښتيا ړمنځ کړی، نه پوهيږم ولي خ بی ارادی د کړکی خواته ولاړم او د کړکي پرده مي لږ کش کړه او د باندی حويلی ته مې وکتل.

بابا د يو چهار شانه بوډا سړی سره د حويلي څخه وتي د هغه بوډا څهره بيحده د اطرافي پشان وه، نو ګمان مې وکړو چي دا به همغه خان صيب ويي د اطرافی پلار.! د هغه شاته يو څو نور سړيان او هلکان هم وه چي نور ما ونه پيژندل سوک دی؟ يو يو نفر د کور څخه د باندی وت، او ما ورپسی کتل نه پوهيږم ولی خو زړه مي غوښتو هغه اطرافي يو ځل ووينم؟ !

اخری نفر چي د ميلمه خاني څخه ووتي اطرافي وو! د هغه په ليدو مي د زړه درزا زيات شوه د ميلمه خاني مخکي ولاړ و او خپل بوټونه يي به پښو کول! سبين جوړه کالي اغوستي وه او يو تور خولي په سر وه، واسکټ يي نه وو اغوستي! شايد پوی شوی ويی واسکټ بوډاګان اچوی نه ځوانان!؟ په ځير،ځير مې ورته کتل څهره يي د همدی لری څخه لا بيحده ماته ډارونکي ښکاريده؟! بوټونه يي په پښو کړل او د

حويلي د دروازی خواته روان شو چي يو لس کلن ماشوم يي مخه ونيول؟! او يو شئ ورته وويل چی اطرافي په خندا د هغه په سر لاس تير کړو او خپل جيب څخه پيسی راوويستي! د ماشوم څهره بيحده د اطرافي پشان وه؟ يعني دا يي زوی دی؟ پدی فکر نه پوهيږم ولی خو بيحده زور يي راکړو، پرده مي په غوسه باندی ختا کړه او شاته وګرځيدم.

چي آسما ړمنځ په لاس کوټی ته راداخله شوه، زما په ليدو چي د کړکي خواته ولاړه يم يو خاص مسکا يي وکړل چي ما ځان ورڅخه ناګمان واچوی، پريږده هر فکر چي کوی زما خو هسی هم ژوند برباد دی، آسما زه د هينداری مخ ته کينولم او زما د ويښتيانو د ړمنځ کولو په حال کي خبری او نصيحتونه هم شروع کړل، ناسته خپل په کوټه کي د هينداری مخ کي د آسما د لاس لاندی خپل د ويښتيانو د ړمنځ کولو په حال کي وم، خو روحاً نه پدی کوټه کي وم او نه هم پدی کور کي؟!

روحاً د پوهنتون حويلي کي د هغه غټ درختي لاندي د دوه شنو سترګو په تماشا وم! هغه دوه سترګي چی ما يي ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا ځما له میني هر سوک خبر دار دی.
دا خبری کوراکور په هر دیار دی.

چه فلانا فلانا سړی سره دوستدار دی.
اوس به بیرته جار واته وما ته عار دی.
چه رسوا شوم تر عربه و تر عجمه.

دا د حسیب اولي بیتونه وه چي د هغه درختي لاندی ماته وویل! پدی فکرو مي بی ارادی ځو اوښکي له سترګو توی شول چي آسما په حیرت وویل: بیا پر تا څه شوی چي اوښکی تویه ویی؟ د نکاح په ورځ څوک نه ژاړی ښه ندی.

هیس مي آسما ته ونه ویل او خپل اوښکی مي پاکي کړل، د ځان سره مي وویل حسیب د دی ارزښت نلری چي زه دی د هغه په اړه فکر وکړم، پدی خبرو مي ځانته دلداری ورکول چي د کوټی دروازه خلاصه شوه او همغه جني چي هغه شپه یو خبره یي کړی وه او تولو خندلي وه او ماته د اطرافي خور معلومیده راداخل شوه او زمونږ دواړو په لیدو یي په خوشحالی وویل: اجازه سته زه راسم؟

د هغي پدی خبره آسما په خندا ورته وویل: نه اجازه نسته مونږ خپل ناوی چاته نه ښایو.
د آسما پدی خبری هغه جني په خوش اخلاقی او شیطنت وخندل او ویی ویل: اممم ځو غواړی شیرني چي دا شایسته ناوی موژ ته وشه یی؟
آسما- امممم جیب دی باید ډک وی.
هغه جنی په خندا وویل: جیب خو مې ډک دی توی چشی غواړی ډالر که کلداری؟
د هغه جنی پدی خبره آسما په دروغجني غوسه وویل: اووو ډالر که نه ویي مونږ په کلدارو د هوسی بوټ لا نه درکو هوسی خو لری.

هغوی دواړو خندل او خبری کول خو زما هیس حوصله نه وه چي د دوی پدی بیځایه مجلس او خبرو کي اشتراک وکړم، زه کوم جنس یا مال نه وم چي دوی پر ما بیه پری کول! که هغه د ټوکو لا ویی! هغه جني ماته مخامخ و دریدل چي مجبور

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظر مي د هینداری څخه واخیستو او هغي ته مې وکتل هغي په خوشحالي خپل لاس زما خواته ونیو او ویې ویل: سترِی مسی وریندارِی زه دی یو دانه ناز دانه د میره خور یم نوم مبارک مي هم روقیه ده.

د هغي و دی شیطنت او خوش اخلاقي ته مې وکتل د هغي په شیطنت کي ما خپل د پخوا څهره لیده چي د هیچا د پروا بغیر همیشه به همداسی خندا په خوله وم، نه پوهیږم څه دلیل وو خو دا جنۍ مي په همدی اول ملاقات په زړه ښه ولګیده، بیخی نه معلومیده چي د هغه اطرافي خور ویی؟! لاس می ورکړو او په کراره می ورته وویل:

- -خوشحاله شوم د آشناي څخه دی زه هم هوسۍ یم.

روقیه په خوشحالی زما لاس پورته ښکته کړو او په همغه شیطنت یي وویل: ای جاااارر تخو ژبه لری او ګونګي نه یی.
د هغي پدی خبره ما ورته په حیرت وکتل چی هغی وخندل او ویی ویل: خفه نسی خو بیخي ستا ژغ می نه وو آوریدلی فکر مي کوی چي خدای نکرده ګونګي یي.!؟

د هغي پدی خبره د مودو وروسته مي په وچو شونډو خندا خپره شوه، زما په خندا آسما هم خوشحاله شوه او مجلس یي ګرم کړو یو خبره به آسما کول او په مقابل کي به لس خبری روقیه کول بیحده شوخه او خوش اخلاقه جنۍ وه،

زما د جوړه ولو وروسته روقیه په زوره د باندی دهلیز ته ویوړم او هلته د راغلو ښځو سره مي سترِی مشی وکړل زما په راتګ ادی د خوشحالی په ځان نه پوهیده به وار وار به یي زما مخ ښکوله و او نازونه به یی راکول، زه بغیر د کوم احساس څخه هلته ناسته وم نور تسلیم شوی وم خپل بخت او طالع ته شاید همدغه می قسمت وو؟ چي د هغه کس سره نکاح وتړم کوم چي نوم اخیستل یي لا ما ځانته ښه نه بلل؟!

د سړیانو د مسجد راتلو وروسته په زړه کي مي بی کراری خبره شوه، یعنی اوس زما نکاح د دی اطرافی سره تړی؟ پدی فکرو بدن می لړزی اخیستی وو او د ویری حخه لړزیدم چي آسما زما خواته راغله او په کراره یي زما د غوږ اندی ته ویل:

آسما- یو څه جرعت ناکه اوسیږه رنګ دی د ګچ پشان تک سپین شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ویری می آسما ته وکتل چي د دهلیز دروازه یو چا وټکول او دهغه ښځه وروسته یو مرادنه غږ چی ویی ویل: یا الله حجاب وکړی موږ غواړو د ناوی ښځه د" هو " جواب وآورو ترڅو د نکاح شاهیدان شو.

پدی خبره د اطرافي خپلوانو او کورني خپل لوی،لوی ټیکران په سر کش کړل ادی زما په سر هم یو لوی ټیکری واچوی، اسما غوښتل زما د اندی ښځه لاړشي چي په ویری می لاس ورڅخه کلک ونیو د ویری او وحشت څخه مي نفس نشو اخیستی اوښکی مي د سترګو څخه په تویدو وه، د زړه درزا مي خپله آوریدل! فکر مي کو چي د مرګ ثانیه او لحظه مي رارسیدلي آسما چي زما بد حال ولیدو زما اندی ته کینستل او کرار کرار یي زما اوږی موښل.

څلور سړیان چي ټولو لوی،لوی ګیری ویی د د هلیز دروازی مخکي و دریدل او په خبرو لګیا شول یو خبره می د هغوی وانه وریدل دومره ګنګس وم چي پوه نشوم هغوی څه ویل؟ څه ونه ویل؟ یواځی د آسما به غږ پرخود شوم چي زما د غوږ انډی ته یي ویل: ته و خدای بدنامي مه جوړه وه" هو "ووایه

د هغي پدی خبره مي په د هلیز کي موجود ټول خلکو ته وکتل بیا مي ادی او آسما ته چي په ویری ماته راکتل نظر په نظر شوم، یعنی دوی ویریږی چي زه به د بابا نوم خراب کړم؟! پدی فکر مي یو بل اوښکه هم د سترګو توی شول او په کراره می وویل " هو زما قبول دی "هغه شاهیدانو دری خله زما د" هو "جواب واخیست او د هغه ښځه وروسته یي د مبارک ویلو په الفاظو ولاړه. د هغوي په تلو نوره پوه نشوم چی چا په غیږ کي نیولم او چا می مخ ښکوله وو؟ چا مبارکي راکول، ما یواځی دی خبری ته فکر کو چی زه اوس د هغه اطرافي ښځه شوم؟! او زما ټول همدلته خلاص شو؟ !

د ماښام ډوډی وروسته روقیه یو بد حال جوړ کړو او پدی خبرو چي د ورور کوژده مي ده ټول یي به نڅا کړل د ښه نڅیدو وروسته چی دا ستړی شوه نو دایره یي خپل مور ته ورکړل ترڅو هغه ټپي او بدلی ووایی؟! د حق څخه تیره نشم د اطرافی د مور غږ ډیر ښایسته وو یو ټپی او بدلی یی وویل چی ما ټول عمر کي نه وو آوریدلی؟! دا مجلس او نڅا ګانی د شپی تر دولس بجو وکړل دومره شوقی خلک؟! ما آوریدلي وه چي کندهاریان شوقی خلک دی خو باور می نه کیدو؟ خو نن شپه ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سم باور مې وشو.

د هغه وروسته د اطرافي راغلي وريندارګيانو خپل ماشومان ويده کيدل بهانه کړل او د ادی بابا کوټې ته ولاړه د اطرافی مور هم د سفر ستړی کيدل وويل او هغه هم ورپسې شول اسما پسی لا جليل راغلو او په نه زړه ولاړه د ټول د تلو وروسته ما هم غوښتل خپل کوټې خواته لاړشم چي روقيه به شيطنت وويل:

روقيه- يو څه صبر ورينداری ولی دونی تلوار لری؟
په ګنګس انداز مې ورروکتل د هغي په خبری پوه نشوم، خو ادی په تلوار وويل روقيه جاني لوری ته ورځه زه ورسره خبری کوم.

روقيه په شيطنت صحيح ده وويل او د دهليز څخه د باندی حويلي خواته ووتل؟! په حيرت مي د هغی تلو ته کتل چي ادی به تلوار زما خواته رانږدی شوه او زه يي دلاس څخه ونيولم پداسی حال کي چي زه يي د آشپزخاني خواته ځان سره کشه ولم ويی ويل: راشه يو دوه پيالي چاي درکړم درته د يو څه خوړی سره.

په ګنګسه لهجي مې وويل: زه چاي نڅکم.
ادی پداسی حال کي چی زر،زر چای او پيالي پتنوس کي ايخودل ويی ويل: تا ته يي نه تياره وم.
د ادی پدی خبره مي په حيرت وويل: نو چاته يي پدی نيمه شپه تياره ويی ميلمانه خو لاړه ويده شوه؟
ادی په کراره غږ وويل: جهان زوی ته يي تياره وم .
د هغه اطرافي د نوم په اوريدو مي ټول بدن ولړزيده او په تروش تندی مې وويل: تاسو خو ميلمه خاني ته چاي استولی وه هغه خلاصي شوی چی دی نور غواړی؟

- ادی په حيرت خپل شونډه وچيچل او په غوسه يي وويل: وی " دی "نو څه معنا بی شرمی دا نو څنګه خبره ده چي ته يي خپل ميړه په اړه کوی؟

د ادی پدی خبره نه پوهيدم وخاندم که وژاړم؟ لاجوابه ورته ولاړه وم چي ادی پتنوس چای هغه هم زما بنيبنه يي چينکه؟! کي دم کړی چای زما په لاس راکړل او زه يي خپل د کوټی طرف ته تيل وهلم چي په حيرت می وويل: تاسو ويل چي هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چای غوارې نو ولې ماته راکوی؟ خو د یو چا په لاس يي واستوی میلمه خانی ته؟

ادی پداسی حال کي چي خپل شونډه چیچل او خپل غږ يي ښکته کو ویی ویل: هغه ستا کوټه کیدی ورځه دا چای ورته ویسه..

په خلاصه خوله مي ادی ته وکتل او ومی ویل: چیرته دی؟
ادی په کراره غږ وویل: چیغی مه وه ټول دی راویښ کړل و دی نه لیده خور يي ولاړه ترڅو رایورې ستا کوټی ته؟!
په حیرت او ګنګسه لهجه می وویل: د څه لپاره؟
ادی په شرم وویل: ورځه چای ورته ویسه څه انکیر منکیر پوښتنی زما څخه کوی؟

په ویره او ډار باندی په تلوار بیرته آشپزخاني ته ننوتلم چي ادی هم زما پسی راغله او په غوسه یی وویل: زه درته وایم لاړشه کوټي ته راځی اشپزخانی ته؟

-زه هلته نه ځم.
ادی خپل لاس په بل ووهی او په غوسه يي وویل: وی.. دا نو څه معنا چي زه هغه کوټی ته نه ځم؟ میره دی درته منتظر دی ورځه د خدای او رسول څخه لږ شرم وکړه ما او بابا دی و دی خلکو ته نور مه شرمه وه.

-پخدای که زه هغه کوټی ته لاړشم ادی.
ادی خپل شونډه د حیرت او وحشت څخه و چیچل او په غوسه ناکه لهجه يي وویل: دا نو څه معنا چي زه کوټی ته نه ځم؟ خاوند دی درته په تمه دی. خلک به څه وايي؟
پداسی حال کي چي سترګي مي د اوښکو ډکي شوی وه په ژړغوني غږ وویل: خلک چي هرڅه وایی و دی وايي زه هغه کوټی ته نه ځم.

ما او ادی لا د تلو او نه تلو په سر جنګ وو چي روقیه آشپزخاني ته راننوتل، زما او د ادی په لیدو يي په احتیاط باندی وویل: کمه خبره ده؟
ادی په تلوار وویل: نه څه خبره به ویي؟ چای یو څه د دم څخه ولیدلي وه هوسی لورکي غوارې بیرته د سره يي دم کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ادی پدی خبره ما یواځی ورته وکتل چي مقابل کي ادی راته بد،بد راوکتل چی په معنا" ستا د لاسه می دروغ وویل "په نامیده نظر مي سر ښکته کړو چي روقیه په خندا او شیطنت وویل: خاله جاني موږ به ولاړسو باره دوی به سره پریږدو چي خپل په خوښه ورته چای دمه وی، که ډوډی وړی که هر کار چی کوی د دوی خوښه.

د روقیه پدی خبره مي سر راپورته کړو او ادی خواته مي وکتل چي ادی په مصنوعي او دروغو خندا چي یواځی د حالت د نرمال کولو کوښښ یي کو ویی ویل: همدا کار به وکو ته ورځه لورکي زه لږ د هوسی سره کار لرم بیا راځم.

روقیه په شیطنت وویل: صحیح دی توې هم خپل خبری سره وکی خو پکر مو ویي زما لالا هغلته کوټی کی یواځی ناست دی، نو لږ جر کوی.

روقیه دا خبره وکړل او پداسی حال کي چی ما ته یي سترګه وهل له اشپزخانی څخه ووتل !د هغي په تلو ادی زما لاس خپل په لاس کی ونیو او دا ځل د مهرباني له لاری غوښتل ما راضي کړی ترڅو کوټی ته لاړشم! ادی په کراره لهجه وویل: قربا دی شم ته ولي موږ دی راغلو خلکو ته شرمه ویی؟

په نیولی غږ می وویل: ما نو څه کړی چی تاسو ماته دا خبره کوی؟
ادی- ستا په نظر دا هسي خبره ده چی خاوند دی درته کوټه کی انتظار ویی او ته نه ځی؟ که مور وپلار یا وریندارګیاني خبر شی څه خبری به وکړی؟ څه کارونه به پر موږ وکړی؟ نو د خدای روی درته نیسم لوری مه کوه،خپل د پلار نوم اونشان ته وګوره او دا ضد دی پریږده چای واخله او خپل د خاوند څنګ ته ورشه.

ادی لا نور خبری هم غوښتل وکړی خو د روقیه په ډیرو نارو مجبوره شوه ما یواځی پریږدی، روقیه ادی ځان سره کوټی ته داخله کړه او د کوټی د دروازی بنده ولو حال کی بیا ماته سترګه ووهل !

په ویری او وحشت یواځی ځان په هغه نیمه شپه کي آشپزخانه کی لکه بلاو پشان ناسته وم، نه پوهیدم چی څه کار وکړم؟ عقل می ویل د ادی خبره ومنه خو زړه او احساس می دا اجازه نه راکول چی د هغه کوټی طرف ته لا وګورم تلل خو لری، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یخ له لاسه مي پښې لاسونه کار پریخودی وو د ډیر یوځای کینستلو له سببه ملا مې درد کول، خو بیا هم زه لګه یو مجسمي پشان هملته ناسته وم او خپل شاوخوا ته مې هیس فکر نه وو چي ناساپه د یو مرادنه غږ باندی د ویری څخه مي اوږی وپریدی، په وحشت مي د غږ خواته وکتل چي اطرافي مي د اشپزخاني دروازی سره ولیدو!؟

پداسي حال کي چي خپل اوږه یي د آشپزخاني په دروازی لګولي وه دوه سترګي ماته چي د آشپزخاني په مینځ کي ناسته وم نیولي وه! خپله پوه شوم چي د ویری څخه مي رنګ وپریدو! په وحشت مي ورته کتل نه پوهیږم زما په څهره کي هغه څه ولیدل چي په کراره غږ یی وویل: یو پیاله وبه که راکي بی زحمت.

- د هغه پدی خبره په لړزانده وجود د ځمکي څخه پورته شوم چي د ملا او پښو درد مي تندی را تروش کړو، خو بغیر لدی چي خپل درد ته توجه وکړم په همغه لړزانده وجود مي یو پیاله راوخیستل تر څو ورته اوبه ورکړم خو د لاسونو غیر نرمال لړزیدل مي نه پریخودم اوبه ورکړم هرڅونه کوښښ مي چي وکړو اخیره کي نیمه پیاله اوبه مي توی کړی وه او یواځی نیمه پیاله اوبه په پیاله کی وه! خپل پدی حالت مي ژړا راغله..

نه پوهیدم څه وکړم پیاله په لاس د آشپزخاني مینځ کي مي اوښکي په بهیدو شول، د لاس څخه مي د پیالو په اخیستو پر خود شوم، اطرافي زما د لاس څخه نیمه پیاله اوبه واخیستل او یو نفس یي په سر پورته کړل بیا پداسی حال کي چي زما د اوښکو ډکو سترګو او لړزانده وجود ته یي په ځیر،ځیر کتل په کراره غږ یي وویل: زه اودس کوم اوس کرار،کرار د سهار آذنونه شروع کیږی ته ورځه کوټی ته.

اطرافي دا خبره وکړل او خپل د لاس پیاله یي د میز په سر کیخودل او د آشپزخاني څخه د دهلیز دروازی خوا ته روان شو، د هغه تلو ته مي په خلاصه سترګو کتل! څه مطلب چی زه اودس کوم ته لاړشه کوټی ته؟ یعنی ته لاړشه زه هم درځم؟ یا ته لاړشه زه نه درځم؟ په ګنګسه انداز څو دقي ولاړه وم، چي د ادی د کوټی څخه د ماشوم د ژړا په آوریدو نور مي آشپزخانه کي اوسیدل مناسب ونه بلل، او په تلوار خپل کوټی ننوتلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټې په داخلیدو سترګي مي د ډېر حیرت او شرم څخه خلاصي پاتي شول! دا نو چا کړی؟ دا ځایونه چا اچولی؟ زما د یو نالي لځایه کوټه کي یو غټه دوه نفره نالي اچول شوی وه !او د اطرافي پکول چي د یو بالښت په سر ایخودل شوی وو، د دی خبری ګواهي ورکول چي هغه هلته پروت وو! ساعت ته مي وکتل سهار ته لاوقت ډیر پاتی وو!؟ ټول کوټه منظم پاکه شوی وه! دا کار ماته د روقیه معلومیږی ځکه هغي ماته داسی اشاری او خبری کول..!؟

زه لا د حیرت څخه نه وم وتلي چي د کوټې دروازه خلاصه شوه او اطرافي پداسی حال کي چي خپل لستونې ښکته کول او د ګیری څخه یي اوبه څڅیدل کوټی ته راننوتي، زما په لیدو یي یو اوږد نظر راته وکړو خو بغیر لدی چي څه ووایي د کوټې دروازه یي کرار ځان پسی بنده کړه، د هغه پدی کار سترګي مي د اوښکو ډکي شوي او په ویری څو ګامه شاته شوم، چي هغه هم څو ګامه را مخکي شو، دومره زه شاته ولاړم او هغه رامخکی شو تر څو هغه آوار شوی نالي ته ورسیدو، نالي ته په رسیدو مي د سترګو څخه بی اختیاره څو اوښکي توی شول، زما د اوښکو په تویه ولو د اطرافي تندی تروش شو. دومره رانږدی شوی وو چي د هغه ګرم نفس مي خپل پر مخ احساس کو سترګي مي پټی کړی وه.

ځان سره مي ویل نور خبره خلاصه شوه، هغه د خدایه غوښتل چي تا داسی یوائی راګیره کړی، پدی فکرو مي ژړا نور هم زیاته شوه چي خپل د ټیکری په کش کیدو خپل مرګ ته منتظره وم خو د اطرافي په خبره مي سترګی خلاصي شوی.( ملګرو مکالمه کي به د جهان نوم کاره وو خو همغه اطرافي دی(

جهان- زما پټو رانه په میلمه خاني کي د یاده ووتي ستا په پوړني( ټکری) خپل مخ وچ کم؟

په حیران نظر مي ورته کتل او هیس مي ورته ونه ویل چي هغه په خندا وویل: اممم زموږ د سپین ژیرو خبره "سکوت علامت رضایت است "یعني مخ وچ کم؟

ما بیا هم هیس ونه ویل چي هغه زما په ټکری باندی خپل مخ پاک کړو او اخیره کي پداسي حال کي چي زما سترګو ته یي په ځیر،ځیر کتل ویی ویل زما خولي..

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ګنګس انداز مي ورته وکتل چي هغه د سترګو په اشاره زما شاته اشاره وکړل او بیا یی وویل: زما خولي راکه زه یو دوه رکعته مونځ وکم..

د هغه پدی خبره مي خپل شاته وکتل او تازه مي فکر د هغه خولي ته شو چي زما شاته ه، په لړزانده لاسونو مي خولي راواخیسته او د هغه خواته مي ونیول، هغه ما ته په کتو خولي زما د لاس څخه واخیستل داسي چي لاس یي زما په لاس ولګیدو چي ما زر خپل لاس ورڅخه کش کړو، څو ثاني همغسی ناست ماته یي وکتل، او اخیره کي د یو غټ نفس په اخیستو لځایه پاسیدی او د الماری له سره یي جای نماز راوخیستو او په لمانځه و دریدی..

ما د سترګو د کونج څخه ورته کتل چي هغه په ډیر کراره او آرامش باندی خپل مونځ کوه، دوه که څلور رکعته مونځ یي وکړو او همملته د دعا په حال په جای نماز کینستو، ما پداسی حال کي چي کوښښ کو زما د نظر متوجه نشي ورپسی کتل د لمانځه خلاصیدو وروسته جای نماز یي سم صحیح منظم کات کړو او پخواني ځای کی کیخود کله چي زما خواته راوګرځیدو او زه یي همغه حال کي ولیدم نو یو نری مسکا یي وکړل اوپداسی حال کي چي خپل په ګیره کي لاس وهي ویي ویل:

جهان- شه یي؟
په ویری می ورته کتل او هیس جواب مي ورنکو چي د هغه مسکا نور هم زیاته شوه او پداسی حال کي چي د نالي په هغه بل سر کینستي په خندا وویل: که ژغ مي درنه نه وایي آوریدلی پکر مي کوی چي ګونګي یي؟

ما بیا هم هیس جواب ورنکړو چي هغه کمپل پورته کړو او پداسی حال کي چي زما څخه سم صحیح په فاصله کي کرار درلود ویی ویل: شپه باره تیره سوه کراره بیده څه کم کار درسره نلرم.

- د هغه پدی خبره زما سترګي د حیرت څخه خلاصي شوی" یعنی څه چی کوم کار نلرم؟ "لکه چي زما په حیرت باندی پوی شوی اوسیری چي په خندا یي وویل: مطلب وایم شپه تیره ده زه هم ستړی یم بیده به سو!؟

د شرم څخه تکه سره شوم او په تلوار مي ورته سر وخوځه ویي، چي هغه په خندا

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندی خپل پکول د سره لری کړو او خپل د بالښت په سر يي کیخود او بیا پداسي حال کي چي کمپل یي پرځان کشه ویي لځان سره يي کرار وویل: هي خدایه شکر دی. مخامخ پر ملا پریوت او خپل راسته لاس یي خپل په سترګو کیخود او په حساب باندی شاید پنځه دقي لا تیری شوی نه وه چي منظم ساه اخیستل یي زه حیرانه کړم!

یعنی دومره زر ویده شو؟ په حیرت مي ورته کتل خو هغه لکه چي د رښتیا سترِی وو چی دومره زر ویده شو؟ څو دقي می ورته وکتل خو هغه د رښتیا ویده وو! کله چي د هغه په ویده کیدو پوره ډاډمنه شوم د نالي اخیری خوا ته مي ځان کش کړو او د اطرافی څخه په کامل فاصله کي پداسی حال چي خپل بالښت مي د دواړو مینځ کي کیخودو پر ځای پریوتم د کوټی برق می خاموشه نکړو! او سترګي مي پټی کړی ویده شوم !

نه پوهیږم څومره وقت به زما د ویده کیدو څخه تیر شوی وه چي په یو آرامه غږ باندي مي خوب وپریدی او سترګي مي خلاصي کړی! کوټه کي توره شپه وه یوائې لږ،لږ ړنا د حویلی لخوا راتلل، لکه چي سهار شوی وو؟ په حیرت باندی مي په هغه تیاره کي سترګی واړول او اطرافي مي د لمانځه په حال ولیدو!؟ د سهار مونځ يي کوی بی ارادی می ورته سترګی ونیول په یو خاص انداز یي مونځ کو داسی چي زړه دی غوښتي کیني او ورته وګوری!

په ځیر،ځیر مي ورته کتل چي د لمانځه سلام یي وګرځه ویي چي ما په تلوار خپل سترګي پټی کړل ترڅو پوی نشي چی ویښه وم او ورته مي کتل، سترګي مي پټی وه او کوښښ مي کوی چي نرمال اوسیږم ترڅو پوی نشي، څو ثاني کراره کراری وه خو ناساپه د هغه لاس مي خپل په ویښتیانو باندی احساس کړو!؟ پداسي حال کي چي زما ویښتیان یي اړول په کراره لهجه چي ما په زوره وآوریدل ویی ویل: هي لیونـۍ د چا نه بیـ..

او یو څو نور الفاظ یي هم وویل خو ما یوائې همدغه لیونی وآوریدو او ورباندی پوه شوم ښه شیبه زما څنګ ته ناست وو او زما په ویښتیانو کي لاس وهی بیا

ولاړ شو پداسی حال کی چی کمپل یی پر ما سم کو زما تندی ښکل کړو او د کوټی د دروازی غږ چی د هغه د تلو خبر یی راکو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

د خاله کورته د ځو میاشتو وروسته راغلي وم هغه هم د آسما او د هغه د پیدا شوی ماشوم لپاره یی، د ماشوم په یاد راوړلو باندی ټول وجود مي د خوښی څخه ډک شو، دومره وړه، وړه لاسونه یي وه دومره کوچني پښی! ما په غیږ کي نشو نیولی ویریدلم چي هسی نه رانه وغورځیږی یا هم نفس یي قید شی؟! بیخی ماشوم وو! نوم یي یوسف وو! ما ورته وویل نوم یي فردوس کیږدی خو زما خبری ته چا توجه ونکړل، البته توجه څه کوی چي ټولو وخندل چی فردوس خو د انجونو نوم دی نه د هلکانو!

په هر حال خوشحاله وم چي خاله شوی وم! ادی د ډیر خوشحالي له لاسه نه پوهیده څه وکړی؟! حق مي ورکو دا ماشوم نه یواځی د خاله کورته رحمت او رڼا راوړی وه بلکي زموږ کور یي هم خپل په راتګ باندی روښانه کړی وو، ښه وو د کوژدی وروسته اجمل دومره زما شاوخوا نه تاویدو خو د خورګانو خولي همغسی او دهغه څخه لابتره خلاصي شوی وه، او یو داسي پوښتنی کول چي زه د شرم د لاسه ورته هک حیرانه پاتي کیدلم.

جمیله- تاته یي طلا نده راوړی؟
د جمیلي په خبره می خپل لاس ته چي یو دانه ساده حلقه د طلا چي د اطرافي مور زما په ګوته کړی وه وکتل او د" نه "پشان می ورته سر وخوځه ویی، چي هغي په پسخند او طعني وویل: وی.. کندهاریانو رواج دی خپل نوی ناوی په طلاو وزن کوی، خو ته لکه چي ورباندی نه یي ګرانه چی طلا یي درته نده راوړی.

د جمیلي پدی خبره د مرسل او فرشتي وخندل خو ما په خفه انداز ورنه نظر واخیستو او هیس می ونه ویل، خپل شخصیت مي دومره کم نه حسابه وو چي د دوی سره دی خوله په خوله شم دوی چي د ښځی قیمت او ارښت په طلا او جواهرو کي ویني.. ما ویل شاید زما په خاموشه کیدو باندی دوی چوپ شی خو لکه چي دوی نن کلکه اراده کړی وه چي زما پر عصابو باندی به منډی وهي.

فرشته- طلا خیر شاید د واده څخه وروسته یي ورته اخلی، دا ووایه چي پیسی درته دراستوی موبایل یي درته اخیستی چی ورسره خبری وکړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فرشتي په خبره مي خپل مات، مات موبایل ته وکتل او بیا مي دیته فکر وکړو چي ځومره وقت کیږی چي هغه اطرافي مې ندی لیدلی؟ او مغزو مې یوائې راته هغه سهار په یاد کړو چي زما ځنګ ته ناست وو او خبری کول بیا د هغه کراره ښکله ول او د هغه ځخه وروسته د دروازی ټک چی د هغه د تلو خبر یي راکو بیا تر نن ورځی چي دوه هفتي کیږی نه مي لیدلی او نه مي هم خبری ورسره کړی؟!

- زما په خاموشی باندی جمیلي په ریشخندی خندا وویل: وی مور خو فکر کو دا خانان خلک دی خو ته ګوره فرشتی یو موبایل یي لا زما د خاله لور ته ندی اخیستي دومره لوچک خلک توبه توبه..

د هغوی په خبرو ژړا ته نږدی شوی وم چي موبایل ته مي زنګ راغلو، ناشناس شماره وه نه مي پیژندل؟ اول مي فکر وکو چي شاید حسیب وی؟ خو بیا مي ځان سره وویل چی حسیب خو زما نوی شماره نلری نو بیا ځوک دی؟ زه لا په فکر کي وم چي زنګ بند شو او یو مسج راغلو.

-جهان یم

پدی دوه لفظ مسج مي ټول بدن ولړزیدو او په تلوار د جمیلي او فرشتي د پوښتنو د ډک نظر ځخه د حویلی خواته راونه شوم، چی بیا زنګ راغلو او ما په لړزانده لاسونو جواب ورکو چي د هغه خوا ځخه ډډ مرادنه غږ مې تر غوږ شو چي ویی ویل:

جهان- السلام علیکم شه یې؟
غږ مي د ستوني ځخه ورته نه ووت چي وغواړم جواب ورکړم، چوپه پاتی وم چي هغه بیا وویل: زنګ مي ووهي چي هم مبارکي درکم د دی دپاره چي خاله سوې او هم درته ووایم چي در روان یم کابل ته پخیر.

نه پوهیږم ولي خو ناساپه مي زړه د فیل پشان غټ شو او هغه اطرافي ته مي وویل: نو زه څه وکړم چي کابل ته راځی؟ مخکي دی درته سرې قالیني فرش کړم چي خبر راکوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره مې چې وکړل تازه پوه شوم څومره بد الفاظ مې ویلی؟ په وحشت باندی مې لاس په خوله کیخودو او د حیرت څخه مې وې... کړل چې د هغه خوا د اطرافي د قهقهه غږ چې د زړه له تله یي خندل د ډیر شرم څخه په ځمکه ننویستم. هغه په خند وویل:

جهان- زه د خدای عاجز بنده! سرې غالي نغواړم د شه راغلاست لپاره،خو کهـ.. ( چوپ شو داسی لکه چې خپل خبره یي پورته بنکته کول چې سم دی کنه؟ ترڅو ماته ووایي؟ د بنه شیبې خاموشي وروسته یي په کراره وویل) که د سرو غالي د ځایه یو سور لب شیرین ووهې..

د هغه پدی خبره زه د شرم څخه تکه سره شوم او د زړه درزا مې خپله آوریدل چې ثانیه کې سل ځل درزیده، ماته یي وویل؟ ماته یي وویل چې سور رنګ لب ستیک( لب شیرین) ووهم؟ زه لا د هغه د دی خبری د کما څخه نه وم وتلې چې هغه بیا وویل :

جهان- او خپل په سترګو لـژ رانجه هم کش که، او لـژ دنداسه که ووهې بیخی نو هی هی.

د هغه په دی خبرو نه پوهیدم د ډیر شرم څخه مړه شم یا د ډیر غوسې له لاسه ورباندی چغی ووهم! دومره فرامایشات؟ دومره پر ما امر کول؟ ما عمر کې د چا امر پر ځان نشو منلې اوس دا اطرافی پر ما امرونه کوی؟ اخیره مې صبر تمام شو او په غوسه مې ورته وویل:

-ته رانجه او دنداسه غواړی پدی و ویریږه چې هلته به کوته کې یواځی ناست وی او زه در نشم.
جهان په خندا وویل: هغه وار مې مراعات وکې نه مې غوشتو د نکاح په اول شپه خدای نکرده د ویری له لاسه مړه سي.

نه پوهیږم ولی د خولي کشک مې خلاص شو او بغیر لدی چې خپل خبرو ته پام وکړم و مې ویل: ستاسو خبرو کې شک نشته هسې شجرنامه د ښځو د وژولو هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري..

دا خبره مې چې وکړل تازه پوه شوم چې سومره بد مثال مې ورکړو! په وحشت باندی مې خپل لاس په خوله کیخودو، وای خدایه نن دا زما خوله ولي داسي بی سوره ده د دی اطرافی ومخ ته؟

د هغه په کټ کټ خندا چې بیخي نشو کنټرول کولي خپل شونډه مې وچیچل چې هغه په خندا وویل: پخدای قسم که هغه دی په کوټی کې زما په کم کار مړه سوی یی..

د شرم څخه مې غوښتل اوبه شم او ځمکې کي ننوځم، د ډیر خجالت له لاسه نه پوهیدم څه وکړم چې هغه په خندا وویل: نو پدی ویریدي هغه شپه؟ فکر دی کوی دسی نه( خبره یي پوره نشو کړی او قهقهه د خندا غږ یي پورته شو نور مي د شرم څخه د هغه خبری نشو آوریدلی موبایل مې ورباندی بند کړو، خدایه زه ولې دونی بیعقله یم؟ دا نو څنګه خبره وه چې ما هغه ته وویل چې تا خپل ښځه د هغه *** کار وقت کې مړه کړل؟

وای وای زه سومره بیعقل یم، ځان مې د دی بیځایه خبری لپاره رټی چې موبایل ته مې مسج راغلو خلاص مې چې کړو اطرافی وو لیکی وه: دوني وحشي هم نه یم خیال دی راحت ستا سره بیا خاص مراعات هم کوم.( او یو د خندا سټیکر چې زما فشار یي پورته ښکته کړو موبایل مې بند کړو او دومره هلته کیناستم تر دی چې ادی راغله راپسی او زما د رنګ په لیدو یي راته لږ بوره راکړل ترڅو فشار مې سم شي، خو ما هغه کړی او آوریدلی خبری نشو هیره ولې مغزو کې مې پورته ښکته کیدل..

د آسما له کوره راغلو کورته خو بیا هم زما حال همغه وو، کوټه کې پرته وم او خپل په افکارو کې غرقه وم نه پوهیږم څومره به خپل افکارو کې غرقه وم چې خوب راباندی غالب شوی وو او ویده شوی وم، نه پوهیږم څومره وقت به ویده شوی وم چې د خوب حالت کې مې احساس کړو یو سوک مې په مخ لاس وهي؟

په ډار او وحشت باندی غوښتل مې چغي کړم چې یو چا مې په خوله لاس کیخودو او په کراره یي زما د غوږ اندی ته وویل: کرار کرار زه یم..

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پدی خبره مې په وحشت باندی سترګي خلاصي کړی چې سترګي مې په دوه تک تور سترګو کې چې په نیم سانت فاصله کې زما د مخ پرقیدی بندی پاتی شوی! د ډیر ویری او وحشت څخه مې ژبه بنده شوی وه او خبری مې نشو کولي بدن مې رپ، رپ ریږدیدو زما پدی حالت باندی د اطرافي سترګي له حیرت خلاصي پاتي شو او په همغه حیرت یی وویل:

جهان- ای ای تاته وایم ماته وګوره زه یم ولې دسی بیریدلې یې؟
هر سومره کوښښ مې چې وکړو خو یو خبره مې ونشو ویلي او اوښکي وه چې تویده، زما پدی حالت اطرافي زر پاسیدو او په کړکي د ایښی چګ څخه یي یو پیاله اوبه ډک کړل او زما خولې ته یي ونیول او په ورختای وویل:

جهان- بسم الله که یو غړپ وبه وچیشه، ( بیا پداسی حال کې چې پیاله اوبه یي زما خولې ته نیږدی کول په کراره یي وویل: خدای خپل خیر که دسی نه دلته پدی کوټي کی مړه سی؟ زما نوم خو هم بدنام دی چې شزی په کوټې کې مړی کوی..

دوه غړپ اوبه مي څکلی وه چې د هغه پدی خبره هغه مې په سری غاړی ولاړه او په ټوخ شوم. چې اطرافي په تلوار څو کراره ټک په ملا راکړو، چې یو څه ښه شوم زما د ټوخ په بند کیدو اطرافي زما د څنګ څخه پاسیدو او د کوټې برق یي روښانه کړو، د برق په روښانه کیدو او د هغه په کامل لیدو ټول وجود مې د ویری څخه ولړزیدی.

جهان- که خبر وایي چې ته دونې بیرندوکه یي نو دسې مې نه بیره ولې..
هیس جواب مې ورنکړو او د اوښکو په ډک سترګو مي ورته وکتل، چې زما خوا ته راغلو او پداسی حال کې چې تندی تروش نیولی وو ویی ویل: مه ژاړه بد مې راځی ستا اوشکې وګورم.

بیا مي هم د جواب ورکولو لځایه اوښکي توی کړل چي دا ځل بی کراره شو، زه یي کامل خپل خواته کش کړم او اوس زه د هغه غیږ کي وم! چې زما اوښکی پاک کړل او پداسی حال کې چي زما ویښتیان یي د غوږ شاته راته وهل په کراره کراره او په بیحده صبر یي راته خبری شروع کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان- ولې دم په دقيقه ستا شايسته سترګي د اوښکو ډکي دی اممم؟ زما سره کم مشکل لری؟ زما څخه دی بد راځی؟ زما کالي یا رفتار دی نه خوښیږی؟ زما خبری دربانډی بد لږیږی؟ راته ووایه، ماته ووایه چې یوی سم مشکل مې چیری دی چې ځان سم کم. ماته ووایه زما کم کار تا په عذابه وي چې زه هغه سم کم.

نه پوهیږم د هغه د نرم لهجې اثر وو یا د نرمې غیږی چې په خبرو شوم ورته او ومې ویل: د اجبار او زور څخه مې بد راځی، دا چې د بابا او ادی او د خلکو د خبرو له لاسه مجبور سوم تاته هو ووایم بد مې راځی، زه اوس نغواړم واده وکم. زه غواړم کار وکړم، خپل ټاکلې اهدافو ته ورسیږم خپل آرمانونه پوره کړم، زه اوس نغواړم واده وکم زړه مې غواړی ماشومتوب وکړم شیطنت وکړم. ما یواځی پریږدی.

په آخیری لفظ مې اوښکې د سترګو څخه په بهیدو شول، چې د اطرافي نرمه خندا راغله پداسې حال کې چې زما ویښتیانو کې لاس وهې ویې ویل: اوس چا پرتا جبر او ظلم کړی چې ته ژاړی؟

نه پوهیږم ناساپه دومره جرعت مې د کوم ځای کړو چې د هغه لاس مې خپل د ویښتیانو څخه لری کړو او د غیږی څخه یې لری شوم، او په غوسه ناکه لهجه مې ورته وویل: ما ستا څخه بد راځی دا چې ستا سره باید واده وکړم بد مې راځی دا چې مجبوره ستا سره یو ځای ژوند وکړم بد مې راځې نه یې غواړم.

زه یې خپل خواته کش کړم چې په سینه یې وولیدم، د حیرت څخه یې وریځی پورته واچول او ویی ویل: یعنې تا زه نه یم خوش؟ او اوس پدی خفه یې چې ولې زما کوژدن یې؟

-خوشې مې کړه. څه کلکه دی نیولې یم؟ هو زه په همدی خفه یم زه تا نغواړم.
جهان- مشکل دی په چیشې حل کیژی؟ دسی احساس کوم چې د کوچنیانو پشان ضد کوی زما سره او دا خبری کوی .
-زه ضد نکوم هغه چې ضد کوی ته او زما کورني ده چې په زوره یې زه تاته درکړی یم، زه غواړم آزاد اوسیږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په مخ يي لاس تير کړو او کله چې ما ورڅخه غوښتل خپل مخ وګرځه وم نو زما زنه يي کلک ونيول، او د مخ اړول څخه يي منع کړم. او په يو خاص انداز چې غږ يي بيحده تاثيرناکه و وويل: ته اوس هم آزاده يي چې هر کار کوی ويي کی، هر شيطنت او کوچني والي چې کوی ويی که، زه هم درسره يم( په شيطان خندا يي ويل: زما عمر ته مه ګوره د سړيانو شوق او ځواني د ۳۰ کالو څخه بعد زياتيژی کميژی نه.

غواړی چکر ووهي زه دی وړم، غواړی ليونتوب وکړی زه ستا څخه هم ليونی يم، ايله بهاني مه راوړه هغه هم پدسی حال کې چې زما خوشيژی زما شزه شوخ او شيطانه ويي نه جړن دوکه.

د هغه په کراره، کراره، خبرو او د لاس په ناز کولو چې زما په ويښتيانو کې تيره و، قهر او غوسه مې خلاصه شوی وه، چې هغه په ناساپه حرکت کې زه په نالي خوشي کړم او خپل زما د پاسه راغلو، داسي چې ټول بدن مې د هغه د مرادنه بدن لاندی قيد پاتی شو او حرکت می نشو کولي، احساس مې کوي د ډير ويری او وحشت څخه مي زړه د خولي څخه را وځی.

- مخ يي زما مخ ته رانږدی کړو او خپل د پوزی سر يي زما په پوزه ووهي، او په کراره باندی خپل ساه زما په مخ باندی خوشي کړه او همغه حالت کې وويل: غواړم درڅخه يو پوښتنه وکړم او بغير د "هو "څخه بل جواب نغواړم وآورم درنه.

په ډار شوی نظر می ورته کتل چې زما په کتو باندی په خندا شو او په همغه کلکه لهجه يي وويل: صحيح دی؟

په ويری باندی مې سر وخوځه ويي چې په نرم لهجه يي وويل: ته زما ښځه يي زما ناموس يي، زه پر تا ظلم نکوم ستا خواهشاتو او آرمانو ته هم ګورم او کوشش کوم پوره يي کړم خو ستا ځيني خواهشات زما د اخلاقو سره نه وايي، نو ته بايد څه وکړی؟

په ګنګس انداز می ورته وکتل چې هغه بيا په خندا باندی خپل پوزه زما پر پوزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووهل !زما په نظر دا کار يي خوښيدو؟ لکه مور چي د ماشومانو په پوزی خپل پوزه وهو! ده هم همداسی کول.

جهان- نو ته باید دسی وخت کي خپل د میره خبره ومني او ووایه" صحیح ده "په سترګو...

د هغه دا خبره بیحده زور راکړو او په غوسه مي ورته وویل: نه يي منم زور لری؟ زما پدی خبره هغه په شیطنت وخندل او ویی ویل: زور خو ډیر لرم خو مناسب نه بلم د یو کوچني سره يي معلوم کم.. البته په بل رکم زور معلوم کولو کی مشکل نسته خوشحالیږم هم( دا خبره یی وکړل او په خندا شو چي زه د شرم څخه تکه سره شوم او پداسی حال کي چي زور مي وهي چی هغه خپل د ځان څخه لری کړم په غوسه می وویل:

-ته به څه يي ستا خبره به څه یی؟ زه ستا د کلي نفر نه يم چي ته ورته خپل ځان ارباب،ارباب کړی او زه وډاره شم! زه هوسيي محمدی يم نو خپل حد کي اوسیږه.

دا خبره می وکړل او غوښتل مي د کوټی څخه ووځم چی زما لاس يي کلک ونیو دومره کلک چي لاس مي په درد شو او اخ می له خولی ووت، خو هغه بغیر لدی چی زما درد ته کومه توجه وکړی زه یی بیرته خپل پر ځای کینولم او په داسی حال کي چي کوښښ یی کو آواز یی ښکته اوسیږی ویی ویل:

جهان- ستا حافظه به کمزوری ویی خو زما ده نده، یو هفته مخکي دلی په همدی کور کي د ټولو په مخ کی زموږ نکاح وتړل سوه! او ته رسماً شرعاً او قانون زما ( خپل غږ يي پورته کړو او پداسی حال کي چي خپل په سینه یی لاس وهو وویل: د جهان خان سدوزی ښزه سوی. که اطرافي يم که شه يم که بد! هر شئ چي يم اوس ستا میره يم. او ستا په نفس اخیستو لا اوس زه حق لرم نور خبری او کارونه خو لری.

دهغه پداسی لهجه او خبرو مي بیا سترګي د اوښکو ډکي شوی او بیا مي ټول بدن د هغه او دهغه د خبرو څخه په ډار باندی ولاړزیده، چي کرار باندی زه خپل څنګ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کینولم او پداسی حال کي چې زما د لاس بند ته چي د هغه په کلک نیولو باندی تک سور شوی وو کتو په کراره غږ یی وویل:

جهان- وګوره داسی کارونه کوی بیخی نه یی غټه سوی اغه کوچنی جړندوکه انجلۍ یي، د دی لځایه چي یو دوه سم خبر وکی زما سترګیا لڅ لرې کي خپل په خبرو او کارونو باندی ما په غوسه کوی چی اخیر وګوره( زما لاس ته یی اشاره وکړل او بیا یی وویل) دسې تاوان یی هم تاته رسیږی.

هیس جواب مي ورنکو چې هغه په خاص لهجه وویل: ته خبر یی ما تاته چشی راوړی؟

بیا می هم ورته جواب ورنکړو او مخ مي ورنه وګرځه ویي چي هغه په خندا باندی زما مخ خپل خواته را تاو کړو او ویی ویل: ګوره هر کار چې کوی زه درته هیس شئ نه وایم هر ناز او نخری چي کوی زه دی ټول نازونه او نخری وړم خو زما د غیرت سره به لوبې نکوی، زه په دغه لفظ نفس باسم او ژوند کوم، او اوس ته زما ناموس او غیرت یي زه ستا په نوم مړ کولو او مړ کیدو ته تیار یم، نو هر کار کوی وکه یواځی دغه خبره مه کوه چي ته څه کار لری؟ او په تا یي څه؟

زه ستا میره یم او تر هغه وقت چې ژوندی یم وبه اوسیژم. پوه سوی؟

هیس جواب مي ورنکړو چي هغه رانږدی شو او پداسې حال کې چې زما لاس یي خپل لاس کې نیو ویې ویل: تاته مي موبایل اخیستی.

پدی خبره د سترګو د کونج څخه مي ورته وکتل چي هغه خپل جیب ته لاس کړو او زما د کنجکاو او حیرت ډک نظر لاندی یې یو ساده نوکیا موبایل زما لاس کې کیخود! د نوکیا موبایل په لیدو مي نږدی وو د غوسې،حیرت، تعجب او شوک، څخه وژاړم بل هیس نه ژړا مي غوبنتل، چي هغه په شوخه لهجه او خندا وویل:

جهان- امممم خوش دی سو؟ شایسته دی اوه؟
هیس جواب مي ورنکړو او یواځی ورته و مي کتل چي هغه پداسې حال کې چې کوښښ کو خپل خندا کنټرول کړی ویې ویل: امم و دي نه ویل؟ خوش دی سو کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه پدی بار،بار تکرار کولو زړه مې غوښتل د ډیر غوسې څخه چیغې ووهم، خو ځان مې په زوره کنټرول کړو او کرار مې وویل: ښایسته دی مننه خو زه یې نغواړم زه موبایل لرم.
جهان- امممم دا خو شه خبره نده، خپل موبایل ایله کوه باره دغه سم دی دغه واخله.

- سر پورته کوم او ورته ګورم، د همغه شپې پشان یې یو جوړه سپین کالي اغوستې خو پدی تفاوت چې د پورته دوه تنې ورڅخه خلاصې کړې، او صاف مستقیم کربښه د سینې معلومېږی، د سینې ویښتیان یې بیحده زیات معلومیده، یو ځاې مې آوریدلی وه چې د کوم سړیانو د سینې ویښتیان چې هر څومره زیات ویې هغومره د هغوې د شجاعت او دلاورتیا ثبوت ورکوی !توره ببر ګیره چې څو تاره سپین ویښته چې د نږدی څخه معلومیده. نظر مې پورته ولاړو او د هغه په تور د توري شپې پشان نظرو کي بند پاتې شوې چې اوس د شیطنت او خندا څخه یې سترګې پړقیدې.

جهان- امممم خوش دی سوم؟
د هغه پدی خبره مې په ګنګس انداز ورته وکتل چې هغه په خندا وویل: دری ساعته زبر او زیر دی کړم وایم خوش دی سوم کنه؟

د هغه پدی خبره د شرم څخه مې شونډه وچیچل خو د نوکیا موبایل په لیدو مې غوسه تازه شوه او ومې ویل: دومره د یوزراسیف ښایست هم نلری چې درته وګورم.
زما پدی خبره هغه په لوړ غږ وخندل او پداسې حال کې چې زما د څنګ څخه یې بالښت راخیستو او خپل تکیه یې ورباندی وهل ویې ویل: یعنې خوش دی نسوم نو؟

په نارحته انداز مې هغه نوکیا موبایل د هغه څنګ ته وغورځه ویې او ومې ویل:
زما خوښ کیدل یا نه خوښ کیدل څه فایده لری؟
زما پدی خبره هغه لږ خپل سر کوږ کړو او په ځیر،ځیر یې راوکتل بیا یې وویل:
زما د کوم عادت یا خبری څخه دی بد راځی؟ راته ووایه زه یې باره نکوم!

هیس مې ورته ونه ویل او سر مې ښکته واچوې، زړه مې هسې ډک و او ژړا مې زړه غوښتل چې هغه خپل په لاس زما سر پورته کړو بیا یې وویل: امممم؟ کوم یو؟
( بیا خپل څنګ ته هغه ساده نوکیا موبایل ته اشاره وکړل او ویې ویل: که پدی خفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی نو ټوکې مې درسره کول دا زما دويم د کار موبايل دی، ستا موبايل خو سبا يوځای بازار ته ځو او ستا په خوښه يې اخلو، ما وانخيستي ما ويل زما انتخاب به دی خوش نسي.

هيس مې ورته ونه ويل چې هغه بيا وويل: ولاړسه خپل لاس او مخ باندي يو څه وبه تيرې که ډوډی هم ځانته راواخله مور دی ويل د غواړ غوښه(غوښه) دی نه خوشيږی ما درته هغه ستوی د شهريانو خوراک چشی نوم دی؟! اممم پيتزا هغه مې درته راوړل ته بيده ويې، ورځه نو يو پياله چاې هم ماته دم که چې دا سر مې دي درد کوی چې مه وايه، خپل ډوډی هم راواخله راسه اله نو...

د هغه پدی خبرو لځايه پاسيدم او د کوټې د دروازی خواته ولاړم چې د کوټې څخه د وتلو مخکې يې راپسې ناری کړل: بيا ولاړنسې د هغه شپې رکم آشپزخانې کې ماته شينې(کينې) پوی سوې؟

راوګرځيدم خو جواب مې ورنکړو چې هغه وويل: اممم وامې نه وريدې ستا جواب؟ د سمه ده پشان مې ورته سر وخوځه ويې چې هغه په نری مسکا وويل: دا دونې غټ سر شوره ولو د ځايه هغه دوه متری ژبه دی وشوره وه.

جواب مې ورنکړو او د کوټې څخه ووتلم، اول مې خپل لاس او مخ ومينځو او بيا مې د خدای د وچ زوره هغه اطرافې ته چاې دم کړو، يخچال مې چې خلاص کړو نو د اطرافې راوړی بيتزا مې وليده او خولې څخه مې ورته اوبه راغله، زه د پيتزا معتاده وم او نن دا دومره لويه پيتزا يواځې زما وه؟ پدی فکر د خوشحالې څخه مې خوله په خندا خلاصه شوه.

چاې ته ولاړه وم ترڅو دم شې او دی خبری ته فکر وړی وم چې تر کله به زه اطرافې لځان څخه لری ساتې شم؟ هغه شپه يې انسانيت وکړو او څه يې ونه ويل خو نن شپه به څه وکړم؟ زړه مې ويل لاړشم د ادی کوټه کې ويده شم! ځکه اطرافې هلته نشې راتلې خو بيا مې چې ادی او بابا ته فکر کو خپل فکر االته اشتباه معلوميدو.

له قصده مې هر کار دومره په ځنډ کوې چې اطرافې ويده شې؟! ډوډی مې هلته آشپزخانې کې وخوړل او الحق چې خوندوره پيتزا وه خو اطرافې ته په فکر کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشتها مې خرابه شوه، شاید یو ساعت مې ځان اخوا دیخوا کړو اوبیا د کوټې خوا ته پدې امید روانه شوم چې شاید اطرافي ویده شوی ویې؟

دروازه مې کرار خلاصه کړه او چاې پتنوس په لاس کوټې ته ننوتلم، چې اطرافي مې خپل په نالې پداسې حال کې چې د هغه شپې پشان یې خپل یولاس خپل په سترګو ایخودلې و پروت ولیدو! کرار مې دروازه بند کړه او کوټې ته ننوتلم هغه هیس شور ونخوړو او ما به خوله یو لویه مسکا راغله ویده دی؟ !

پدی فکر بیحده خوشحاله شوم او په کراره مې غوښتل پتنوس چاې بیرته آشپزخانې ته یوسم چې د اطرافي غږ پداسې حال کې چې همغسې پروت وو او لاس یې په سترګو ایخودلې و تر غوږ شو.

جهان خان- کرار،کرار ستا د راتلو څخه نامیده کیدلم.
د هغه په غږ مخ مې ور واړه ویې چې هغه خپل لاس د سترګو څخه لرې کړو او د سترګو په اشاره یې خپل څنګه ته اشاره وکړل او ویې ویل: راځه چاې راوړه وګورم دا څه رکم چاې دی چې تا وربااندی لس ساعت تیر کړل!

په لړزانده قدمو ورنږدی شوم او پتنوس مې د هغه مخ ته کیخود چې هغه لځایه پاسیدو او بالښت یې خپل شاته کیخود او پداسې حال کې چې دوه سترګې ماته نیولې وه وویل: ما درته وویل خپل ډوډی دلته راوړه او ویخوره.

- د پیاله چاې ډکه ولو حال کې مې په کراره وویل: که تاسو وږی یاست زه درته راوړم
جهان خان- ما درته وویل چې زه وږی(وږی) یم؟
-نه خو د ډوډی پوښتنه مو وکړل نو ځکه مې وویل.
جهان خان- امممم زه وږی نه یم یوازې غوښتل مې ته دلته ډوډی وخورې نه هلته آشپزخانې کې.

ناساپه مې د خولې څخه وپریدل: یوازې راحت وم.
دا خبره مې چې وکړه خپل شونډه مې وچیچل او کرار مې سر پورته کړو چې هغه په ځیر،ځیر راکتل، کله چې زما نظر یې ولیدو ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان خان- موژ پشتانه یو متل لرو وایو" ژبه هم کلا ده هم بلا ده "نو پکر دې ساته.
جواب مې ورنکړو چې هغه ډک شوی پیاله د چاې زما د لاس څخه واخیستل او ویې
ویل: ولې دی هغه شیشه یې چاینک کې چای دم نکړه؟

په حیرت مې وروکتل ده زما شیشه یې چاینکه چیرته لیدلی وه؟ لکه چې پوی شو زه
حیرانه شوم چې ویې ویل: هغه شپه آشپزخانې کې په پتنوس کې مې ولیده.

د هغه پدی خبره دیته فکر ویې وړم چې دومره حافظ لری یعنی؟ هغه شپه زه دومره
ګنګس وم چې ځانته مې لا فکر نه وو هغه وقت ده هغه شیشه یې چینکه لا یاد ده!

جهان خان- امعم و دې نه ویل ولې دی هغه کې چای رانوړل؟
ور ومې کتل او د ځان سره مې وویل که ورته ووایم هغه یواځې زما چاینک ده او
نه غواړم تاته پکې چای راوړم! هسی جنګ کیږی هغه هم د کوم یادآوری چې څو
ثانې مخکې وکړل په همدی خاطر ورته و مې ویل: هغه خیرنه وه.

زما پدی خبره اطرافي خپل وریځې پورته واچول او یو نری مسکا یې په خوله راغله
او ویې ویل: خیرن وه که ندی غوشتل خپل چاینک کې ماته چای راوړی؟
په تلوار مې وویل: نه.. نه هغه د رښتیا خیرن وه.

جهان خان خپل سر وخوځه ویې او پداسې حال کې چې خپل د چای پیالې څخه یې یو
غړپ چاې څکه ویې ویل: اممم صحیح دی..( بیا بیرناساپه وویل: خو فکر ساته زه
دروغجن انسان په دوه لفظه پیژنم پوهیژی ولی؟

په ویری مې ورته سر وخوځه ویې چې هغه په کراره غږ وویل: ځکه چې زه جهان
خان یم ) په ویری او وحشت مې ورته کتل چې ویی ویل: زه دا خبری پریژده ځایونه
واچوه چې شپه تیره سوه او زه هم سخت ستړی یم.

د هغه پدی خبره لاس او پښې مې د ویری څخه ولړزیده او د مخ رنګ مې وپریدې
چې هغه راوکتل او په داسې حال کې چې خپل سر یې لږ کوږ کړو ویې ویل: اممم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا څه وسو؟

جواب مې ورنکړو او یواځې مې ورته وکتل چې هغه په کراره وویل: زړه خو دې نغواړی درسته شپه دې شینو مجلس وکو؟ ستا دپاره وایم ملا دی په درد کیږۍ ځایونه واچوه کرار ګرم ځای کې مجلس هم خوند کوی( دا خبره یې چې وکړل کرار یې وخندل)

په لړزانده غږ مې ورته وویل: هغ.. هغه تاسو چای څکې ځایونه نه اچول کیږی. زما پدی خبره هغه خپل د لاس پیالې چاې په یو نفس په سر پورته کړل او بیا پداسی حال کې چې پیاله ترموز یې په پتنوس کې کیخود خپله پاسیدی او پتنوس یې په کړکې کیخود او ویی ویل: صحیح سو؟ بل مشکل خو نسته؟

بی جوابه مې وروکتل چې هغه هم په خندا راوکتل داسی لکه چې غوښتل یې د سترګو په خبره راته و وایي" نن شپه دی زه یو بهانه لا نه منم "پدی فکر سترګې مې د اوښکو ډکې شوه خو ناچاره پورته شوم او نالې مې راوخیسته چې د هغه غږ مې واوریدی چې ویی ویل:

جهان خان- هغه دغه والا نالې راواخله.. هغه څه ورته وایې؟ اممم دوه نفره!

د هغه پدی خبره مې تول وجود ولړزیده خو ځانته مې په سل مذهبو دلداری ورکول چې هیس خبره نده، او نالې مې واچول کمپل بالښت مې چې کیخود، بی هدفه ورته ولاړه وم چې اطرافې زما لاس ونیو او په نالې کینولم په ځیر،ځیر راکتل داسې لکه چې اول ځل یې ویې ما وینې زما د زړه درزا ما خپل آوریدل داسی په کلک باندی درب درب یې وو چې زه ویریدم هسې نه د سینې څخه مې راووځې!

د اطرافې لاس چې زما د ټکری خواته لاړو او هغه یې زما د ویښتیانو څخه لری کړو سترګې مې پټی شول چې هغه په یو بیحده مینه ناک نرم غږ و ویل: اول وار مې ته په همدغه ستوی د کور کوټې کې ولیدې لکه کوچنیانو ولاړه وې په شوق باندی دی زما موټر ته کتل، کله چې زما پر ژغ زما خواته راتاو سوی هلته هغه دقې کې ( زما په مخ یې لاس کیخود داسې چې مجبوره شوم سترګې خلاصې کړم او هغه زما سترګو ته په کتو وویل: هغه دقې کې زړه مې درب وهل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسې چې خپله پوی سوم چې د جهان خان سدوزی نور ټول پاتې ژوند د دغه دوه خرمای سترګو باندی تمام دی، خو ( زما په مخ راغلې ویښتیان یې دغوږ شاته کړل او ویې ویل: خو ستا سترګو کې ما هغه دقه کې ځانته بی احترامې ولیده! تا داسی راوکتل لکه یو بی فایدې شئ او زه په غوسه سوم ستا هغه کتو ته نو ځکه مې درته هغه خبری وکړل، بیا چې تا وویل د معلم صیب لور یې، بیا نو بیخی می ستا د وصال او یوځای کیدو فکر د ذهن وباسې

ما ویل زه چیری د معلم صیب لور چیری، خپل عمر ستا خپل کورنی ستا کورنی ټول ته مې فکر وکې او ومط ویل چې دا مینه نه مینه.

- دهغه پدی خبرو مې په حیرت باندی ورته کتل چې هغه په یو نری مسکا راوکتل او ویې ویل: ما هغه شپه اراده وکړل چې باره به دسی فکر کوم چې بیخی می سوک لیدلی نده او دغې خاموش به ځم خو تا پرینژدلم.

د هغه پدی خبره سترګې می د حیرت څخه خلاصې پاتی شوی ما نو کله ده ته ویلی وه چې مه ځه؟ او ما مه پریژده؟ هغه چې زما ګنګس انداز ولیدو په خندا یې زه خپل غیږ خواته کش کړم او پداسی حال کې چې خپل زنه یې زما په سر کیخودل زه یې کامل خپل غیږ کې ځای کړم او کمپل یې راباندی راکش کړو.

جهان خان- امممم تا ونه ویل چې مه زه! خو ستا یو کار زه د تلو او ستا د لیاده باسو څخه منع کړم، هغه شپه چې خپل زړه مې په څلور مذهبه مجرم او ګنهکار ثابت کړو، او ستا لیاده باسلو لپاره مې ورته خدای او رسول شافې کړو د همغې شپې په سهار ستا) خبره یې پری کړل زما ویښتیان یې لاس کې ونیول او غټ نفس یې

واخیستو داسی چې زما د ویښتیانو بوی خپل سینه ته کش کړی او هلته یې د تل لپاره ځان سره وساتي.!) خو ستا دا پریشان زلفو د هغه مولا په آذان ستا د مینې په زنځیر کې وترلم، ولاړه ویې او لکه یو آزاد مرغه پشان دی لاسونه خلاص کړی وه او د سهار هوا دی استشمام کول، او خبره نه ویې یو لیونی ستا د څو قدمې فاصله کې ولاړ دی او ستا په دیدن نه مړیژی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه پدی خبرو یو دم حیرانه شوم، هغه سهار مي یاد دی خو ما ولي اطرافي هغه ورځ ونه لیدو؟ ولي فکر مي ورته نشو؟ زه لا په دی فکرو کي وم چې هغه بیا وویل: خداي په سر شاهد دي چې ډیر کوشش مي وکي درته ونګورم، ډیر مي خپل لیونۍ زړه ته وویل: چې دا د معلم صیب لور ده،او ته د هغه کور کي میلمه یي! د هغه ډوډی دی خوړلي! دا بي ناموسي نو څه ده چې ته دي دهغه د لور پسي وګوری! خو باور وکه زما نظر اول وار وو چې زما په کنټرول کي نه وو.

اطرافي بیا یو لوې نفس واخیستو او زما د سر ویښتیان یې ښکل کړ، چې د هغه پدی کار ټول بدن مي ولړزیده چي هغه په یو کرار غږ وویل: زه په کلي کي پیدا سوی او غټ سوی یم، زموږ خواته دا خبری نسته چي د یو چا د لور او خور پسي دی وګورو، دا موږ ته د مرګ او ذلت په معنا ده چي د بل چا د ناموس پسیي دی سترګي وباسو او د کونچ او کنار څخه ورپسیي نظر واچو، خو هغه ورځ ما بې اختیاره ستا پسي وکتل!

نو ځانته ستا پلار ته خپل وجدان ته شرمنده وم، چي د یو نامحرم جنۍ پسي می کتلي، همغه ورځ د تلو څخه مخکي مي معلم صیب ته وویل( د اطرافي پدی خبرو د حیرت څخه هک حیرانه شوم! بابا ته یي ویلی؟ څه یي ویلی؟ غوښتل مي د هغه د غیږی څخه جلا شم او دا پوښتنه ورڅخه وکړم خو هغه کلک خپل په سینې پوری ونیولم او د لرې کیدو اجازه یي رانکړل او په کراره غږ یي وویل :

جهان خان- معلم صیب ته مي وویل ستا په لور مئین سوم !
)د هغه پدی خبره خوله مي د حیرت څخه خلاصه پاتي شوه، دا نو څنګه انسان دی؟ د هغه د سینې په کرار پورته ښکته کیدو پوه شوم چې خاندی، او بیا د هغه د خندا څخه نیولي غږ چي ویي ویل: معلم صیب هم دغسي هک حیران سو، خو ما ورته وویل زما نخوشیژی خبره کش راکش کم دغې چل دی ستاسو څه خوشه ده؟

په بیحده تندې او هیجان منتظره وم چې وآورم بابا ورته څه ویلي؟ چي دا ځل هغه لړ په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: ستا بابا هم ناځواني ونکړل هغه دقه یي رد کړم!.

د هغه پدی خبره مې خندا راغله، هغه په یو خاص انداز دا خبری ویل، زما په خندا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په کراره وویل: جــار د خندا څخه دی.

د هغه پدی مینه ناکه لهجه خپل شونډه مې وچیچل او منتظر پاتې شوم چې هغه خپل خبره پوره کړی چې څنګه یې بیا بابا راضي کړی چې د انکار وروسته ورته" هو " ووایې؟ خو هغه په کرار، کرار زما په ویښتیانو کې لاس وهو او خاموش وو چې مجبور په بی طاقته توګه مې پوښتنه وکړل: بیا څنګه مو زما پلار راضي کړو؟

زما پدی خبره هغه یو څه خاموش څو بیا یې وویل: بس نو ما ته هم جهان خان وایې داسې مې ستا په پلار تعویذونه وکړل چې راضي سو( دا خبره یې وکړل او په خندا شو د هغه پدی خبره زما خندا هم راغله او کرار مې وخندل چې هغه په یو خمار لهجه وویل: اوس مهم دا نده چې ستا پلار څنګه راضي سو؟ مهم دا خبره ده چې ته څنګه راضي کیږی؟ امممم؟

د هغه پدی خبره خپل شونډه مې وچیچل او په کراره مې وویل: د پلار او کورنې په خبری کومې جنۍ انکار کړی چې زه یې دویمې اوسیږم؟
جهان خان- امممم خو ماته ستا رضایت مهم دې، زه تازه اتلس کلن بی تاب ځوان نه یم چې بیخې صبر ونلرم، خو باور وکه اول وار دی زه داسی بې تابه او خمار یم، خو تر هغه وخت چې ستا رضایت او خوشه نه ویې زه به په سل مذهبو او خبرو ځان کنټرول کړم او تاته به وعده درکړم چې ستا د خوشې او رضایت بغیر هیس کار به نکوم، خو راته ووایه سنګه راضي کیږی؟ سونې وخت کې؟ چې زه خپل دی ناکراره زړه ته تسلې ورکړم؟امممم؟

- د هغه په خبرو د شرم څخه تکه سره شوم، او د نیلوفر خبری مې یاد ته راغله چې راته ویلې وه " ډیر سم سړی دی چې دومره درته صبر یې کړی، اوس وقت هلکان پردیو جنکیانو ته د صبریدو ندی، هغه وخت ده خپل قانونې او شرعې ښځې ته څه ندی ویلی! نو یواځې د یو خبری ښکارندویه ده! هغه دا چې ته ورته ګرانه یې او درته احترام لری ".د نیلوفر خبرې او اوس بیا د ده خبری زه و دی خبری ته یقنې کړم چې شاید زه وربانډی مئینه وه نه اوسیږم، شاید زړه مې ورسره رضا نه ویې،

خو د دی ټول خبرو با وجود همدغه اطرافې زما خاوند دی، او د عمر تر پایه به همدی اوسیږی که زه وغواړم او کنه؟ پدی فکرونو خپل د مقابلې د سنګر څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رابښکته شوم او خپل ځان مې د هغه اطرافي خواهش او غوښتنې ته تسلیم کړو....

جهان خان- څه سوی؟ ولې نه ویده کیژی؟

د هغه په خبره مې ورکتل او د" نه "پشان مې ورته سر وخوځه ویې او پداسې حال کې چې کوښښ مې کوي د هغه سترګو ته د شرم او حیا له لاسه ونګورم په کراره مې وویل: هیس ندی شوې که کار مو شوې ویې نو پرېږدی زه لاړشم.

زما پدی خبره یو دم د هغه د لاس حرکت زما پر ملا و دریدو، او څو ثانې هیس خبره یې ونکړل خو ناساپه زه یې په زوره خپل خواته کش کړم داسې چې پوره د هغه په سینې راغلم او د هغه قهرجنې سترګې مې ولیده پداسې حال کې چې غاښونه یې یو پر بل کلک موښل په قهرجنه لهجه وویل: شکر وباسه چې حال مې شه دی او ستا دا خبره نا آوریدلې نیسم، کنې خداې په سر شاهد یو غاش مې درته خوله کې نه پاتې کوی.

د هغه پدی خبره زما سترګې د اوښکو ډکې شوې چې هغه د ځایه پاسیدو او زه یې د ځان څخه لری کړم، پداسې حال کې چې خپل د کالو پورته خوشې شوې تنې ترل په غوسه یې زما خواته مخ کړو او ویې ویل: دونې بیعقله یې چې خپل د خبرو په معنا لا نه پوهیژی، ته کومه د منډی بازار فاحــ( خبره یې پوره نکړل او دهغه لځایه په کلک یې یو استغفرالله وویل او خپل د سر ویښتیان یې په موټ کې راکش کړل او ویې ویل: ته کومه بیګانه جنی یا زما د خواهشاتو د رفع کولو لپاره زما نفری او یاره نه یې چې زما د خواهش سړیدو وروسته زه دی ایله کم..

ته زما شزه یې شزه( دا لفظ یې دومره په کلکه وویل چې زه وویریدم هسې نه غږ یې د ادی او بابا کوټې ته تللې ویې! د ډیر قهر او غوسې څخه یې د مغزی او سر رګونه راوتې وه غټ،غټ نفس یې اخیستو او ما یواځې کمپل په ځان راکش کړی و او پداسې حال کې چې دوه سترګې مې د کمپل څخه معلوم وه په زار،زار مې ژړل

په غوسه باندې زما څخه مخ اړولې لری ناست وو، نه ما کومه خبره کول نه هغه، خپل په کړی خبری پښیمانه وم او اوس تازه پوه شوم چې څومره غلطه خبره مې ورته کړی وه، هغه حق درلود چې په غوسه شې نه پوهیدم څه ورته ووایم چې یوڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



آرام شي؟ نه مي غوښتل داسي بد حال کې وګورم په همدی خاطر لږ د هغه خواته نږدی شوم او پداسي حال کې چې خپل زړه څخه مي د فیل زړه جوړه ویې د هغه په لاس مي لاس کیخود.

زما پدی کار هغه لږ خپل سر زما خواته راکوږ کړو چې ما د اوښکو څخه په ډک سترګو او ژړغوني لهجه وویل: بخښنه غواړم. زما مطلب هغه نه و ما.. ما.. یواځې غوښتل لږ ستاسو څخه لرې شم نه پوهیږم ولې بد احساس مي دهغه کار څخه وروسته درلود.

دا خبری مي په یو سل زحمتو وکړل او ژړا ته مي شروع ورکړل چې هغه زما خواته راوګرځیدو او پداسي حال کې چې زه یې خپل غیږ خواته رابللم په خفه لهجه یې وویل: نو څه درته ووایم؟ کوچني یې کله ناکله داسي خبری کوې چې انسان هک حیران سي چې دانو څه دې؟

د هغه په خبرو مي ژړا نور هم زیات شوه ځان راته یو ختا کار ماشومه ښکاریده، چې د یو غلط کار وروسته یې اوس پلار رټې او دا ورته ژاړې، ښه شیبه مي دهغه غیږی کې وژړل او هغه راته په مینه باندی خبری وکړل تر دی چې آرامه شوم کله چې ژړا مي ختمه شوه، هغه زما سر خپل د سیني څخه پورته کړو او په کراره یې وویل :

جهان خان: زحمت هم درکوم خو نیم ساعت د سهار آذانو ته پاتې لږ وبه به ماته رانوړی چې زه یو حمام وکړم؟

د هغه پدی خبره په شرم او خجالت مي سر ښکته واچوي او په کراره مي سمده وویل چې هغه په بیحده میني زما تندی ښکل کړو او ویې ویل: شابه نو زه منتظر یم درته.

لځایه پورته شوم او د کوټې دروازی خواته تلم چې هغه راباندی غږ کړو: پوړنې( ټکری) دي په سر که او..( خاموشه شو چې ما تازه خپل ځان ته پام شو او په شرم مي خپل کالي سم کړه او ټکری مي په سر راکش کړو او په تلوار د کوټې څخه ووتلم نن شپه د ډیر شرم له لاسه ما لس کیلو وزن کم کړو پدی فکر مي شونډه وچیچل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړم ترڅو جهان ته د حمام کولو لپاره اوبه تیارې کړم.

د هینداري مخکې ولاړه وم او ځانته مې کتل ټول ستوني مې ټپي،ټپي او شین وو؟ په غوسه مې خپل ټکرۍ وربانديی را تاو کړو، دا ټول د هغه وحشي اطرافي له لاسه پرون ماښام یې داسې کړو! نن ټوله ورځ د ادی او د بابا د نظرونو څخه داسې لرې لرې ګرځم د ډیر شرم څخه، او یو دقه مې لا ټکرۍ د سر او ستوني څخه لرې نکړو!

- په غوسه مې د ژبې لاندې هغه ته بد رد ویل چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او ادی ناری کړل راته.

ادی- جهان زوی حویلي کې درته په تمه دی زر کوه بیچاره دی په پښنو سترې کړو.
-سمه ده درغلم.

ادی په افسوس سر راته وخوځه ویې او دروازه یې بنده کړه، په تلوار مې خپل حجاب واغوستو، د اطرافي سره تلم بازار ته ترڅو هغه راته موبایل واخلي پدی فکر بیحده په خوشحالي مې ځان تیار کړو او زر د حویلي خواته ولاړم او د کور څخه د وتو مخکې مې ادی ته چې په آشپزخانه کې لګیا وه وویل: ادی زه لاړم

ادی- ورځه خو زر راشې بیا.
-سمده.

په خوشحالي د کور څخه ووتلم چې اطرافي مې د هغه د لوکس موټر څنګ کې د موبایل سر د خبرو په حال ولیدو د خبرو په حال یې ماته فکر شو او د پښنو د نوک څخه یې د سر تر وینښتیانو چک کړم او تندی تروش شو! پداسې حال کې چې زما خواته راروان و موبایل شا کس ته یې یو څه وویل او موبایل یې جیب کی کیخود.

جهان خان- دا نو څنګه حجاب دی؟
په حیرت مې خپل حجاب ته وکتل یو دم صحیح وو په ګنګسه لهجه مې وویل: سم دی خو؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په خبرې د هغه تندی تروش شو او په غوسه یې وویل: دا سم دی؟ وګوره حجاب دی سومره تنګ دی ټول بدن غړی دی جلا،جلا ورڅخه ښکاری!
په خلاصو سترګو د حیرت مې یو ځل بیا خپل حجاب ته وکتو او کوم مشکل راته پکې معلوم نشو؟ چې هغه دا ځل په بیحده غوسه وویل: دست کشې دی کومه دی؟

د هغه پدی خبره په حیرت می وویل: دست کشې څه وکړم لوښې خو نه مینځم چې لاس کې کړم؟
جهان خان د ډیر غوسې او غضب څخه یې خپل به ګیره لاس تیر کړو او څو ځله یې استغفرالله وویل بیا پداسې حال کې چې زما لاس یې لاس کې نیو ویې ویل: د لاس هغه خانه خراب تور دست کشې درته یادوم چې د حجاب سره ښځې لاس کې کوی.

د هغه پدی خبره تازه د هغه د خبرو په معنا پوه شوم او په غوسه و طعنه مې وویل : ښځګه خوښه دی ده یو تور چشمکې هم په سترګو کړم چې سوک مې سترګې ونه وینې؟
جهان خان- رشتیا وایې؟ دا رکم چشمکې لرې؟
د هغه پدی خبره د غوسې څخه په انفجار شوم او په غوسه مې وویل: ښځګه خوښه دی ده چادرې(بورقه) به په سر کړم؟
جهان خان - اخ اخ جاار دی سم، دغه کار که وکې نو د زړه توټه یې.

د هغه پدی خبره بیرته د کور خوا ته روانشوم چې هغه نارې کړل.
جهان خان- چیری چیری؟
په غوسه مې ورته وویل: زه ستا سره هیڅ ځای نه ځم.

دروازی ته رسیدلې وم چې هغه د شالخوا ونیولم او په کراره یې وویل: صحیح دی زه نور شئ نه وایم خو دغه حجاب دی...

په غوسه مې ورته وویل: پخدای قسم یوځل بیا زما د حجاب په اړه خبره وکړې نو نه ځم درسره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما پدی خبره جهان په بې حوصلګۍ خپل ګیره کې لاس تیر کړو او ویې ویل: زه صحیح دی نور چشي نه وایم رازه موټر کې شینه(کینه) خلک تیریژی را تیریژی بده ده.

په نه زړه او خفه انداز موټر ته پورته شوم، چې جهان هم کیناستو او موټر یې روښانه کړو خو د هغه تندی هم تروش وو؟! د هغه په خفه اندازه یو ځل بیا مې خپل کالو ته وکتل خو دومره چې ده ویل هغومره مې حجاب خراب نه وو؟ بیا نه پوهیږم ولې دی دومره په غوسه شو؟ په هغه لوکس موټر کې یو سندره لا نه وه چالانده کړی؟ اطرافي دې نو څه ووایم!!؟

دوه دری ځاي موټر به یې و دره ویې خو بیا به یې په تروش تندی سر وخوځه ویې او روان به شو اخیر مجبوره پوښتنه مې وکړل: کوم ځاي څخه چې تیر شوی هغه د کابل غټ ترینه مال دی د موبایلو؟
زما په خبری هغه مخ راواړه وو او ویې ویل: پوهیژم خو هغلته بیخي ډیر پتلوني هلکان وه خوش مې نسو.

د هغه پدی خبره هم خندا راغله او هم زور یې راکړو په طعنه مې وویل: فساد په پتلونیانو کې ندې په لنګوټیانو کیدی .
زما پدې خبره هغه په لوړ غږ په خندا شو او پداسې حال کې چې یو نیم نظر یې ماته کو ویې ویل: لنګوټیانو په تا څه کړی چې داسې بد یې وایې؟
-پتلونیانو په تا څه کړی چې بد یې وایې؟

زما پدی حاضر جوابې باندې د هغه په خوله مسکا راغله او کرار یې وویل: ژبه نده نو دری متره ده کم رانسې یو وخت.

جواب مې ورنکړو چې د دومره تلو وروسته اطرافي صیب یو دوکان خپل د تلو لایق وبلو او موټر یې و دره ویې د موټر دره ولو سره ما غوښتل ښکته شم خو هغه منع کړم او ویې ویل: ته لږ صبر سه.

دا یې وویل او خپل د موټر څخه ښکته شو د موټر څخه راتاو شو او زما دخوا دروازه یې خلاصه کړه! د هغه پدی کار ما داسې فکر وکو چې کوم هندی فلم کې یم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندی فلمو کې سرېيان ښځو ته د موټر دروازه خلاصه ویي او ځوکې ورته سمه وی! ماته همغسې جنټلمين معلوم شو او په نهايت خوشحالې د موټر څخه ښکته شوم چې د اطرافې په کار خوشحالي مې وپریده!

زما د را ښکته کیدو سره سم هغه خپل په ځان تاو کړی غټ پټو پر ما وپیچې او زما د غوږ څنګ ته یې وويل: که د خاشې اندازه هم ماته احترام لرې نو دغه پټو د ځان څخه مه لرې کوه.

- د هغه پدی خبره او کار هک حيرانه شوم او په دوه لارو کې بنده وم! چې هغه زما لاس خپل لاس کې ونيو او د دوکان خواته په حرکت شو، کله چې دوکان ته ننوتو يو د عمر پوخ سړی زموږ د ښه راغلاست لپاره راغو او د جهان سزه د سترې مشې وروسته د موبايل خصوصيات وپوښتل چې سنګه موبايل يې پکار دی؟ دهغه په پوښتنې اطرافې خپل ځان زما خواته رانږدی کړو او په کراره يې وويل: کوم کمپنې موبايل دی خوشيږی؟ د هغه پدی خبره بغير د کوم فکر کولو مې وويل: آيفون!..

زما پدی خبره هغه د خندا څخه قهقهه ووهل،چی ما په شرم خپل شونده وچيچل، او لځان سره مې وويل خاوری دی په سر شه اوس وايې د موبايلو وړی آيفون غواړی ناديده! ما خپل ځان ته خپل په کړی الفاظو بد رد ویل چې د هغه غږ مې وآوريدو.

جهان خان- امممم آيفون خو شه دی! خو سيستم يې ډير سخته دی چلوې سی؟
خپل د څو دقو مخکې اشتباه د جبران لپاره مې وويل: هر موبايل چې ستاسو خوښه وې همغه واخلي.
جهان خان- يـــا نـــو تا اول وار دی پر ما يو ناز وکي او زه يې پوره نکړم؟ نه کيژی نو.

بيا يې دوکاندار ته غږ کړل او ورته د موبايل فرمايش يې ورکړو، د خلکو خبره زړه کې مې ګوډی ماته ول خو ظاهره کې بی تفاوته ولاړه وم، چې دوکاندار يو آيفون راوړو د آيفون په ليدو چې آخرين ماډل د هغه وقت وو سترګې مې د خوشحالي څخه و پړقيدي او که د خلکو او هغه اطرافې څخه شرم نه واي لکه ماشومانو پشان

هلته دوکان کې د خوشحالي څخه پورته ښکته غورځيدم! خو ځان مې کنترول کړو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ځانته مې وويل: هوسې کله چې يواځې شوې خپل د زړه بړاس وباسه اوس کراره اوسيږه. اطرافي د جيب څخه داسې نوې پيسې هغه دوکاندار ته ورکړل چې زما زړه لا درد وکو! چې دا پيسې ولې ورکړه؟ هغه موبايل زما خواته ونيو او په خندا يې وويل: واخله مبارک دی څه پخير يې زوړ کې.

په خوشحالي مې موبايل ورڅخه واخيستو او په خلاصه خوله د خندا مې وويل :سلامت اوسې مننه.
زما پدی خبره هغه وخندل او زما لاس يې ونيو او د دوکان څخه د وتلو په حال کې وويل :مننه څوک د يو بيګانه کس څخه کوي نه خپل د ميره څخه.

د موبايل په ليدو دونې خوشحاله وم چې د هغه خبرو ته مې يو تر ميان جواب ورکو موټر کې چې کينستو هغه د موټر روښانه کولو حال کې وويل: امممم زه اوس يو سم دسی بازار د کم ځای کم چې پتلونيان( بيا لږ وخندل او کرار يی وويل: او لنګوټيانې نه ويي پکښې؟( پکې)

ما د هغه د خبری جواب ورنکړو او په خوشحالي مې د ځان سره پلانونه جوړه ول چې سنګه دا آيفون د جميلې او فرشتې، مخکې پورته ښکته کړم چې د ډير زور له لاسه آور واخلې !ماته يې طعنې راکول چې په خاوند دې ګرانه نه يې او قيصه کيدی ندی؟ صبر داسې کار وکم چې سترګې مو د ډير حسادت څخه راووځی، په همدې فکرونو کې وم چې د اطرافي په پوښتنې متوجه شوم ورته.

جهان خان- چشې ته دسې پکر وړی يې؟
نه پوهيږم ولې خو ورته مې وويل: دی خبری ته فکر کوم چې سنګه خپل مو بايل خپل د خاله لورګانو او اينګور ته يې شکاره کړم چې د حسادت له لاسه زاری وچوی؟

زما د خبري په خلاصيدو د اطرافي قهقهه پورته شوه چې ما تازه فکر شو چې بيا زما مبارکې خولې کشک شکيدلې او اپلاتې مې ويلې! اطرافي ښه ډير وخندل او بيا د خندا په حال کې وويل: ولې غواړې د هغوی زاری وچوې کمه خبرې درته کړی؟ چې تا ورنه کينه ساتلې زړه کې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اطرافي په خبره په مظلوميت مې سر وخوځه ويې، چټ دهغه تندی تروش شو او ويې ويل :چشې درته ويلې؟
جواب مې ورنکړو چې هغه موټر د سړک يو کونج ته پارک کړو او زما خواته را وګرځيدو او په کلکه لهجه يې وويل: کله چې يو شئ درنه پوښتنه کوم نو چوپيږه مه!
جواب راکه، چشې درته ويلې؟

د هغه پدی خبرو سترګې مې د اوښکو ډکې شوې او نه پوهيږم ولې خو د ګيلې په توګه مې ورته وويل: هغوی ويل ته په خاوند دی ګرانه نه يې.
زما پدی خبری هغه په حيرت وويل: پرما ګرانه نه يې؟ خپل شزی سره د مينې اظهار زه بايد لاډسپيکر واخلم او اغلان وکم چې دوي پوي سې؟

په خفه لهجه مې وويل: نه هغوی ويل کندهاريانو باندی چې ښځه ګرانه وې هغې ته طلا اخلې موبايل اخلې( نور څه مې ونه ويل چې هغه په شيطنت وويل: امممم کالي اخلې کاکو اخلي اوه؟

د هغه پداسې شيطان لهجه مې نور هيس مې ونه ويل چې هغه خندا په خوله موټر روښانه کړو، نه پوهيدم چيرته روان دي خبری نکول يواځې يوڅه په فکر کې معلوميد د موټر په دريدو د موټر د ښيښې څخه مې دباندی وکتل چې غټه لوحې باندې مې سترګې ولګيده چې ليکلي وه.

"د حاجې وردک خان طلا فروشي ته ښه راغلاست"

د هغه لوحې په ليدو په حيرت د جهان خواته مې وکتل چې هغه په کراره وويل: د مينې دا رکم په پيسو اظهاره ول خو بيحده آسانه ده، راځه زه تاته نن ثابته کړم.

- هر سومره چې ومې ويل نه ضرورت نشته هغه زما يو خبره لا وانه وريده او په زوره يې لځان سره طلا فروشي ته ننويستم، ډير غټ دوکانو وو سر او بر يې نه معلوميدو جهان لکه چې د دوکان مالک پيژندو چې د دوکان شاګرد په زغاستو د دوکان څخه ووت او څو دقې وروسته يو د عمر پوخ سړی چې سپين جوړه جامي اغستوې وه او يو لاس کې تسبيح وه دوکان ته راننوت او د جهان سره يې په صميمې انداز سترې مشې وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه سړی چې زما خواته وکتل نو جهان په دوه لفظو کې زه ورته معرفي کړم" شزه مې ده "او تمام هغه سړی چې نوم يې حاجي نسيم وو ډير محترمانه الفاظو باندی زما سره سترې مشي وکړل او خپله شخصاً د راغلي تازه طلاو ډيزاينونه موږ ته ښکاره کړل، د هغه طلاو په ليدو زه پوه شوم چې د دی قيمت بيحده زيلت دی نو ځکه د انتخاب کولو څخه مې ډډ وکړل خو جهان انتخاب ډير ښايسته وو! يو جوړه غوږ والي(ګوش واره) يو نرۍ غاړه کې او يو ښايسته ګوتمې راته انتخاب او واخيستل.

پيسو په حساب زه پوه نشوم جهان د جيب راوويستي خو حاجي نسيم ورته وويل: د دی قيمت په هغه معامله کې حساب کړه او جهان يواځې وخندل او مننه ويې کړل او زما لاس نيولې د دوکان څخه را ووتلو! د تلو په حال جهان وويل:

جهان خان- زړه مې غواړی هوټل ته دی يوسم او شه داسې زبردست ډوډی درباندی وخورم، خو دا د کابل هوټلو ته چې ګورم نر او ښزی يو ځای شيني او ډوډی خوری، وايم بهتره به ويې ډوډی واخلو کور کې يواځې ستا کوټه کې وخورو، سنګه؟ هم به ديدن وکړو او هم به ډوډی په کراره وخورو؟

د هغه جواب کې يواځې ستا چې هر څنګه خوښه ويې وويل او موټر کې کيناستم، جهان د يو هوټل څنګ ته موټر و دره ويې او څو خوراکه کباب او قابلي واخيسته او د کور خوا ته روان شو، ما چې خپل موبايل ته کتل بيا مې خپل طلاو ته کتل د خوشحالي پوه نشوم څنګه تر کوره ورسيدم، همدا چې موټر و دريدو په تلوار بغير لدی چې د جهان خواته وګورم پوښتنه وکړم يا کورته يې دغوت کړم د کور خواته ولاړم.

ادی آشپزخانه کې موښتي وه زما په ليدو چې داسې خوشحاله يم بغير د کوم شئ د يلو او خودلو هغه هم خوشحاله شوه او خندل يې، کله چې ورته موبايل او طلا وخودل خوشحاله شوه خو ويې ويل: خدای دی خوشحاله لره هميشه، خو لورکۍ مينه او خوشحالي پدی څيزونو کې نده نو دومره ورته شوق مه کوه، اصلي خوشحالي د ميره په محبت او مينه کې ويې، د ادی خبره مې دومره په غوږ ونه نيول او به خوشحاله باندی خپل پر موبايل ليګا شوم، چې د ادی غږ راتلو په دهليز کې د جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره

خبرې کول او ورته ویل یې ولې دې ځان په زحمت کړو؟ ما ډوډۍ تیاره کړې وه، او د جهان غږ چې ویل یې:کومه خبره نده بې بې حاجې څه زحمت. د هغوی خبرو ته مې توجه ونکړل او خپل پر موبایل لګیا شوم چې ادی بیا آشپزخاني ته راغله دا ځل د جهان د اخیستل شوې خوراکي څیزونو سره هغه یې قابونه کې اچول او ماته یې خبرې کول ترڅو لاړشم خپل حجاب وباسم او وګورم جهان خو کوم شي نغواړی؟ دومره یې ویل چې په نه زړه مې خپل د موبایل څخه زړه و شکو او د کوټې خواته روانه شوم.

دروازه مې چې خلاصه کړه جهان مې خپل د آریشي څیزونو سره د هینداری څنګ ته ولیدو، د هغه په لاس کې..د هغه په لاس کې.. چې کوم څیز وو د هغه په لیدو رنګ مې یو دم وپړیدي او ټول انرژی مې صفر شوه احساس مې کوی چې نور خپل په پښو نشم دریدلي جهان زما خواته راوکتل او په تروش تندی وویل: دا پایزیب ستا دی؟ تا خپله ځانته اخیستي؟

د هغه پدی خبرې نه پوهیږم څنګه مې خپل ځان راټول کړو او په لړزانده غږ مې وویل :ه...و...هو.. زم..ا زما. دی ما خپله ځانته اخیستي.
زما پدی رکم لهجه د حیرت څخه د جهان وریځې پورته شوې او په مشکوکه انداز یې وویل :ولې داسې رنګ دی پریدلي شه خو یې؟

په تلوار مې وویل: هو هو بښه یم هغه سترې شوم ځکه داسې رنګ مې پریدلي.
زما پدی خبرې جهان هغه لعنتي منحوس د حسیب راوړی پایزیب بیرته هملته کیخود او زما خواته راغي زما لاس یې ونیو او پداسې حال کې چې نالي باندې کینولم ویې ویل: رشتیا وایې ته نو کله پدی دوني تګ او ګرځیدو عادت یې زما فکر نسو سترې مې کړی.

د هغه پدی دومره مهربانه او مینه ناکه لهجه ځانته شرمنده شوم چې دروغ مې ورته وویل خو بله چاره نه وه که یواځې لږ شک یې کړی وایې چې دا پایزیب ماته کوم هلک راوړی زاره یې چودل، پدی څو ورځو کې مې پیژندلي وو چې سومره پدی خبرو حساس دی او کرکه لري د دی الفاظو څخه. جهان پداسې حال کې چې زما د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر څخه ټيکرى لرى کو کرار يې وويل:

جهان خان- که خپه کيژى نه نو هغه پايزيب وغورځه وه.
د هغه پدى خبره بيحده وويريدلم خو کرار مې وويل: ولې؟
جهان خان- نه پوهيژم د هغه په ليدو بد احساس مې پيدا کې، دا رکم ډيزاين پايزيب زياتره هغه ډم انجونې په پښو کوى، زه ستا لپاره يو دانه ساده راوړم صحيح دى؟
په کراره مې سمه ده وويل چې جهان په خوشحالې زما تندى ښکل کړو، او ويې ويل:

- جهان خان- اپرين هوشيار انجلۍ هميشه دغسې زما خبره منه، زه ستا بد هيڅکله نغواړم پوه سوې؟

د سر په خوځه ولو مې ورته" هو "وويل تراوسه مې لاس او پښې د زيات ويريې څخه لړزيده او جهان فکر کو زما فشار ښکته شوې د سټريا له لاسه؟!

ډوډى وقت کې ما غوښتل د باندى دهليز ته لاړشم خو ادى په زوره ډوډى په لاس راکړل چې خپل د خاوند سره يې کوټه کې وخوره، زه هم مجبوره بيرته د هغه څنګ ته ولاړم، د ډوډى وقت کې جهان دومره زما په ډوډى خوړو نيوکه وکړه دومره يې وويل چې ولې د ماشومانو پشان کوچنې ګولې اخلې؟ ولې يوه دوه ګولې اضافه نخورى او خلاصه دومره ډير خبرى وکړل چې هيس پوه نشوم څه مې وخوړل؟

جهان خان- اممم خوله خلاصه که دا آخرى ګوله زما لپاره وخوره باره بس.
د هغه دى خبرو ته مې نوره ژړا راغلې وه په غوسه مې وويل: دا شپږشپيتمه ګوله ده چې ته واې اخرى؟!
زما په خبرى جهان په خندا شو او ويې ويل: يا دا آخرى ده آخرى آخرى. آاا خوله خلاصه که!
به مجبورى مې خوله خلاصه کړه او هغه خپل په لاس آخرى ګوله هم راکړل، او بيا داسې خوشحال شو لکه چې دا ټول قاب ډوډى ده خوړلې وى؟

-تاسو ډوډى ونخوړل؟
جهان خان- اممم ستا ډوډى خوړل مې وليده موړ سوم، خو که خپل په لاس يو ګوله راکې نه ورته نه وايم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه پدی خبره خپل د کړی خبری څخه پښیمانه شوم، ماته چا ویل وربانډی د ډوډی ست وکړه؟ خو بده وه هغه دومره په محبت ماته یو یو ګوله ډوډی راکړل او اوس دی زه یو ګوله ورنکړم؟!

په نه زړه مې لږ وچ ډوډی کې کباب وپیچو او د هغه د خولې خواته مې ویوړ چې هغه د ګولې خوړلو سره زما ګوته د دی څخه مخکې چې زه کش کړم په غاښ کړه او زما په" وی "په قهقه وخندل..

پایزیب مې خپل مخ ته نیولې وو، او دی خبرې ته مې فکر کوې چې ما ولې هغه ورځ چې حسیب بلاک کړو ولې هغه شپه مې دهغه منحوس راستولې څېزونه لرې ختا نکړل؟ جهان د ماذدیګر لمونځ لپاره تللې و مسجد ته او زه کوټه کې یواځې وم، په ځیر، ځیر مې هغه پایزیب ته کتل هغه شپه مې یاد ته راغله چې حسیب زموږ د کور مخکې دشپې په دوه بجو راغلې و او ماته یې د امتحان پوښتنې راوړی وه او قول یې راکړی و چې د بل شپه به راته پایزیب راوړی!

او خپل قول یې وفا هم کړی وه او ماته یې پر بله شپه پایزیب هم راوړو، اوس هم کله ناکله فکر کوم چې څنګه هغه حسیب چې ماته یې د آسمان څخه د ستور راوړو وعدی کول په ظرف ده یو ساعت کې بدل شو؟ څنګه هغه دومره ښایسته توګه باندی ماته چل راکړو؟ او څنګه زه دومره بیعقل شوم چې دهغه د ستور درته راوړم، او سپوږمې درته نیمه وم په دروغجن الفاظو ختا وتم؟

داسې د هغه پایزیب په لیدو باندی د پخوا وقت ته تللې وم چې د کوټې د دروازې د خلاصیدو غږ او د جهان راتلو ته هیس بام مې نشو د هغه په ناسابې غو مې یو " وی "وویل او خپل په زړه مې د ویرې لاس کیخودو چې هغه په مشکوکه انداز وویل :چشې ته دسی فکر وړی ویې چې زما په راتلو خبره نسوې؟

په بند بند لهجه مې وویل: ه.. هغه هیس.
جهان خان- هیس؟ امممم؟

کله چې د هغه مشکوک نظر زما د لاسو خواته راغلو په تلوار مې پایزیب خپل شاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټ کړو خو ډیر ناوخته وه ځکه د هغه فکر شو ورته او پداسې حال کې چې خپل یو وریځ یې پورته کول ویې ویل: عجب! دا تراوسه تا لرې ندی ختا کړی؟
-ختا کوم یې همدغه مې راخیستي و چې ویسم یو ځای ختا کړم.
جهان خان- امممم ته ماته راکه.
-ته یې څه کوی؟
جهان خان- هیس ستا کار دربانديې آسانه کوم سبا چې تلم د ځان سره یې وړم او د شهر زباله داني کې درته ختا کوم.

غوښتل مې ورته" نه "ووایم خو هغه خپل لاس راوړاندې کړو ترڅو پایزیپ ورکړم! زړه مې نغوښتل چې ور یې کړم خو که ورکړي مې نه وای هغه نور هم شکي کیدو چې ضرور کوم راز دي پدی پایزیپ کې!؟ نو ځکه په نه زړه مې د هغه لاس کې کیخود چې هغه په لاس کې پورته ښکته کړو، او اخیره کې خپل جیب کې واچو او پداسې حال کې چې زه یې خپل غیږی ته کشه ولم ویې ویل:

جهان خان- سبا روان یم ځم.
نه پوهیږم ولې خو د هغه پدی خبره مې زړه خفه شو او پوښتنه مې وکړل :چیرته؟
جهان خان- کورته دا دوه ورځې کیژی دیخوا راغلي یم ټول کارونه دغسې بی نظم پاتې باید ولاړسم سم یې کړم.

یو اهوم مې وویل او نور کومه خبره مې ونکړه چې هغه پداسې حال کې چې په طاقچه کې کینستي زه یې خپل په پینو لکه یو ماشومې پشان کینولم او خپل سر یې زما پر اوږه کیخودو او په کراره لهجه یې وویل: پوښتنه نکوی بیا کله راځم کابل ته؟

د هغه پدی خبره مې وویل: اهوم نو ستا زړه دی خو.
جهان خان- زما زړه که وایي یا نه تلم یا که تللي وایې ته مې لځان سره وړی.
-ما د اطرافو ښځه بد راځي زه د کابل ښځه نه ځم.
جهان خان- امممم د اطرافو ښځه دی بد راځي که د هغه د خلکو ښځه؟
-و مې ویل کنه د اطراف! نه اطرافیان خلک.
جهان خان- امهمم ولې دی بد راځي؟
-همداسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- جهان خان- دا خو نه درسره منم څکه ضرور یو دلیل یا خبره لری دغسې وچ میدان کي چا د چا ښځه بد راځې؟

-بس نو زما بد راځي.
جهان خان- عجیبه ده.
څه مې ورته ونه ویل چې هغه پداسې حال کې چې خپل ګیره یې زما په مخ موښل ویې ویل :کوچنیان ښنګه؟ ځو کوچنیان دی خوشیژی؟
په دروغو مې ورته وویل: کوچنیان مې هم نه خوښیږی.
جهان خان- نه نو، دا نو نکیژی زه کوچنیان غواړم.

د هغه پدی خبره مې په غوسه وویل: نور نو څه کوی یو دانه زوی لري خپل د معشوقي ښځه.
نه پوهیږم ولې مې دا خبری ورته وکړل، خو ناساپه یې زور راکړی وو، زما پدی خبره هغه زما مخ خپل خواته وګرځه ویې او په حیرت یې وویل: معشوقه بیا له کوم خوا شوه؟ ما هغه خدای بخښلي د واده په شبه ولیده چي سنګه ده؟

په غوسه مې وویل- که پر هغې مئین نه واي نو د هغې د مړه کیدو وروسته دي واده کو، نه دا چي اته نهه کال واده ونکړی او ځانته زجر ورکړی.

زما پدی خبرو هغه په لوړ غږ وخندل او پداسې حال کې چې خپل تندی زما د تندی سره لګوی او نفس یې زما په مخ لکیدو ویې ویل: د چا سره بخیلي کوی؟ هاا؟
په غوسه مې وویل: زه د چا سره بخیلی نکوم یواځی حقیقت مې وویل.

هغه په خندا وویل: ته وروایه شدی توریې دی موژ هم وایو په قسم چې توریې دی!
هغه دا خبره وکړل او په خندا شو خو ما ورځخه ځان لرې کړو او د کوټې دروازی خواته د تلو په حال مې ورته وویل: دا دوه ورځې کیږی چې راغلي یاست یو ځل لا د بابا سره مو مجلس ندی کړی، هغه به څه وایي؟ بده ده.

جهان خان- څه به وایی؟ سړی د خسر کورته خپل د ښزی لپاره شپه کوی نه د خسر دپاره.
د شرم څخه مې سر ښکته واچوي او کرار مې وویل: بیا هم ښه خبره نده پر هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم يو پوښتنه کوی.
جهان خان- اممم نو صحيح دی ته چې وايې نو دغسې به وکم، کمه دی دا زما خسر جان؟

هغه دا خبره وکړل او په خندا زما خواته راغي او د دی ښځه مخکې چې د کوټې ښځه ووځې په شيطنت باندی زما ويښته لږ کش کړه، او کله چې زما د چغو آواز پورته شو په خندا له کوټې ښځه ووتې، د شپې تر نيمايې پورې جهان د بابا سره ناست وو او مجلس يې کو، زما خوب راغلې وو نو ځکه کوټې ته ولاړم چې ويده شم او همدا چې سر مې بالښت ته ورسيدې ويده شوې وم، سهار د جهان په غږ چې ماته يې ناری وهل د خوب پاسيدم.

جهان خان- ولاړسه اودس او مونځ دی وکه زه هم روان يم ځم.

د هغه د تلو په خبره نه پوهيږم ولې زړه مې خپه شو خو څه مې ونه ويل، د هغه د څهرې ښځه داسی معلوميدل لکه چې هغه دي مونځ کړی ويې؟ نو ځکه مې پوښتنه ورباندی ونکړل او اودس لپاره د باندی ووتلم، د اوس کولو وروسته چې بيرته کوټې ته د لمانځه لپاره راغلم نو هغه مې همداسې ناست په ځای کې وليدو، نو ځکه مې ورښځه پوښتنه وکړل:

جهان- همدا اوس روان ياست؟
زما په خبری هغه راوکتل او په کراره يې وويل: هو ته دی مونځ وکه زه دی د لمانځه په حال ووينم دغه آرمان مې پوره سې بيا نو ځم.

د هغه په خبری د شرم ښځه تکه سره شوم خو څه مې ونه ويل او پر لمانځه و دريدم، نه پوهيږم لمونځ به مې صحيح کړی ويې که غلط د هغه د دروند نظر لاندی مونځ کول راته بيحده مشکل وو، کله چې هغه غلط صحيح مونځ مې خلاص کړو او سلام مې وګيرځه ويې جهان مې خپل په ننداری وليد چې په ځير، ځير يې راکتل د دعا په حال کې راته وويل:

جهان خان- ما ته هم دعا وکه شه؟
سر مې د سمه ده پشان ورته وخوځه ويې او دعا مې وکړل، د جای نماز قات کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حال جهان خپل لځايه پاسيدو، خپل پکول يې په سر کړو او پداسې حال کې چې خپل پټو يې په ځان پيچي زما خواته راغې.

جهان خان- ستا د بالښت سر ته مې يو څه پيسې درته پاتې کړې چې کوم شي دې پکار وو ځانته واخلې، زه شايد يو مياشت پورې نور ديخوا رانشم، نو په ځان پام کوه صحيح دی؟

بيا مې هم د خبرو لځايه ورته سر وخوځه ويې چې هغه زما تندی ښکل کړو او ويې ويل :يواځې ځانته خيال ساته زنګ وهم جواب راکوه، پر ما باندی به بابای نکوی پوه شوی؟ هسی نه يو قدم لری شم بيا همغه اولې جنۍ شي؟

د هغه پدی خبره په غوسه مې وويل تا نو کله زنګ وهلی چې ما جواب ندی درکړی؟
جهان خان- امممم د کار د کيدو مخکې مې درته ګواښ وکو چې فکر دې وساتې ما بيحده بد راځي چې يو سوک دی زما د زنګو او مسجو جواب رانکړی.

هغه شايد نيم ساعت خپل وصيتونه او نصيحتونه راته وکړل او هوا د روښانه کيدو حال کې وه چې روان شو، د هغه د تلو وروسته بيرته خپل ځای ته راغلم خو نور خوب ن راتلو نه پوهيږم ولی زړه مې تنګ وو او غوښتل مې وژاړم، د هغه خالي ځای بيخی راباندی بد لګيدو نو پاسيدم او ټول مې کړو، خو بيا هم وضعيت مې ښه نشو،

داسې احساس مې کوي چې د هغه د عطرو بوی زما ټول کوټه ډکه کړی، نفس مې نشو اخيستې مجور د کوټې څخه ووتلم او د باندی حويلي کې بی اړايی مې قدم وهل شروع کړه يو څه چې وګرځيدم يخ مې وشو او بيرته کوټې ته راغلم او خپل ځای کې پريوتم تر څو په زوره هم که کيدل ځان ويده کړم او د جهان د خالي ځای په اړه نور بيځايه فکرونه ونکړم.

• ***

کم او زيات يو مياشت زموږ د کوژدی څخه تير شوی وه، او پدی يو مياشت کې زه ما دومره د جهان د اخلاقو،رفتارو او عادتو سره بلده شوی او عادت مې کړی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې شپه مې د هغه سره د خبرو کولو بغیر نه صباح کیدل او ورځ مې بیا نه شپه کیدل' د کوټې مینځ کې ناسته وم او د جهان سره مې خبرې کول موبایل کې چې د کور دروازه وټکیده، دروازې ټکیدو ته کې توجه ونکړل ما ویل ادی شته هغه به یې خلاصه کړی خو ادی ماته ناری کړل ترڅو زه دراوزه خلاصه کړم.

په نه زړه او زر منه خبرو لځایه پاسیدم او موبایل غوږ سره نیولی د کور دروازی خواته ولاړم او خلاصه می کړه، یو کوچنې ماشوم چې د ٨ کالو معلومیدی ماته په ځیر، ځیر راوکتل او بیا یی په کرراره باندی یو کاغذ زما خواته ونیو او په منډه د د دروازی مخکې څخه لاړو، د هغه ماشوم پدی کار یو دم هک حیرانه شوم، خو خاص توجه مې ونکړل او دراوزه مې بنده کړه جهان اخوا څخه لګیا وو خبرې کول

او ما پداسې حال کې چې هغه کاغذ خلاصه وو، یو تر میان د جهان جواب ورکو د خط په خلاصیدو او په هغه کې د لیکل شوی الفاظو په لیدو، د ډیر وحشت او ویری څخه مې موبایل د لاس څخه لاندی پر ځمکه وغورځیدی خو ما بغیر لدی چې هغه ته فکر وکړم ټول فکر او ذهن مې هغه کاغذ لیک کې وو چې لیکلې وه:

)لکه چې کوژدن دی په لاره کړی یې چې د باندی نور نه وځې؟ خو په هر حال مجبور دا ځل راووځې کنه زه درځم کورته دی، دا ځل ماشوم مې درواستوی خو بل ځل زه خپله درځم نو خپله د انسان د لور پشان راشه د دی څخه مخکې چې زه کوم لیونتوب وکړم ستا لیونې حسیب(.

الفاظ مې په زرها وار په غوږونو کې تاویده، داسې احساس مې کوي چې دا الفاظ هغه راته مخامخ ویلې نه دا چې لیکلې ویې؟! نه پوهیږم څومره وقت بې ساه جسد پشان ولاړه وم چې د موبایل غږ پر خود کړم، سترګې مې وګرځول او موبایل مې لاندې پر ځمکه ولید په تلوار مې راوخیست دومره ویریدلې وم چې ومې نه کتو مات شوی کنه؟

هغه ثانیه د موبایل مات کیدل او نه مات کیدل راته د دنیا اخیری او بی ارزښت ترینه خبره ښکاریده، جهان و چې زنګ یې وهلې و لکه چې زما په ناساپه خاموش کیدو په تشویش سوی و، جواب مې ورکړو او دهغه پر لیسې پوښتنې شروع شوې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سل زحمتو مې پوی کړو چې موبایل مې دلاس څخه ختا شوی وو.

جهان خان- موبایل دی ستا بلا واخلي زه دی و بیره ولم چې خدای نکرده څه وسو ناساپه؟!

په ژړغوني غږ مې جهان ته سل بهاني راوړل چې خدای پاماني وکړو، د هغه لیک وروسته زړه کې مې د خبرو طاقت نه وو، او بیچاره جهان چې فکر کو زه د موبایل په غورځیدو او مات کیدو خفه یم وعدی راکول چې یو بل نوې راته اخلي او زه دی غمژن و نه اوسیږم، د جهان په هر مینه ناک لفظ زه هغه ته شرمنده کیدلم چې دروغ ورته وایم. خو چاره نه وه زما سره د دروغو بغیر بل هیس لاره نه وه.

په داسې زحمت مې ځان خپل تر کوټې ورسه ویې چې فکر مې کوې د دنیا سخترینه او مشکل ترینه کار مې کړی ویې، د ادی غږ راتلو چې پوښتنه یې کول چا دروازه ټکول؟ سوک وو؟ او ما ورته هیس جواب ورنکړو ټوله ورځ په همدی فکرونو کې مې تیره کړل چې اوس څه وکړم؟ څنګه حسیب خپل د دی تازه جوړ شوی دنیا څخه چې ما پکې خندل، او خوشحاله وم لرې کړم؟ څنګه؟ څنګه؟ څنګه؟

یو هفته پدی څه وکړم؟ څه وکړم؟ کې تیره شوه داسې یو هفته چې د جهان د یو زنګ جواب مې ورنکړو د هغه راستول شوې مسجونه نا ویلي په موبایل کې پراته وه، موبایل؟ دا یو هفته مې ندی لیدلی چې چیرته دی؟ شاید د کوټې یو کونج کې پروت ویې. یو هفته کې مې د دروازی په هر ټک د حسیب د راتلو ګمان وکړو، یو هفته ما ژوند ونکړو بلکې زنکدن مې تیر کړو.

یو هفته کې داسې وزن مې ناساپه کم کړو او د ډیر کمزورتیا څخه را وولیدم چې بابا او ادی و ډار شول چې هسې نه کوم نا علاجه مرضتیا نیولې یم! او ډاکټر ته د تلو ټینګار یې کو، خو زما مرضتیا د ډاکټر نه وه! زما درد حسیب و، زما درد د جهان خبریدل وه د دی خبرو څخه، زما درد د بابا هغه عزت و چې د حسیب په راتلو د خاوری سره خاوری کیدی، زما درد د خلکو هغه خبری وه چې د حسیب د بدنامي وروسته زما کورنی ته کیدل...

زما درد په یو نامرده باندی د زړه بایلو وو، زما درد یو چاره درلود؟ داسې چاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې شاید زما په تاوان وه خو د ډیرو په فایده وه!؟ زما مرګ؟ دا هغه خبره وه چې دا یو هفته کې مې لځان سره تکرار کړی وه، که زه ځان مړه کړم نه حسیب راځي چې بدنامي جوړه کړی، نه به هم جهان د خبرو څخه خبر شي او نه به هم زما د کورني عزت او ابرو ته کوم تاوان ورسیږی!

کله چې ځان مرګ ته تسلیم کړی نو هغه وقت ټول غمونه درته ناچیزه معلومیږی، ځان سره وایي زه خو روانه یم راځه دا پاتې څو ساعته خو د دی ناځوانه دنیا څخه خوند واخلم !زما زړه زما مرګ منلي او نور ویره مې نه درلود کله چې د دی دنیا څخه سترګي پټي کړم ډیر خلک به په آرام شي، د ډیرو زړونه به راباندی یخ شي، پدی فکرونو مې څو ځاڅکي اوښکي مې د سترګو

- څخه توی شول خو زر مې پاک کړل.

بس دی دومره مې وژړل دا آخری ساعتونه د عمر باید وخاندم نه ژړا؟! پدی فکر لځایه پاسیدم حمام مې وکړو ځان مې جوړه کړه خپل پریدلي رنګ مې د آرایش په سرخي کې پټه کړه په هینداره کې مې ځانته وکتل، نور د هغه هوسۍ څخه هیس نام او نشان نه و پاتې هغه هوسۍ چې د جهان په خبره دری متره ژبه درلود! جهان! د هغه د نوم په راوړلو اوښکي مې بیا په بهیدو شول، ما مینه وکړل خو په غلطه ما

عاشقي وکړل خو هم د غلط انسان سره مې وکړل او هم په غلطه لاره مې وکړل، خو دویم کس خدای زما د هدایت کولو او د ربښتنیې میني د درک کولو لپاره زما ژوند ته داخل کړو هغه هم په حلال لاره، خو زما کړی انتخاب د خدای راکړی نعمت راڅخه واخیستو، پدی فکرو ژړا مې نور هم زیاته وه، خدایه زه تا مقصر نه حسابه وم ما خپله په ځان دا حال راویستو، تا زما سره ظلم ونکړو ما خپل په انتخاب خپل پر

ځان ظلم وکړو، او هر شئ چې مې په سر راځط حق مې دی، ته ظالم نه یې ظالم موږ بندګان دی یو چې خپل پر ځان ظلم کو او بیا یې پر تا راچو او ځان ورڅخه خلاصه وو، اوښکي مې پاکي کړه او د یو هفتي وروسته د کوټې څخه ووتلم، زما پر لیدو چې کوښښ مې کوي ځان خوشحاله ښکاره کړم د ادی اوښکي توی شول، زما خواته راغله او زه یې کلکه په غیږ کې ونیولم د ادی په غیږ کې ژړا راغلي وه سم

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحيح خو کوښښ مې وکړو په ټوکو او خندا خپل او د ادی حال بدل کړم نو ځکه مې وویل:

-اهوممممم نه وم خبر چې دومره درباندې ګرانه یم ادی چې په یو مرضتیا مې راته په ژړا شې.
زما پدی خبره ادی د غیږ څخه جلا کړم څو ځله پرلپسې زما مخ ښکل کړو او د ژړا څخه په ډک غږ یې وویل: ته د مور په زړه هغه وخت خبریږی چې خبل مور شې او اولاد دې داسې کار درسره وکړی، هغه وخت زما پ زړه پوهیږی .

د ادی خبرو باندی مې خندا راغله، ادی ماته وایې چې مور شی؟ زه چې نن ماښام د دی دنیا څخه خپل بار بستره ټوله وم! ادی زه بیا غیږ کې ونیولم او د ښه شیبې وروسته یې خپل د غیږی څخه جلا کړم او په ډکو سترګو د اوښکو یې وویل: زم درته سپانده دود کوم، ستا دغه ټول مرضتیا د خلکو د ناپاکه او وړی سترګو دی، دا چې داسی کور او خاوند دې په نصیب شو خلکو نظر کړی، شاید تعویذ یې درباندی کړی ویې؟!

او خپل پدی خبره یو وی وویل او زر لاړه آشپزخاني خواته ترڅو سپانده ماته دود کړی، د ادی کارو ته مې په مینه کتل، دومره مې ورته وکتل چې ادی وویل: دسې راته مه ګوره.

-څنګه؟
ادی په ژړغوني غږ وویل: ټول هغه اوه اته زامن مې چې مړه شول، ټولو د مرګ څخه مخکې هغه شپه به یې راته دوه سترګې نیولې وه او داسې به یې راته کتل!؟

د ادی پدی خبره نظر مې ورنه واخیستو او زړه کې مې وویل، مور ده مورا! او یو مور خپل د اولاد احساس درک کولې شې هغې زما احساس درک کړی و خپل په مورنې مینه باندی، د دی لپاره چې شک ونکړی و مې خندل او په ټوکو مې وویل: وی زه ډیر آرمانونه لرم ادی! د دی وروسته غواړم واده وکړم سپین جوړه د ناوی توب کالي واغوندم، آرایش ګاه ته لاړشم، خپل په خسر ګنې ناز وکړم چې راته طلا واخلي، او ستاسو خبره تاسو ته یو څو ملسیان راوړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبرې مې کول په ظاهره په ټوکو په ظاهر د ادی د خندولو لپاره، خو دا ټول زما آرمان وو دا ټول څیزونه ما د ربښتیا غوښتل، خو افسوس چې دنیا زموږ په غوښتنو نده، تر ماښام لس یوولس بجو د بابا او ادی سره مې مجلس وکړو په خبرو، خبرو کې مې د هغوی څخه بخښنه وغوښته د بابا لاس مې ښکل کړو د ادی غیږ کې څو دقې پاتې شوم، او هغوی فکر وکړو چې مرضتیا پر ما اثر کړی او داسې مې زړه نری شوی.

خو خبر نه وه چې نن شپه د هغوی د لور د ژوند آخری شپه ده.

پدی فکرو یو ځل بیا مې ادی بابا ته ښه په ځیر، ځیر وکتل او بیا خپل کوټې ته ننوتلم، آوریدلې مې وه چې ځان وژنه په اسلام کې حرامه ده! او د هغه کس جنازه اسلام وایې مه کوې کوم کس چې ځان وژلې ویې؟ یعنې زما جنازه به لا سوک ونکړی؟ پدی فکر مې اوښکې د سترګو څخه وبهیدل، هغه نیمه شپه کې هغه یواځې کوټه کې زما او د خدای بغیر یو بل کس او موجود هم وو؟

په نوم د شیطان؟! هو ما د هغه حضور او شتون خپل شاوخوا احساس کو، پوهیدمه چې دا ټول زما منفې فکرونه د هغه وسوسه ده! خو د مقابلې توان راکې نه وو او شاید زه اولې کس اوسیږم چې د شیطان راچول شوې فکر باندی خوشحاله وم! ځان سره مې ویل زما د مرګ وروسته شاید ادی او بابا خفه شې وژاړی خو عزت یې خوندی پاتې کیږی، پدی فکرونو لځایه پاسیدم او هغه د موږکانو دوا چې نن غرمه

په سل زحمته او ستونزو مې د ادی په پټه د آشپزخانې د الماري څخه راخیستې وه راوخیستل، د هغه په پاکټ مې سترګې ولګیده د موږکانو حشراتو تصویرونه وه ورباندی !څومره وقت کې به کار وکړی؟ آیا درد هم لری؟ د نیلوفر خبره مې یاد ته راغله چې ماته یې خپل د خاله د لور قیصه کړی وه چې، د خاله لور یې خپل د کوژدن سره جنګ کړی وو او د موږکانو دوا یې خوړلې وه، ویل یې دوه ساعته

- وروسته دوا اثر کړی و او تر کله چې شفخانې ته یې رسه ولې وه ډاکټرانو معده ورته مینځلې وه خو، دوا خپل اثر پریخودلې و او جنې مړه شوه! هغه ورځ په ظاهره ما نیلوفر کراره کړه او تسلې مې ورکړل خو زړه کې مې ویل څومره بیعقل جنې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ځان يې وژلې او يو څو ډيالوګ مې هم ويشتلې وه چې هيڅکله په هيس شرايطو کې انسان بايد خپل ځان ته تاوان ونه رسه ويې، خو اوس؟ اوس زه

هغه جنې درک کولې شم شايد دهغې دقصې او داستان څخه خبره و نه اوسيږم، خو پوهيږم ضرور داسې شرايطو او حالاتو ته رسيدلې وه چې هغې ته نور ژوندې پاتيدل مناسب کار نه معلوميدو. پاکټ خوله مې خلاصه کړه چې هغه کې دننه موادو لږ بوی مې ترپوزی شو او په ټوخ يې کړم، زړه مې راته ويل يو ځل جهان ته زنګ ووهم؟ د اخرين ځل لپاره يې غږ وآورم! پدی فکرونو موبايل پسې مې ګرځم او د کړکې خواته د بالښت په سر باندی مې تر سترګو کيږی.

په لړزانده لاسونو مې راوخيستې روښانه مې کړو، د زنګونو او مسجونو د عدادو په ليدو مې اوښکې په بهيدو شول،۱۲۰۹ زنګونه راته وهل شوی وه د جهان لخوا..!او دومره مسجونه چې شمار يې د اعدادو څخه وتلې وه. لاسونه مې لړزيږی.... زړه مې درد کوی... زما پاکې مينې ... ما وبخښه... ما وبخښه چې داسې کوم خو باور وکه دا مرګ د هغه ژوند څخه ډير ارزی چې ته راته د يو ناپاکې جنۍ په نظر راوګوری.. زه دا مرګ په خلاص غيږه منم د هغه بد نامې څخه چې رانصيب کيږی..

نه پوهيږم څومره مې د هغه په نوم د زنګ وهلو لپاره فکر وکړو، خو زړه مې ويل دا د هغه په حق کې ظلم دی! که نن شپه خبری وکړم او سبا مې د مرګ خبری ورسيږی ورته هغه به سنګه ژوند وکړی؟ هغه به د زيات فکرونو او سوچونو څخه لمينځه لاړشې، پدی فکرونو موبايل مې لری ختا کړو ما تراوسه د هغه په حق کې دومره ظلم کړی چې د قيامت تر ورځې ورته شرمنده يم نور نشم اضافه کولې پکې..

هغه سپين رنګه پوډر چې ټول زهريات وه او زما د هغه دنيا ټيکټ لاس کې مې را وخيستل، که ووايم ويريدلې وم د مرګ څخه بده خبره ده؟ که ووايم لاسونه مې د مرګ په تصوير ولړزيده بده خبره ده؟ که ووايم زه ژوند غواړم خو هی افسوس پدی دومره خو ای لعنت پدی خو چې زما ټول ژوند يې برباد کړو په همدی فکرونو اوښکې مې بهيدل چې ناساپه د کوټې دروازه خلاصه شوه!..

روح مې له بدن څخه جلا شوه، ټول نړی مې په سر خرابه شوه، جهان... جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



..زما پاکه مینه! د کوټې دروازې مخکې ولاړ وو، سترګې تکې سرې ویې ما ته یې راکتل نه بوهیږم د هغه حال خراب وو که زما ده؟ د دروازي لاستې ختا کړو او په کرار او ستړی لهجه یې وویل:

جهان خان- پر ما دی یو مرګ تیر کې ..
سترګې مې د اوښکو څخه ډکې کیږی او څو څاڅکې زما په مخ راځې، چې دهغه نظر زما د سترګو څخه زما د لاسونو خواته ښکته کیږی، د هغه نظر تعقیبوم او تازه مې خپل په لاسونو کې هغه منحوس د موږکانو دوا ته مې فکر کیږی، زړه مې ناساپه د درزیدو څخه دریږی، په تلوار هغه لعنتې مواد خپل شاته پټوم، هغه څو ګامه رانږدی کیږی او ما اول ځل پدی دومره وقت کې د جهان په غږ کې لړزا او ویره ولیدل چې ویې پوښتل:

جهان خان - څه خبره ده؟
-ه...ی..هیس..
جهان خان- لا.. لاس کېدی چشې وو؟
په لړزانده غږ مې وویل: هیس پخدای چې هیس ندی.
جهان دروازه بنده کړه او په دوه غټ ګامو کې زما خواته رانږدی شو نه باید ووایم زما خواته یې حمله وکړه لکه یو زمری چې خپل د ښکار پسې جمپ اچوی، زما د لاس څخه یې هغه منحوس مواد واخیستل او رنګ یې یو دم وپریدی، شونډو رنګ یې تک سبین شو داسې لکه چې نفس اخیستلې نشې سترګو رنګ یې د ډیر سور والو څخه د وینو په رنګ بدل شوی وه،

د هغه پدی شانتې لیدو و ویریدم زړه مې درزیدو څخه و دریدی، پدی فکر چې خبر شې څه به وکړی؟ ټول بدن مې د حرکت څخه ولیدو، د هغه لاس مې خپل لاس کی ونیو او غوښتل مې هغه لعنتې پاکټ ورڅخه واخلم چې زما لاس یې په کلک ونیو دومره کلک چې احساس مې کوی د لاس هډوکې مې د مات کیدو حال کیدی.

جهان خان- وایم دا چشې دی؟
-هغه ... هغه رکم چې ته فکر کوی نده.
زما پدی خبره به لومړی ځل جهان خپل غږ پورته کړو او په لوړ لهجه یې وویل: زه څه فکر کوم؟ ها؟ ته غواړی ما مړ کې هوسې!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه پدی دردناکه لهجه مې خپل لاسونه د هغه په مخ کیخودل چې زما لاسونه یې خبل د مخ څخه لرې کړل او دواړه یې خپل په لاسونو کې ونیول، لاسونه مې دهغه په لاسو کې لړزیدل، زما مخ ته یې وکتل سم په ځیر،ځیر یې زما څهري ته وکتل او په همغه لړزانده غږ یط چې زما زړه یې په درد کو ویې ویل :

جهان خان- رشتیا راته ووایه څه خبره ده؟
-پخدای.. پخدای هغه .. هغه زما کوټه کې موږک پیدا شوی د هغه د مړ کولو لپاره مې راوړی وو..

زما په خبرو هغه په ګواښ او تنده لهجه وویل: پخدای قسم ولاړیژم دا ټول کوټه دی په سر باندی خرابه وم ماته درواغ مه وایه، هغه لعنتي مواد سوک لاس کې نه راخلي په رومي یا بل مرګ اچوی تر څو موژک(موږک) یې وخوری او مړ سي، ستا رنګ د مړی غوندی دی، ستا سترګې ماته بله خبره کوی..

- خپل لاسونه د هغه د لاسونو څخه باسم او په ژړغوني غږ وایم: په قران که ما کوم کار کړی ویې.

زما پدی خبره هغه په غوسه او قهرجنه غږ وویل: قرآن دی تا ووه...( خپل لاس یې پورته کړو د وهلو لپاره خو ناساپه یې ځان ووهې او د هر لفظ په ویل یې یو وار خپل په ځان کوی) قرآن دی ما..ما ووهی، قران دی ما بې غیرته ووهې چې شزه مې غواړي ځان وژنه وکړی، قران دی ما ووهې.

د هغه د لاسونو د نیولو کوښښ مې وکړو خو هغه زه شاته ټیل وهلم او لکه لیونیانو یې ځان سره خبری شروع کړل، کله چې زما خاموشي ولیده ډاډمن شو خپل د کړی فکر څخه چې د رښتیا ما غوښتل ځان ووژنم، او ناساپه لیوني شو، خپل لاس یې پورته کړو او ما د ځان د دفاع لپاره هیس کار ونکړو اجازه مې ورکړه زما پر وهلو خپل غوسه خالي کړی، خو هغه خپل موټ زما شاته په دیوال ووهې دومره کلک چې د هډوکو د مات کیدو غږ یې ما وآوریدو!

په وحشت او ویرې مې د هغه لاس ته کتل چې زما زنه یې کلک په لاس کې ونیول او په داسې لهجه چې زما پر وجود یې لړزه راوړل ویې ویل: ماته رشتیا ووایه کنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم درته یادوم نن شپه به سا ستا جنازه د دی کوټې څخه وځې یا زما،( بیا یې په لوړ غږ او نارو وویل:خوله خلاصه که.. ولې؟ په څه دلیل؟ چشې خبره وه؟

هیس جواب مې ورنکړو او اوښکې ویې چې پر مخ مې بهیدل، چې جهان دا ځل په نرمه لهجه پداسې حال کې چې خپل خوږ لاس یې زما پر مخ تیره و ویې ویل: رشتیا راته ووایه، رشتیا راته ووایه هوسۍ! خپل مشکل راته ووایه، که حل مې نکړی سو، نامرده د دوه عالم یم.. ته راته یو وار ووایه، ته راته ووایه جهان د آسمان څخه راته ستوری راوړه! که ما رانوړی زه دی بی غیرت او بې شرف د عالم اوسم، ته یواځې ووایه ولې؟ په څه دلیل دی غوښتې ځان مړه کړی؟ هاا؟

په دوه لارو کې بنده وم که جهان ته مې خبره نه وایې کړی حسیب راتلو او هغه بد نامې جوړه ول، هغه وقت جهان ولاکه راکتلې وایې خو اوس که د حسیب څخه مخکې زه ورته ووایم شاید درک مې کړی؟ زړه مې ویل هغه درسره بیحده مینه لری او د حسیب پشان ندی چې سخته وقت کیدی یواځې پریږدی، خو عقل مې ویل هغه جهان خان سدوزی دی! هغه کس چې اوله شپه یې درته وویل: هر کار کوی ویکړه خو زما د غیرت سره به لوبې نکوی! پدی فکرو مې بیا اوښکې پر بهیدو شول او خوله مې د یو لفظ لپاره لا خلاصه نشوه،

چې جهان په غوسه باندی خپل په ویښتیانو کې لاس کش کړو او لځایه پاسیدې پداسې حال کې چې په کوټه کې تلو راتلو تر څو آرام شې ځان سره یې کرار کرار ویل: خیرو خیرت و یو دم غضب نازل سو، موبایل یې بند کی او اوس...

خبره یې پریکړل او پداسې حال کې چې زما خواته راتلو په کراره یې وویل: ګوره زه اوس یو دم آرام او کرار یم صحیح دی؟ نه په غوسه یم نه بل شئ اصلاً فکر وکه د یو میاشت پسته زه راغلې یم ستا دیدن ته او هیس شئ مې هم ندی لیدلې، ته مې خوشحاله، خوشحاله لیدلې یې صحیح سو؟ اوس راته خپل د زړه خبره وکه هغه چې ویلې نسې؟ هغه چې خپل په هغه د میژی پشان مغزو کې پورته شته کوی، خو ما ته نه وایې.

هغه خبره راته وکه او هم خپل ځان بیغمه که هم ما راحته که، هر خبره چې ویې زه یې د آوریدو لپاره تیار یم، او قسم درته خورم چې هیس کار او خبره نکوم ته راته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وواېه چې څه خبره ده؟ چې ته يې خپل پر مرګ راضي کړی يې خو ماته نه وايې؟

د جهان هغه خراب حال ته مې وکتل او ديته مې فکر وکړو، چې بله لاره نلرم د مرګ څخه مخکې يو وار به جهان ته د زړه راز ووايم دومره ورباندی ډاډمن وم او پوهې دمه چې زما عزت نه خرابه ويې، او هر کار او خبره که وکړی ماته يې کوی او زما کورنې ته ولاکه چونګ لا وباسې، پدی خبره مې يو زړه مې سل کړو او په آرامه غږ مې ورته وويل :

-پوهنتون کې يو.. يو هلک و نل زما پسې و تل يې ويل ستا سره ( د خبرو پدی ځاې کې مې جهان خوا ته وکتل چې هغه کرار زما څنګ ته راغلو او زما اندې ته د کينستلو په حال يې سر وخوځه چې مطلب" ښه آورم "او ما پداسې حال کې چې د هغه څخه سترګې پټه ولې ومط ويل: تل يط ويل ستا سره مينه لرم،( بيا مې ورروکتل چې د هغه تندی تروش څو خو سه يې ونه ويل چې ما وويل: دومره ډير يې دا خبره وکړه تر دی چې..چې.

جهان هيس نه ويل يواځې راکتل داسې کتل چې به سترګو يې ويل "خير دی نور مه وايه راته "خو په خوله يې ويل وواېه، سر مې د شرم څخه ښکته واچوې، او بغير لدی چې ورته وګورم ټول قيصه مې وکړل، د الف څخه نيولې تر يا تر همدا اوس چې ګواښ يې راته کړی وو ټول مې په يو نفس او په ژړا مې ورته وکړل، کله چې خبری مې خلاص شوي خاموشه، خاموشې وه کرار مې سر راپورته کړو چې سترګې مې د جهان به دوه د وينو ډک سترګو کې بند پاتې شول،

- د سترګو په سپين کې د ډير غوسې څخه سره رګونه راوتې وه، لاسونه يې د ډير فشار له لاسه لړزيدل د هغه پدی حال ليدو په ويري باندې ورڅخه لرې شوم چې هغه زما د څنګ څخه پاسيدی، او د آرايش د ميز خواته په حرکت شو او ناساپه يې ټول ځيزونه ورڅخه په ځمکه ختا کړل غوسه يې د کنټرول څخه وتلې وه، د سر او غاړی رګونه يې راوتلې وه او د ډير غوسې څخه تک سور شوی وو، اول ځل وو چې ما د جهان چيغې آوريدل په لوړ غږ يې کنځل کول او هر شئ چې لاس ته راتلو مات کوي د ښيښی په مات کولو چې د لاس څخه يې وينه په بهيدو شوه لځايه پاسيدم او د هغه د نيولو په حال مې ورته زاری شروع کړل چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او بابا و ادی په ويری باندی راداخل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جهان غوسه او زما د کوټې حال هغوی هک حیران کړل، خو د دی څخه مخکې چې هغوی کومه خبره وکړی جهان په لوړ غږ د غوسې څخه وویل: د کوټې څخه ووځې زما او زما د ښځی په معامله کې توی کار نلری ولاړسي دباندی.

د هغه په خبره زما ژړا نور هم زیات شوه، ادی غوښتل یو شئ ووایې خو بابا وویل: د جهان زوی خبره صحیح ده دا د هغوی د مینځ خبره ده موږ ته د خبرو حق پکی نسته راځه.

بابا دا خبره وکړل او ادی د لاس څخه نیولې د کوټې څخه ووتې او دروازه یې هم بنده کړه، په دی بد حال کې و دی خبری ته حیرانه شوم چې بابا حتا یو ځل دی خبری ته فکر لا ونکړو چې امکان لری جهان په غوسه کی ما ووهی؟ بیا مې زړه وویل هغه تا وهی؟ او ما وویل کاش و مې وهې خو ارام شې، بابا په جهان دومره باوردرلود او بوهیدس چې جهان پر ما لاس نه پورته کوی ځکه یې ورسره یواځې پریخودم!.

د جهان خواته چې اوس لږ ارامه شوی وو ومې کتل، دلاس څخه یې تراوسه وینه راتلل په ډکو سترګو د ژړا ورنږدی شوم او لاس مې ورنه په لاس کې ونیو چې هغه خپل لاس رانه کش کړو او په نیولې غږ یې وویل: ماته لاس مه وه.

د جهان پدی کار ژړا مې زیاته شوه او په سلګیو مې ورته وویل: پخدای قسم که هغه شانتې خبره ویې چې ته فکر کوی؟ پخدای د نکاح ترلو څخه مخکې هغه ورځ چې بابا تاسو ته دسمال درکړو ما هغه بلاک کړو او تراوسه مې نه لیدلې او نه مې هم خبری ورسره کړی قسم پخدای.

جهان خان- د هغه لپاره دی زه رد کولم او راڅخه تختیدلې؟ دهغه هرمونې لپاره؟ په تلوار مې وویل- نه.. نه پخدای د هغه لپاره نه وو.
زما پدی خبره ناساپه د هغه غوسه د کنترول څخه بهر شو، او په غوسه یې زما زنه ونیول او په ګواښ کونکې لهجه یې وویل: دعا کوه چې همدا خبری چې دی کړی، همدونې غول دې خوړلې ویې، قسم درته یادوم، قسم یادوم که خبر سوم د خبرو څخه بغیر کم بل کار دی هم ورسره کړی و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیغرته به یم که دواړه مې خپل په لاسو مړه نکړی،چیری دی دا هرمونې، بی ناموس؟ چیری ژوند کوی؟
په لړزانده غږ مې وویل: د کور آدرس یې ندی راته معلوم.
زما پدی خبری د غوسې څخه یې زه شاته ټیل وهلم او پاسیدې پداسې حال کې چې شاوخوا یې کتل په غوسه یې وویل: کومه دی موبایل دی؟تاته وایم کوم دی هغه لعنتې موبایل دی؟

د هغه پداسې چغو په ژړا مې شروع ورکړل خو هغه په غوسې زما خواته راغې او ویې ویل :دا مظلوم نمای دی بل چاته وکه، وایم کمه دی موبایل دی؟
د هغه په غوسه ناکه او طعنه لرونکې لهجه سترګې مې د اوښکو ډکې شوې او موبایل خواته چې د هغه څنګ ته وو خو هغه د ډیر غوسې څخه ورته پام نه وو، ومې خودو چې په تلوار یې راوخیست کله چې روښانه یې کړو،

نو زما خواته یې ونیو او ویې ویل :قلف یې خلاص کړه د دی څخه مخکې چې مات یې کړم.

په لړزانده لاسونو مې قلف ورته خلاص کړو، د هغه د ګوتو په هر حرکت زما زړه خولې ته راتلو، د موبایل لخوا ډاډمنه وم ځکه پوهیدم چې حسیب سره زما دا شماره نشته او نشې کولې راته مسج وکړی، د هغه حالت ته په تشویش وم، مخ یې د غوسې څخه تک سور شوې وو، په تندې خوله له ورایه ښکاریده، بغیر لدی چې د موبایل څخه سر پورته کړی ویې ویل:

جهان خان- اخرې نمبر ۱۸۹ د چا شماره ده؟ ولې ورته نوم ندی نوشته؟
د جهان پدی خبره مې یو دم رنګ وپریدې اخره کې ۱۸۹ د حسیب اتصالات شماره وه؟ زما د جواب په نه آوریدو هغه خپل سر راپورته کړو او بیرته یې پام موبایل ته کو، او په کراره او ویره ونکې لهجه یې وویل:

جهان خان- اممم پدی څو ورځو کې اته نهه زنګ وهلې درته، خو تا جواب ندی ورکړی، لس مسج یه کړی( د هغه پدی خبره روح مه له تنه جلا شوه، ما حسیب پیژندو او پوهیدم چې سومره د غوسې وقت کې بی ادبه کیږی او بیځایه خبری کوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جهان د څهرې رنګ د هر مسج پر ویلو، د غوسې څخه بدلیدی دومره یې هغه مسجونه پورته ښکته کړل،

چې اخیره کې د ډیر غوسې څخه موبایل د دیوال ووهې او په غوسې زما خواته راغې او په همغه غوسه ناکه لهجه یې وویل: دا هرمونې چشې وایې ستا د چشې عکسونه لری چې اوس وایې نشر کوم یې که رانغلې؟؟ ها هغه بی ناموس سره ستا سرکم عکسونه دی؟ خوله خلاصه که د دی څخه مخکې چې درمات یې کړم.

- په ژړا مې وویل: پ... پخدای مه هیس دسی زما غلط عکس ورسره وی، هغه دروغجن دی دروغ وایې.

جهان خان- عکس نلری ستا؟ که تا دهغه بی شرف سره کوم غلط کار نه و کړی نو ولې دی ځان وژنه کول؟ هاا؟ ماته درواغ مه وایه چې مړه کوم دی .
د هغه خبرو ته مې هیس پام ونکړو، او دی خبری ته فکر ویوړم چې د حسیب سره زما کوم ډول عکس پاتې چې اوس ما وربانډی ویره ویې؟ ما هغه ته هیڅکله داسی غلط عکس نه وو استولې،

بیا د کوم عکسو خبری کول؟ حسیب اصلا زما نوی شماره له کوم ځای پیدا کړی وه؟ چې مسج یې کړی؟ زه پدی فکرونو کې وم چې ناساپه کامل لځایه اوچت شوم! په خلاص سترګو مې وکتل چې جهان ځان پسې پورته کړم او په غوسه یې وویل: راځه هله ماته د هغه بیشرف آدرس راکه که ما د هغه جنازه نه ویې درته پورته کړی بی غیرت به یم، هله راځئه ماته ووایه چیری دی هغه؟

-ما ته د هغه آدرس ندی معلوم پخدای.
جهان خان- کوم پوهنځې کې دا هرمونې غول خوړل، کوم بخش کې وو؟
په لړزانده غږ مې وویل: ا...اقتصاد پوهنځې..
جهان خان- څو یم سمستر؟
-آ..آخری.

پدی خبرو جهان زه شاته تیل وهلم او په غوسه ناکه لهجه یې وویل: د دی بی ناموس نوم چشې دی؟
-ح..حسیب..

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان د حسیب نوم آوریدو وروسته د کوټې دروازې خواته روان شو چې په تلوار وریپسې شوم او ورته و مې ویل: چیرته ځې پدی وقت؟
زما په خبری هغه راوګرځیدی او په یو داسې لهجه چې زما پر وجود یې لړزه راویسته ویې ویل: ځم چې دهغه بیشرف او بې ناموس سر د کابل د دروازی څخه درته وزړه وم.

د هغه پدی خبره په وحشت مې وویل: څ..ه.. څه کار کوی؟
زما پدی شانتې ویریدلې لهجه هغه زما خواته راتاو شو او زما زنه یې دومره کلک ونیول چې د درد څخه یې یو" اخ "مې له خولې ووت خو هغه بغیر لدی چې زما درد ته پام وکړی په غوسه ناکه لهجه وویل: هاا څه وسو؟ د عاشق د مړ کول خبره مې درته وکړل رنګ دی وپریدي! لاس او پښې دی په لړزیدو سوه؟

اممم د هغه د پاره دی ځان مګه نه مړ کوی؟ خو زه دی کار آسانه کوم ولې تنها مرګ غواړی؟ ته دلته ځان مړه که زه به هغه خنزیر درته مړ کم، بیا هغه دنیا کې لیلې مجنون داستان شروع کې، دی دنیا کې تر څو چې زه ژوندی یم ( مخ یې دومره رانږدی کړو چې نفس یې زما پر مخ لګیدو زما سترګو ته یې وکتل او په کلکه لهجه یې وویل: تر څو چې زه ساه باسم زما دی د خدای په خدای قسم وي د هغه بی ناموس په آرمان دی پاته کوم..

ته فکر کوی زه به تا هغه بی ناموس ته ایله کم؟ خو سم په خلاص غوژونو یې وآوره زه جهان خان سدوزی به نه یم بیغرت به یم که اول هغه بی ناموس مړ نکم او بیا په تاا باندی داسې حال راوړم داسې چم دربانډی وکم چې یو دنیا ته پانیات(پند نصیحت درس عبرت) سې او پوی سې ټول چې د جهان خان سدوزی په ناموس او په عزت که سوک ګوته پورته کوې نو ګوته یې ورماته وم او که خبره کوې نو ژبه یې ور پری کوم...

هغه دا خبری وکړل او په غوسه یې زه شاته ټیل وهلم او د کوټې دروازه یې په کله د ځان پسې بند کړه دومره په کلکه چې نږدی و لځایه ووځې، د هغه په ټیل وهلو زه په مات شوی ښیښې د هینداری وغورځیدم او لاس مې وربانډی پری شو، خپل لاس ته مې هیس پام نه و یواځې د جهان خبری مې ذهن کې ګرځیدل او ژړا مې زیاتیده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره هغه حالت کې ناسته وم او ژړلې مې وه او بلخوا د پرې شوی لاس څخه مې دومره وینه تللې وه چې بې هوښه شوی وم، په سر درد مې سترګې خلاصې کړې خو د ډیر دروند والي له لاسه بیرته پټې شوه بیا مې کوښښ وکړو او دا ځل لړ وه توانیدم چې سترګې خلاصې کړم، خپل کوټه کې وم! اول څو ثاني ګنګسه وم خو کرار کرار مې ټول شیان یاد ته راغلل، او سترګې مې د اوښکو ډکې شوې کوټه باکه شوی وه مات شوې ښیښې نور نه ښکاریدی کوټه پاکه پاکیزه وه، خو ماته اوس هم همغسې تیت او پرک معلومیده او جهان مې پکې لیدو چې د ډیر درد او غوسې څخه چغې وهل پدی فکرو مې اوښکې په مخ وبهیدی چې د یو چا نیولې ډډ غږ مې خپل اندې ته وآوریدو!

په وحشت باندی خپل چپ طرف ته وکتل چې جهان خان مې د کړکې خواته په نالې باندی ناست ولیدو!

جهان خان- اممم اوس د خوبو وقت ندی ولاړسه چې ډیر کار لرو.
د هغه پدی خبره اوښکې مې نور هم زیات شوه چې د هغه په ناساپه پاسیدو د ویرې څخه خپل ځای کې لږ پاسیدم چې جهان بغیر لدې چې زما خواته راشې زما د کالو الماری خلاصه کړه او په ګرځیدو شو، ما په حیرت ورته کتل چې هغه زما حجاب راوخیستو او زما خواته یې راختا کړو او په کلکه لتجه یې وویل:

جهان خان- جر( زر) کوه حجاب دی واغونده چې یوځای کار لرو باید ولاړسو.
د هغه پدی خبره مې په ګنګس انداز وروکتل چې زما په نظر هغه نور هم په غوسه شو پداسې حال کې چې زما خواته راتلې ویې ویل: د خبرو حوصله نلرم حجاب دی د انسان د لور په رکم واغونده کنې زه یې په زوره دربانډی اغوندم،

- د هغه پدی خبرو ژړا مې زیاته شوه خو د ځایه پاسیدم ترڅو حجاب واغوندم، زه نباید د هغه څخه اوس د نرمې او جان قربان توقع او امید ولرم، ما ده هغه غرور او غیرت ته تکلیف رسه ولې، خو نه پوهیږم ولې زما زړه غوښتل همغه منربانه جهان ویې چې زما ناز اخلې او زما خبرو ته غوږ نیسې، د لاس درد مې اجازه نه راکول چې د حجاب بل لستونې په لاس کړم چې هغه ځان را ورسه ویې او به تروش تندی هغه زما په لاس کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خپله يې زما حجاب دوکمې بټنې وتړل، د هغه د لاس وينه په لاس يې وچه شوی وه زخم يې زما زړه خرابه وو، خو زما لاس يې تړلي وو؟! پدی حالت کې هم زما په فکر کې وو، يعنی اميد شته چې هغه اوس هم زما سره مينه ولری؟ زه يې د جوړ لاس څخه ونيولم او د کوټې د دروازی په خوا يې ځان پسې کش کړم، چې دهليز کې ادی او بابا مې وليدل، هغوی ته د کتلو څخه حيا راتلل فکر مې کوی جهان به ورته ويلي وي‌يې ټول خبری خو.

د بابا په پوښتنې پوه شوم چې جهان جهان دی نه حسيب..

بابا- دا اوس څه خبره ده چې تاسو دا حال جوړ کړی؟ خيرت خو دی؟ موږ ته هم ووايست.
جهان خان- خيرو خيرت دی معلم صيب بخشه کوه تاسو مې په عذاب کړې، هوسی تر يو ځای وړم لږ کار لرو، بيا که خدای غوښتل ډاکټر ته هم يو وار ځو.

د هغه پدی خبره د ادی او بابا په مخ باندی د آرامتيا څپې راغلي او ادی په خوشحالي وويل: خدای دی خير درکړی زويه دا خو زموږ خبره نه مني دا يو هفته کيږی حالت يې خراب دی خو ډاکټر د تلو څخه انکار کوی.

جهان خان- دا هم ستاسو ډير نازو داسي کړی، په هر حال خدای به خير کړی.
هغه دا خبره وکړل او زه يې د ځان پسې حويلي خواه کش کړم، موټر يې کوڅه کې ولاړ وو، زه يې موټر ته پورته کړم، بايد داسي ووايم چې زه يې موټر ته په زوره ټيله وهلم او خپله هم کينستو او موټر يې روښانه کړو.

نه پوهيدم چې چيرته ځو او د څه لپاره ځو!؟ خو دومره پوهيدمه چې هر خبره که ويې د حسيب باندی اړه لری او هغه منحوس پدی موضوع کی شتون لری، فکر مې کو چې شايد د پوهنتون خواته لاړشو يا هم جهان به د هغه د کور آدرس پيدا کړی ويې او دهغه کور ته به لاړشو، خو کله چې يو ساعت موټرواني وروسته د د کابل د ښهر څخه کرار، کرار، ووتلو زړه مې ويل ښه خبری مخکې ندی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیس مې نه ویل دومره بې انرژی او ګنګسه وم چې خپل مرګ ته تیاره وم، د ځان وژنې لځایه د جهان پر لاسونو مرګ ډیر شرافت لری، هغه هم پداسې حال کې چې ډاډمنه وم که مړه مې کړی د جنازی لمونځ که نور خلک نه ویې خپله یط راباندی ضرور کوی. په همدی فکرو باندی مخ مط د هغه خواته راواړه وو، د اخیر ځل لپاره مې ورته ښه په ځیر، ځیر وروکتل...

په دا یو شیبه کې لکه چې بوډا شوی ویې، څهره یې مات شوی ښکاریده، سترګو سرخې همغسې د وینو پشان وه، د لاس وینه یې یو څه کالې هم په وینو کړی وه، خو هغه بغیر د کوم خبری به تروش تندی موټر چله ویې، د داسې یو انسان په لاس مرګ هم زه ځانته شرافت حسابه وم..

د موټر به دریدو هغه زما خواته په تروش تندی وکتل او په نیولې غږ یې وویل: تا څه ) ښکته شه) بغیر د څه ویلو یو نری مسکا باندې د موټر څخه ښکته شوم، د ښکته کیدو سره سم، یخ شمال مې په بدن ولکیدو او دیخ څخه ولړزیدم، سترګې مې خلاصې کړی او ښه شاوخوا مې وکتل تر هغه ځای چې د سترګو نظر کار کو دښته وه او دښته، د لرې، لرې پوری یو کور او آبادی نه تر سترګو کیدل، آسما وریځ وو لکه چې هغه هم پر ما په غوسه وو چې داسې غړمبیدی..

جهان هم د موټر څخه ښکته شو او د موټر د شا ډالې خواته ولاړو، ا ما ځان سره وییل ضرور غواړی په کوم وسله مې ووژنې چې هغه خوا ولاړی خو د موټر د شا ډالې په خلاصیدو او د هغه شې هو شې موجود په لیدو سترګې مې تراخیره حده خلاصې شوې!..

دا په وینو لت پت چې خوله او لاسون یې تړل شوی آیا حسیب دی؟؟؟
جهان هغه په یو لاس نیولې وو او د هغه موټر تنګ ډالې څخه یې زما خواته راکش کړو او کله چې ماته رانږدی شو نو زما د پښو سره یې په ځمکه ختا کړو چې د هغه ضعیف"اخ "مې تر غوږ شو، لاتراوسه یعنې ژوندی دی؟ مخ یې د ډیر وهلو څخه ځای، ځای وینې وینې او تک شین شوی وو، اغوستلط کالو څخه یې وینه څڅیدل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسیب ځان لږ وښوره ویې او ځان یې پر مخې کړو او پر ملا وغځیدي، د سترګو د خلاصو کوښښ یې وکړو خو دومره د وهلو له لاسه پړسیدلي وه چې نه خلاصیده، جهان په دوه ګامو کې ځان تر حسیب را ورسه ویې او د سر ویښتیانو څخه یې کش کړو او پداسي حال کې چې زه حسیب ته خودلم ویې ویل:

جهان خان- شه ..شه چشي دی ویل خنزیره د موبایل د شا څخه؟ ها؟؟
بیا پداسي حال کې چې د هغه ویښتیان یې نور هم کلک شاته کش کول او د حسیب اخ یې د درد څخه پورته کوی ویې ویل: ها جواب راکه هرموني، چشي دی ویل ..ویل دي هغه میره به دی ګوری او زه به دی ویسم؟! ها دغه دی ویلی وه اوه؟

- جهان د هر خبری په ادا کولو سره د حسیب ویښتیان شاته کش کول چې د هغه د درد څخه ډک چغې پورته کیدل، او عجیبه وه چې د حسیب هر درد څخه ډک چغو باندی زما زړه آرام کیدو، اوس که مړه هم شم نور آرمان په زړه کې نلرم، جهان حسیب په خوله داسي کلک بکوس ورکړو چې د حسیب غاښ ورسره د خولي وپرید او وینه و چې د هغه د خولي څخه په بهیدو سول..

او ما اول ځل د حسیب ژړا او زاری واوریدل چې ویل یط بد مې کړی غول مې خوړلي نور هیڅکله به ماته مزاحمت نکوی، خو د هغه په هر زاری جهان یو لغته ورکول او کنځل به یې ورته کول، په پښو د دریدو توان مې نه درلود هملته په خاورو کیناستلم، او جهان ته مې کتل چې د یو زخمې زمری پشان حسیب را نیولي وو او وهي، دومره یې حسیب ووهي تر دی چې هغه بی هوښه شو کله چې نرر د حسیب اه او ناله بنده شوه، یو اخری لغته بل یې هم ورکړل او زما خواته یې راوکتل ..

د یو زمې زمری نظر ډیر ویرونکې ویې دومره چې تول بدن مې د هغه د نظر څخه ولړزیده هغه په کراره زما خواته راغې، د هغه پداسي لیدو مې اوښکې د سترګو څخه په بهیدو شوه، چې جهان په کرار او نیولي غږ وویل: زه اوس ستا سره څه وکړم؟

د هغه پدی دردناکه لهجه نور مې هم ژړا زور واخیست او په سلګې،سلګې مې وژړل چې هغه زما خواته رانږدی شو زما پشان په هغه خاورو کې کینستې او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



همغه دردناکه لهجه یې وویل: ته ماته لاره وښه یه، زه اوس ستا سره څه وکم؟

ما د هغه سړی مات نشوه لیدلې کوم چې په دی څو وقتو کې ماته یواځې خپل د غیرت او مینې مثال راکړی وو، ما د جهان خان سدوزی دا رکم د ژړا څخه ډک سترګې او درد ناکه لهجه نشوه لیدلې، ورنږدی شوم او په داسې حال کې چې د هغه مخ مې خپل په لړزانده لاسونو نیولو په سل زحمته مې ورته وویل:

-ماته وګوره جهان، هر کار ... هرکار چې تا آرام کوی او د دی حالت څخه دی باسې هغه وکه، زما په مړه کولو که زړه دی آرامیږی او سکون ته رسیږی، زما وینه دی تاته حلاله ویې زه خپل وینه تا بخښم ما مړه کړه،خو خیر دی دسې مه کوه ځان دسې مه پعذابه وه ..

زما په خبرو جهان حال نور هم خراب شو او په همغه لهجه یې وویل: ستا او ددغه هرمونې مرګ ما نه آرامه ویې خو غرور او غیرت مې پر ځای کوی، خو زه هغه غرور او عزت څه وکم کله چې ( خپل په زړه یې وار وکو او په همغه دردناکه لهجه یې وویل: کله چې دا.. دا نارمه او بی کراره دی کله چې( خپل سر ووهی او ویې ویل: کله چې دلته جنګ دی او زر فکره دی، ستا مرګ یواځې د خلکو خوله به بنده کړی خو زما زړه به سوک ستا لعنتې څخه صبر کړی ها؟!

د هغه پدی خبرو زما ژړا نور هم زیات شوه، خدایه ما څه وکړل خدایه ما ددی سړی په حق کې څومره بد وکړل څومره ظلم مې وکړو، خدایه ته ورته ارامش وکړه خیر دی دغه یو احسان پر ما وکړه او جهان آرامه کړه. د هغه دردمند سترګو ته مې دکتلو توان نه درلود د هغه سر مې خپل غیږ کې ونیو او هغه هم کوم مقاومت ونکړو، او زما غیږ کې سر کیخود او ما ورته وویل :

-ناپوه وم، جاهل وم نادانه وم بیعقله وم، نه پوهیدم دا چغالان مې نه پیژندل په دوه خبرو ختا وتم، خو خدای په سر شاهید دی، کله چې ته راغلې تازه ما مینه درک کړه او پر تا مینه شوم..( زما پدی لفظ هغه په حیرت خپل سر زما د غیږ څخه پورته کړی او ویې ویل: یعن..یعنی ته پدی ( حسیب ته چې بغیر د حرکت په خاور او وینو کې لت پت پروت وو اشاره وکړل او یې ویل: یعنی ته په هغه مینه نه یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نه پشان مي ورته سر وخوځه ویې او ومي ویل: ما درته وویل چې د بابا د" هو "د جواب سره ما دی بلاک کړو او نور مي ورته هیس فکر لا ونکړو.

زما پدی خبره جهان لځایه پاسیدو او ما ورپسي وکتل چې هغه د عادت مطابق د فکر کولو لپاره کرار کرار په قدم وهلو شو، لږ اخوا دیخوا وکرځیدو او بیا د حسیب خواته ولاړی یو لغته یې ووهې او ورته ویې ویل: اووو رزیله ولاړسه

خو حسیب بی هوښه و او هیس حرکت یط ونکړو چې جهان بیا زما خواته راغلو، او پداسي حال کې چې زما مخکي خپل ګنډي په ځمکه وهل او کینستې ویې ویل: ما درته ویلي وه چې زه ژوندی یم او سه اخلم خپل د غیرت او غرور په سر که نن زه تا ژوندی پریژدم، نو په کم خبری چې ما ژوند کوی او ساه مي اخیستل هغه لمینځه ځې او مات کیژی، خو... خو که تا نن مړه کړم نو یواځې ستا جنازه نده بلکې زما د روح او میني جنازه هم پورته کیژی..

ما یواځې ورته غوږ نیولي و دا دهغه پریکړه وه، د هغه تصمیم وو او زه د هغه په هر پریکړی باندی راضي وم، که هغه مرګ وو او که ژوند. جهان خپل به ویښتیانو کې لاس تیر کړو او ناساپه یې زه د لاس څخه کش کړم او د موټر خواته یې کش کړم؟
او پداسي حال کې چې حرکت یې کو اخیر نظر یې حسیب ته چې په خاور کې پروت وو وکړو او ویې ویل: که ژوند یې پدی دنیا وو نو پاتې به سې کنې د چغالانو نصیب دی سی...

- او هو جهان خان سدوزی خپل د غرور او وجدان په قرباني کولو سره، یواځې زما ژوند نه بلکې د بابا عزت د ادی هیلي زما آرمانونه او خپل زړه هو هغه خپل د غرور په قرباني کولو باندی د یو نفر نه بلکې د یو کورني ژوند او عزت وژغوری، هو جهان خان سدوزی ګرګ آشتي وکړل، هغه خپل د غرور هغه چې ده ورباندی ساه اخیستل په قرباني کولو ګرګ آشتي وکړل....

وايي په ژمي کې چې کله لېوان ښکار پیدا نکړي او سخت وږي شي، نو بیا ټول یو ځای کې سره راټول شي! یوه ګرده دائِره جوړه کړي او یو بل ته په ننداره شي. څنګه چې یوه لېوه د کمزورتیا له امله وغورځېږي، نو پاتې ټول لېوان پرې حمله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي او پاک يې سره وخوري، دې کار ته په فارسي کې گُرگِ آشتي وايي.

د گرګ آشتې ناول پای..
ليکوال: خواجه زی...

زما د نور داسې ښايسته ناولو د ويلو لپاره دا چينل جوين کړی، او ملګرو د ګرګ آشتې ناول ی بل جلد هم دی چې د همدی په ادامه ليکل شوې په نوم د"شهري جنې په اطرافو کې "چې هغه به هم په همدی چينل کې نشر شی انشاءالله

https://t.me/shuhab00

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**